د افغانستان د آزاد او عادلانه ټولټاکنو بنیاد
بنیاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان
Free&Fair Election Foundation of Afghanistan

**دافغانستان د ازاد اوعادلانه ټولټاکنوبنسټ(فیفا)**

**دڅارنې وروستی راپور**

**د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال ټاکنې**

**دافغانستان دازاد اوعادلانه ټولټاکنوبنسټ(فیفا)**

**نوملړ**

**سریزه .......... 4**
**دمشر پیغام .......... 4**
**مننه .......... 5**
**عبارتونه او مخففات .......... 6**
**دراپورلنډیز .......... 8**
**وړاندیزونه .......... 11**
**لمړۍ برخه : سریزه .......... 14**
**دفیفا سازمان ته یوه لنډه کتنه .......... 14**
**د۲۰۰۴ (۱۳۸۳/۱۳۸۴) کال څخه تر۲۰۰۹ (۱۳۸۸/۱۳۸۷) کاله دفیفا کړنې .......... 15**
**د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال پرټاکنو دڅارنی ماموریت .......... 16**
**دوهمه برخه : قانونی تحلیل .......... 19**
**قانونی سندونه .......... 19**
**مقننه قوه .......... 20**
**ټاکنیز نظام .......... 22**
**دټاکلو حق .......... 23**
**ټاکنیزسازمانونه .......... 24**
**درای ورکوونکو نوم لیکنه .......... 25**
**سیاسی ګوندونه اونوماندان .......... 27**
**یوشان چال چلنداورسینو ته لاسرسی .......... 28**
**دټاکنیزوسیالیوتمویل اولګښتونه .......... 29**
**کتونکي(څارونکي) .......... 30**
**درایي ورکولوډول .......... 31**
**درایوپه شمېرنه اوچوکاټبندۍ کې روڼتیا .......... 32**
**مناقشی اودټاکنیزوحقونوترلاسه کول .......... 33**
**دریمه برخه : د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنو فرصتونه .......... 34**
**دټاکنیزواصلاحاتوپه هکله داجماع وړ،وړاندیزونو نه پلی کېدل .......... 34**
**۱جدول:۲۰۰۹(۱۳۸۷/۱۳۸۸)کال داجماع وړ وړاندیزونه په۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې دپایلوپه پرتله .......... 35**
**په سیاست اوټاکنوکې دافغاني میرمنو حضور .......... 40**
**پرټاکنوڅارنه اوپه ټاکنوکې همغږۍ .......... 43**
**امنیتی چاپیریال .......... 45**
**څلورمه برخه : دټاکنو له ورځي څخه دمخه څارنه .......... 48**
**نوماندۍ اودنوماندانو نوم لیکنه .......... 48**
**۲جدول:۲۰۰۵ (۱۳۸۳/۱۳۸۴)کال او ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دپارلمانی ټاکنوپه بهیرکې دښځینه**
**نوماندانوشمېردولایت له پلوه .......... 51**
**دسیاسی ګوندونو نوم لیکنه (ثبت) .......... 53**
**دنوماندانوداعتراض دوره .......... 54**
**۳جدول:داعتراض د دورې په بهیر کې دفیفادکتونکوله خواړپوټ شوی له ګواښونوډکې شبنامی اوتیلفونی**
**اړیکې .......... 56**
**دنوماندانودواک څېړل .......... 59**
**دټاکنیزوسیالیو دوره .......... 62**

4 جدول: دنوماندانو،کمپاین کوونکو،رای ورکوونکواوعاموخلکوپه خلاف ګواښونه چې د ۲۰۱۰کال دجون د۲۳(۱۳۸۹دسرطان۲) او د ۲۰۱۰دجولای د۱۵(۱۳۸۹دسرطان۲۴) ترمنځ موده کې دفیفا دکتونکو(څارونکو)له خوارپوټ شوی دی ............ 66
پنځمه برخـــــه: دټاکنوورځ اودرایو ډلبندی ............ 75
مـــوندنی ............ 76
دمعلوماتواوشواهدووړاندی کول ............ 82
د(Tallying)پلی کول اودرایوبیاشمیرنه ............ 83
شپږمه برخه : له ټاکنووروسته شخړی ............ 84
دټاکنوځانګړی محکمه ............ 84
اومه برخه : له ټاکنوڅخه وروسته زمینه ............ 87
نوی ولسی جرګه ( پارلمان) ............ 87
په سیاسی چاپیریال دټاکنواغېزی ............ 89
ضمیمی ............ 92
د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دڅارنی دپوښښ نقشه ............ 92
دهمکاروسازمانونونوملړ ............ 95
دټاکنوپه ورځ دکتونکې دمعلوماتونوملړ ............ 97

**سریزه**

***دمشر پیـــغـــام***

دتیرکال ټاکنی په افغانستان کې تراوسه ترټولو ستونزمنی ټاکنی وې.دټاکنیزو سیالیو پړاو له زیات تاوتریخوالی ،ډاراچونی اودرغلیو سره مل ؤ. ددولت مخالفو ډلو اوواکدارو جنګ سالارانوپه منظمه توګه رای ورکوونکي او دټاکنوکارکوونکي ترویرې اوګواښ لاندی راوستل ، ددی ټولوسره سره هغو ډلو او افرادو چې کوشش یې کاوه ترڅوپه ډېرو برخو کې ټاکنی وځنډوی په خپل دی کارکې پاتی راغلل ددی ټولوستونزو په شتون سره افغانانو دموکراسی ته درسیدو په لار کې خپلی علاقی اوهیلی څرګندی کړی .

ځوانو نوماندانود موبایل تیلفونونودامکاناتونه په ګټې اخیستنی سره، اودغه راز په سیمه کې دټاکنیزو سیالیو اوعمومی مناظرود لاری له رای ورکوونکو سره اړیکي ټینګی کړې. په سلګونو ښځو له راز راز ځورونو اوازار سره مقابله وکړه .دټاکنو په زرګونوکارکوونکو کله چې سهار له خوبه راویښ شول دخپلو کورونو په دروازوبه یې له ګواښونوڅخه ډکې شب نامی ولیدی خوبیاهم دوی خپل کار ته دوام ورکړ. په هره اونی کې ، دفیفا دکتونکو په شمول نادولتی کتونکو(مشاهدینو) ددولتی امکاناتو څخه دګټې اخیستنی اودملکي کسانو پرضد دجرمونو راپورونه ورکول. خوبیاهم ددی مخ په زیاتیدونکي تاو تریخوالی سره سره دوی خپلو مهمو دندو ته دوام ورکړ.

د ۲۰۱۰ کال د سپتمبرپه ۱۸ نیټه (۲۷ سنبلی ۱۳۸۹)، د افغانستان خلک ددویم پارلمان دټاکلو لپاره درایو صندقونو ته لاړل،دافغانستان خلکو دخپلو استازو دټاکلو لپاره ډېرې ستونزی وګاللی له لیری ځایونو څخه راغلل په اوږدو قطارونو کې ودریدل او خپلی رایې یې وکارولی چې ځینو په دی لاره کې سرښندنی وکړې او خپل ځانونه یې له لاسه ورکړل.

فیفا له هغه لسګونو کورنیوسره چې په ټاکنوکې دبرخی اخیستنی له امله یې دکورنی غړی له لاسه ورکړي خپل ملاتړڅرګندوی اوداغوښتنه کووچې ددغه سیاسی تاوتریخوالی مرتکبین دې محکمی ته راښکل شی.

دافغانانونظر دهیواد دراتلونکي په هکله ډېرڅرګند دی . څرنګه چې یوافغان په خپل ولایت کې تېرکال درایې ورکوونکو په هکله په خپلو څرګندونوکې چې له فیفا سره یې کولی داسی وویل : «که چېری ښې ټاکنې ولرو ، نوښه ټولنه به ولرو اوزما راتلونکې دداسی ټولنی پوری تړلې ده ».

دافغانستان دولت اودهغوی نړیوال همکاران له دی نه وروسته له دغو دو و بیلابیلو لارو څخه ، همدا اوس باید یوه غوره اوپرمخ بوزی . هغوی کولای شی دانتخاباتوداوسنی نظام اصلاح کول سرله همدا اوسه پیل کړي اویاهم هغوی په افغانستان کې ترهغی پولی پوری دترینګرې دموکراسی دماتیدوشاهدان واوسی ترهغه چې داخرابی به دټاکنو دراتلونکي پړاو له پیل څخه وړاندی نه جبرانیدونکي وي، موږله ټولو خواوڅخه غواړو مخکي له دی نه چې کار له کاره تیر شی لمړی لاره دی غوره کړي.

په پای کې، زه دا راپورهغی نارینه اوښځو ته ډالی کوم چا چې خپل ځانونه په افغانستان کې ددموکراسی دبریالیتوب په لاره کې فدا کړي دی ، دغه راز زه دخپل ټیم په استازیتوب دغه راپور له اووه زره څخه زیاتو هغی زړورو افغانانوته چې شپه او ورځ یې په هیوادکي د دموکراسی په بنسټیزولو کې سخته هڅه اوهاند وکړ، ډالی کوم.

نادر نادری
دافغانستان دازاد اوعادلانه ټاکنود بنسټ (فیفا) مشر
۲۰۱۱ اپریل (حمل/ثور ۱۳۹۰)
کابل، افغانستان

### *مننه*

په سرکې ، فیفا د المان او ډنمارک له دولتونو څخه دهغی سخاوتمندانه مرستی په خاطر مننه کوی کومه چې فیفا یې ددی جوګه کړه ترڅود ۲۰۱۰ کال (۱۳۸۹)پرټاکنو دڅارنی ماموریت پلی کړي او دغه رازددغی پروژی په بهير اوپرمختګ کې ددوی له زغم او هڅونو(تشویق)څخه مننه .

همدا شان فیفا داسیا بنسټ (TAF) اودازادو ټاکنو اسيايي شبکې (ANFREL) څخه دهغی مرستی له امله چې دکتونکې (مشاهد) دماموريت دلاربنود په جوړونه کې يې کړی وه، دغه راز له دموکراتيک ملی انستيتيوت (NDI) څخه چې په ولسواليوکې يې دفيفا داوږدمهاله کتونکو(مشاهدينو) په روزنه اودهغوی دظرفيت په لوړولو کې مرسته کړی قدردانی کوی ، همداشان فيفا دټاکنود کارپوهانودهمغږی ډلې (ESCG) له غړو څخه مننه کوی .

***عبارتونه او مخففات***

| | |
|---|---|
| TAF: | داسیا بنسټ (بنیاد) |
| AGO: | لوی څارنوالی |
| AIHRC: | دافغانستان دبشری حقونوخپلواک کمیسیون |
| ANFREL: | دازادو ټاکنو اسیایي بنسټ |
| ANSF: | دافغانستان ملی امنیتی ځواکونه |
| ANSO: | دافغانستان دنادولتی سازمانونودامنیت اداره |
| AYNSO: | دافغانستان دځوانانوملی اجتماعی سازمان |
| CEDAW: | دښځو په وړاندی دهر راز تبعیض دلیری کولو کنوانسیون |
| ECC: | دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون |
| EU: | اروپایي اتحادیه |
| DDR: | بی وسلی کول، ناپوځی کول اوبیا ادغامول |
| DI: | د نړیوالې دموکراسی سازمان |
| DIAG: | دناقانونه وسله والو ډلو انحلال |
| EMC: | دټاکنو درسنیو کمیسیون |
| ESCG: | دټاکنوپه چاروکې دبرلاسوکارکوونکودهمغږی ډله |
| FEFA: | دافغانستان دازادو اوعادلانه ټولټاکنوبنسټ |
| ICCPR: | دمدنی اوسیاسی حقونو نړیوال میثاق |
| IEC: | دټاکنو خپلواک کمیسیون |
| IED: | تعبیه شوی چاودیدونکې وسیله |
| IFES: | دټاکنیزو نظامونو نړیوال بنسټ |
| IRI: | جمهوری غوښتونکې نړیوال انستیتوت |
| ISAF: | دامنیتی ملګرتیا نړیوال ځواک |
| JEMB: | دانتخاباتو دسمون ګډ دفتر |
| LDI: | دسیمه ایزی دفاع ابتکارات |
| LTO: | اوږدمهالی کتونکې(مشاهد) |
| MAS: | دافغانستان دخویندوحرکت |
| مشرانو جرګه: | سنا مجلس |
| MoJ: | دعدلیې وزارت |
| MP: | دپارلمان استازی |
| NDI: | ملی دموکراتیک انستیتیوت |
| OSCE: | د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان |
| PECC: | دټاکنیزو شکایتونو ولایتی کمیسیونونه |
| RTA: | دافغانستان راډیو تلویزیون |
| SNTV: | منفرده لیږد نه منونکې رایه |
| SRSG: | دملګروملتونو دسازمان دمنشی ځانګړې استازې |
| STO: | لنډمهاله کتونکې (مشاهد) |
| TEB: | ځانګړې خریطه (هغه خریطه چې په هغی کې لاس وهنه دتشخیص وړده .) |
| UCSD: | په کالیفورنیا کې د سان دیه ګو پوهنتون |
| UDHR: | دبشر دحقوقو نړیواله اعلامیه |
| UNAMA: | په افغانستان کې دملګرو ملتونودسازمان مرستندویه ماموریت |

| | |
|---|---|
| UNIFEM: | له ښځو څخه دملګروملتونو دسازمان دملاتړصندوق |
| VC: | د واک دځېړنی کمیسیون |
| ولسی جرګه: | ولسی جرګه |

**دراپــورلـــنـــډيــز**

دافغانستان د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال پارلمانی ټولټاکنوفیفا ته د ملی څارنی دڅلورم ماموریت لپاره لار هواره کړه. دټاکنودبهیرپه ټولو پړاوونو کې دنوملیکنی څخه نیولی بیا د نوی پارلمان دکار ترپیلیدو پوری،دفیفا دڅارنی دماموریت راپورونو هغی نواقصو ته چې دانتخاباتو په نظام کې یې ژوری ریښی درلودی ، پاملرنه راجلب کړه اوپه دغه نظام کې یې په پراخه اوفوری اصلاحاتو ټاکېد وکړ.- فیفـا له ټولوچاروا کوڅخه غواړي ترڅو دغه اصلاحات په رښتینی ډول له ځنډ پرته اوژرترژره پیل کړي .

د۲۰۱۰ کال (۱۳۸۹)ټاکنی په افغانستان کې ترټولو دننګونو ډکې ټاکنی وې . وسله والو شخړو اومخ په زیاتیدونکې ټاکنیزتاوتریخوالی دفیفا دسل ګونواوړ.دمهاله کتونکو او دزرګونو لنډمهاله کتونکو کار دهېواد په ډېرو برخو کې له خطر سره مخ کړ. که څه هم دهیواد په جنوب کې دامنیتی حالاتو دښه کېدوپه موخه دپراخه پوځی عملیاتوپه وجه ټاکني دمی له میاشتی(ثور/جوزا) څخه دسپتمبر میاشتی (سنبله/میزان) ته وځنډیدی ، خو دهېوادامنیتی حالات په منی کې د اوړی دلمړیو په پرتله ډېرخراب وو.دټاکنو دخپلواک کمیسیون اودټاکنیزو شکایتونو دکمیسیون اداری کمزورتیاوو او ناکامیوو د ټاکنو پربهیر ترټولو بده اغېزه وکړه.

دټاکنو دنوماندانودواکونو دځېړلو دبهیر په ټپه دریدل د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال په ټاکنو کې ترټولو لمړنۍ اوډېره جدی ناکامی وه . دټاکنو دقانون سره سم ، دواک دځېړلو کمیسیون چې مشری یې دټاکنو خپلواک کمیسیون کوله اوغړي یې دامنیتی چارو دوزارتونو استازی وو ،دا دنده درلوده ترڅود نوماندانو واکونه، دناقانونه وسله والوډلوسره دهغوی داړیکود درلودلو یا نه درلودلو له نظره وڅېړي. ډېر دتاسف اوخواشینۍ ځای دی چې لوموړی کمیسیون خپلی دندی په غیرمعیاری ډول اونه روښوالی سره سرته ورسولی چې دنوماندانوپرسیاسی حقوقو یې اغېزه وکړه اوزیات شمېرنامتو ټوپک سالاران یې د نوماندانو په نوملړکې راوستل. دټولو ۲۵۰۰ نوماندانو څخه چې ځانونه یې ولسي جرګي ته نوماند کړی وو ، یواځی ۳۶تنه بی واکه (ردصلاحیت) شول چې دومره لږشمېر دداسی یوهېواد لپاره چې څلورلسیزی په وسله وال کړکېچ کې راګیر دی دباوروړ نده . دنوماندانو دواکونودځېړنی پربهیردفیفا څارنه داپه ډاګه کوی ، کوم متهم نوماندان چې شمېریې څه نا څه لس تنوبی ګناه کسانو ته رسیږی ، دقانونی پړاوونو دتېرولو څخه محروم شوی ، دهغوی دبی واکه کولو(ردصلاحیت) معیارونه پټ وساتل شو اوپه دی برخه کې دبشری حقونودډلو دخپلواکې څېړنی اولټون مخه ونیول شوه .

درای ورکوونکو نوملیکنه یوځل بیا په ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال کې وشوه .دفیفا دڅارنی دراپورونو له مخی ، دټاکنودبهیرپه دی پړاوکې دټاکنودخپلواک کمیسیون مرکزونودبل هر وخت نه ښه کارکوونکې درلودل. لدی سره ، دټاکنو خپلواک کمیسیون لاهم تراوسه په دقیقه توګه درای ورکوونکو دنوملیکنی څخه برخمن ندی.دولایتونو په مراکزو کې درایې ورکوونکو دنوملیکنی په اړه ددی کمیسیون تصمیم ددی باعث شو چې په کلیوالو سیموکې ښځو اونورو رایې ورکوونکو ونشو کولای نوملیکنه وکړي. همدارنګه، ښځو ته ددوهم ځل لپاره دهغوی دعکس دلګولونه پرته درایې ورکونی دکارتونو وېشل ددی سبب شو ترڅو دټاکنو په ورځ دښځو له کارتونوڅخه ناوړه ګټه واخیستل شي .

ټاکنیزو نیمګړتیاوو پرښځوبده اغېزه وکړه. دټاکنو خپلواک کمیسیون اودغه رازدټاکنیزو شکایتونو کمیسیون پدی ونه توانیدل ترڅودټاکنو بهیرته دښځو دلاسرسۍ په موخه په پوره شمېر ښځینه کارکوونکې وګماری . دهیواد په ډېری برخو کې دښځینه کارکوونکو کموالې دټاکنودخپلواک کمیسیون په کارکې داداري خنډونو باعث شو، اودا په داسی حال کې وه چې ښځو په بی ساری شمېرسره د۲۰۱۰(۱۳۸۹)کال په ټاکنوکې ځانونه نوماند کړی وو . دی کارداعتراض دبهیر په پړاو کې ښځی دټاکنیزوشکایتونو کمیسیون ته دشکایتونو دوړاندی کولونه زړه تورنی کړی. په عین زمان کې، دښځینه نوماندانوپه خلاف خطرناکې پروپاګنډی اوتبلیغات ،ددوی دټاکنیزو رقیبانو اوځینومذهبی روحانینو له خوا دجنسی او مذهبی کمزورتیاوودتهاماتو په شمول اوپه رسنیو کې دهغوی نشرول ، څنګه چې

لازمه وه دټاکنیزو سازمانونو لخواپری غورونشو، او داهغه سازمانونه وو چې دټاکنیزو تیروتنو دڅېړلواو مجازاتو واک یې په غاړه و .

له پیل نه ترپایه، دیاغی ډلوحملو ، دټاکنوپه اړه په منظمه توگه دملکي وگړو ارعاب ، په خلکو باندی دسیمه یېزو دلالانواوټوپکوالوتپل او دهېواد په سهیل اوختیځ کې دپوځی عملیاتو له امله تاوتریخوالی دټاکنو بهیرزیانمن کړ . دفیفا ولایتی همغږی کوونکو، دگوابنونو څخه دډکوشب نامو په شمول په پراخه توگه دملکي خلکود ارعاب ، په ټاکنو کې دگډون کوونکوپه خلاف دځینوراډیوگانوگوابنمنو خپرونواو دغه راز دټاکنېزو سیالیو کارکوونکو اونوماندانو په خاصه توگه بنځوته دټیلفوني گوابنونوپه اړه راپورونه ورکړل. همدارنگه سیمه یېزوواکمنوپه ټاکنو کې دلاس وهنی لپاره له ارعاب نه دیوی حربی په توگه کار واخیست . اودا کار په هغو سیمو کې چې د زور او واک خاوندانو کلیوال خلک په زور اړایستل ترڅوددوی اړوند نوماند ته رایه ورکړی ، په شخړو بدل شو .

داوړی په میاشتو کې دسپتمبردمیاشتی د ۱۸ (دسنبلی۲۷مه) دټاکنو نه وړاندی سړی تښتونواو وژنو ، که څه هم دگوابنونو په پرتله یې شمېرکم و،د ټاکنیزو سیالیوپربهیر سیوری غوړولی و . په هغو حملو کې چې دری تنه نوماندان پکې ترور شول په لسگونو ملکي کسان ټپی شول. لړترلږه ۱۱ تنه کمپاینران د ټاکنوپه بهیر کې دگډون له امله ووژل شول . زورواکانو او یاغی ډلو دټاکنو کاروونکې اود نوماندانو خپلوان یرغمل کول . لوړپوړو چاروکو ټاکنیزو گوابنونوته په کراره اوځنډځواب ووایه اوپه ضعیفه توگه یې خپل ملاتړ څرگند کړ.

دسپتمبرپه ۱۸ (دسنبلی په ۲۷مه) نیټه دهېواد په ۳۴ ولایتونوکې دفیفا نژدی ۷۰۰۰ کتونکو (۶۶۰۰ لنډمهاله کتونکو او ۴۰۰اوږد مهاله کتونکو) درایې ورکونی په ۳۵۳۸ مرکزونوکې حضور درلود. دغه کتونکې (مشاهدین) دټاکنو دورځی له پیله لږڅه وړاندی د رایې ورکونی دمرکزونو دلمړنیو شرایطو دارزونی لپاره دغی مرکزونوته ورسیدل اودرایې ورکونی اورایې شمېرنی په بهیر کې یې خپلو څارنوته دوام ورکړ . کتونکو دټاکنوپه ورځ په مفصله توگه نوملړونه بشپړکړل اوهغه یې دفیفا دراپور ورکونی د زنځیری سیستم سره سم دفیفا نوروچاروکوته رپوټ کړل . له ټاکنو څخه په وروسته اونۍ کې ، دغه نوملړونه په کابل کې دفیفا مرکزی دفتر ته راوړل شوو چې بیا فیفا دغه راوړنې اومعلومات دکالیفورنیا دسان دیه گو پوهنتون په مرسته تجزیه او تحلیل کړل .

دفیفا ترڅارنی لاندی۸۵% سلنه درایې ورکونی مرکزونو په خپل ټاکل شوی وخت سره په کار پیل وکړ . یواځی په ۳ ولایتونو کې چې ډېر نا امنه وو ، ترنیمایې زیات دفیفا ترڅارنی لاندی د رایې ورکونی مرکزونه په ځنډسره پرانیستل شوو.په ټول هېوادکې دفیفا ترڅارنی لاندی په ۱۲ % سلنه درایې ورکونی مرکزونو کې درایې ورکونی څخه مخ نیوې ولیدل شو . کتونکو دډاراچونی ، دکم عمره کسانو له خوا درایې ورکونه ، دډله یېزه اودټولی کورنۍ له خوا رایه ورکونه او د هغی اشخاصو چې درایې ورکونی وړ نه وو د رای ورکونه په ترتیب سره۱۵، ۲۹، ۲۴او ۱۷% درایې ورکونې په مرکزونوکې خبر ورکړ. دڅارنی لاندی په ۳۶ % درایې ورکونی مرکزونوکې د۱۰۰ مترو په فاصله کې تبلیغاتی توکې وموندل شول چې داکار دټاکنود قوانینو اومقرراتو سره په ټکر کې دی . دفیفا ترڅارنی لاندی د رایې ورکونی په ټولو مرکزونو کې کتونکو (مشاهدینو) خبر ورکړچې دټاکنو دخپلواک کمیسیون کارکوونکې دټولو ضروری توکو او امکاناتو درلودونکې نه وو . دڅارنی لاندی په ۵۹% سلنه درایې ورکونی مرکزونو کې درایې ورکوونکو له گوتو څخه رنگ پاکېده ، په داسی حال کې چې له دغی رنگ څخه دبیا رایې ورکونی دمخ نیوی لپاره گټه اخیستل کېده .

دټاکنو دورځی دسلگونو بی نظمیو دڅېړلو وروسته ، فیفا دشواهدو اومعلوماتو بستی دټاکنو خپلواک کمیسیون ته دڅېړلو اوغور لپاره وړاندی کړې . په ټولیزه توگه په۳۱ ولایتونو کې فیفا د ۸۹۰ ډېروجدی قضیوپه اړه دواړو ټاکنیزو نهادونوته شواهد ورکړل . ددی قضیو ډېرې برخه د رایو دصندقونو دډکولو او د رایې ورکوونکو د ارعاب په باب وې . فیفا دټاکنیزوشکایتونو کمیسیون ته دټاکنو په ورځ دبی نظمیو په هکله تصویری او ویدیویې شواهدو څخه ډکې ۱۳ سی دی گانی وړاندی کړې .

دبايلونکو نوماندانو دځومياشتوعمومی اعتراض نه پس اودقانونی شخړوڅخه وروسته چې ځيني يې ددی راپور ترليکلو پوری لاهم په ناحله توګه پاتی دی ، نوې پارلمان(ولسي جرګي ) د۲۰۱۱کال دجنوری مياشتی په وروستيو کې(جدی/دلو ۱۳۸۹) خپل کار پيل کړ . که څه هم له ټولټاکنو څخه وروسته دسياسی کړکيچ دلوړېدلو نه وړاندوينه لازمی او ضروری ده ، خو د نوی پارلمان پېلېدلو(افتتاح) د ټاکنو نيمګړتياوې جبران نکړی .
د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال ټاکنو درای ورکوونکو لوږې ډلي ناخوښه کړې او دمقننه قوې ، اجرايېه قوې او قضايېه قوې ترمنځ يې راتلونکو اختلافونو ته لاره پرانيسته . دڅارنی ددې وروستی راپورپه خپرولو سره ، اوس فيفا دټاکنيز نظام په بيړه اوعاجله توګه اصلاح کې خپل رول او دمدنی ټولنی رول ته ځير ده .

که غواړو چې په افغانستان کې دا ترينګړی ډيموکراسی په راتلونکو ټولټاکنو کې مخ په وړاندی لاړه شی ، ټاکنيزسازمانونه بايد خپلواک اوسی او د ټولټاکنو دخپلواک کميسيون د غړو اودغه شان دټاکنيزو شکايتونو دکميسيون دغړوټاکل بايد مشورتي وي . دټولټاکنو دنوماندانو واکونه بايدپه داسی شان وڅېړل شی ترڅو دنوماندانومدنی اوسياسی حقونه خوندی پاتی شی اوپه دی حال کې ټوپک سالاران دنوماندانو له نوملړ څخه وباسي . د قانون پلی کوونکي سازمانونه بايد په پوره بی طرفی سره له هغو کسانو څخه چې ترګواښ لاندی راځی ، ملاتړوکړی او په جدی توګه له درغليو سره مقابله وکړي .
اوسنی ټاکنيزنظام بايد يو داسی سيستم ته واوړی چې په هغه کې د نه لېږديدونکي منفردی رايي سيستم، ګوندی سيستم ته لاره هواروی . سياسی لوبغاړی بايد دټولټاکنو په بهيرکې دښځينه کارکوونکو ګمارل په خپلو لمړيتوبونو کې راولی او دټولټاکنو ټولو پړاوونو ته دښځو لاس رسی تامين کړي . دا يوازی څه ناڅه هغه اړين بدلونونه اواصلاحات دی چې په هېواد کې د ډيموکراسی دپلی کېدو په لار کې دخنډونو مخه نيسی . اصلاحات بايد همدا اوس پيل شی او مدنی ټولنه بايد سر له لمړی ورځی په هغی کې ونډه ولری .

***ورانديزونه***

**مقننه قوې ته**

***فيفا له ملی شوراڅخه غوښتنه کوی چې :***

- دټولټاکنو دراتلونکي پړاو څخه وړاندی دی پراخ ټاکنيز اصلاحات رامنځ ته کړي ، دټولټاکنو پرقانون دی په ټوليزه توگه بيا کتنه وکړي او په دې اړه دې دغه لاندی مواردو ته دخپل کار په لمړيتوب کې ځای ورکړي :
  - o د لېږد نه منونکي منفرده رايي د سيستم پرځای ديو داسی سيستم رامنځ ته کول چې په هغی کې دلېږد نه منونکي منفرده رايي سيستم د دوو ټولټاکنو ترمنځ د گوندی سيستم سره د يوځای کولو په لور بيايي .
  - o دنوماندانو دواکونو دځېړلوپه بهير کې بدلون راوستل او دواکونو دڅېړنی دکميسيون دغړو دشمېرپراخيدل په دی موخه چې دمدنی ټولنی استازی اود بشری حقوقو خپلواک کميسيون په هغه کې برخه ولری .
  - o دټاکنيزو سازمانونودواکونو اواختياراتو واضيح کول او ددغی سازمانونو خپل منځی او دنورودولتی سازمانونو سره اړيکې .
  - o دولسواليو په کچه دټاکنيزو حوزو د حدودو ټاکل .
  - o په ټاکنو کې دسياسی گوندونودملی مشارکت په لار کې دناروا خنډونو لېری کول .
- ديوه دايمی سازمان په توگه دټاکنيزو شکايتونو دکميسيون درامنځ ته کېدو څخه چې په دايمي توگه فعال اوسي ، ملاتړوکړي .او دټولټاکنو دخپلواک کميسيون اودټاکنيزو شکايتونو دغړو په ټاکلو کې دی دمشورتی بهېرڅخه ملاتړوکړي .

**دولت ته**

***فيفا دافغانستان له اسلامی جمهوری دولت څخه غوښتنه لری ترڅو :***

- دپراخه ټاکنيزو اصلاحاتوڅخه دی ملاتړوکړي .
- د ټاکنودځانگړی محکمی دفوری ړنگولوڅخه دی ملاتړوکړی .
- د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټولټاکنوناراضه خواوی دی وهڅوی ترڅودهغوی په شکايتونو دعدليي او قضايي نظام له لاری غور و شی .
- دټولټاکنو دقانون په هکله د ۲۰۱۰ کال دفبروری مياشتی(۱۳۸۸دلو/حوت) صادرشوی فرمان دی لغو کړي .

**لوی څارنوالی او قضايیه قوې ته :**

***فيفا له لوی څارنوالی ا و محکموڅخه غوښتنه لری ترڅو:***

- دځانگړی محکمی فوری منحل کول دی اسان کړي .
- دامنيتی ځواکونو هغه منسوبين چې د ټاکنيزو سرغړونو مسوول دی اړوندو عدليي اوقضايي ارگانونوته ور وپېژنی.

**امنیتی او استخباراتی ارګانونو ته**

***فیفا له امنیتی او استخباراتی ارګانونو څخه غو ښتنه لری چې :***

- دټاکنیزی سیالی له پړاو څخه وړاندی دی دټولټاکنود نوماندانوپه هکله فردی امنیتی ارزونه ترسره کړي اوپه دی توګه دی دهغه نوماندانو امنیت تامین کړي چې ترخطر لاندی دي .
- ټول هغه ګوابنونه چې د نوماندانو ، ټاکنیزو سیالیو دکارکوونکو او دټولټاکنو دبهیر پوری داړونده کسانو په خلاف ورکړل شوی په موقع او وخت سره وڅېړي .
- دټولټاکنو دامنیتی حالاتو نه دخلکو دخبراوی لپاره دی دخبر رسولو پراخی خپرونی اومطبوعاتی کنفرانسونه په لار واچوی .
- هغه امنیتی منسوبین چې په ناقانونه توګه له یو ځانګړی نوماند اویا له یوی ځانګړې ټاکنیزی سیالی څخه پلوی کوي ، تنبیه اومجازات کړي .
- د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال د ټولټاکنو دنوماندانو دواکونو(صلاحیتونو) دڅېړنی د پړاو بشپړاو دقیق ریوټ، چې په هغی کې دناقانونه وسله والو ډلو سره دنوماندانود اړیکو په پېژندنه کې داستفادی وړمعیارونه اودغه راز دنوماندانو ددفاعیوپه کتنه کې کارول شوی معیارونه شامل وي دعوامو مخی ته کېږدی .
- هغی خپلواک پلاوی ته دی چې دمدنی ټولنی له استازو ، دافغانستان دبشر دحقوقو دخپلواک کمیسیون ، دافغانستان لپاره دملګروملتونودمرستندویه ماموریت (یوناما) څخه جوړشوی اجازه ورکړی ترڅود هغه قضایاووپه باب چې د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال په ټولټاکنوکې دنوماندانو دواکونو دڅېړنی دبهیرپه ترڅ کې پری نوماندان دناقانونه وسله والو ډلو سره په اړیکو تورن دی ، په راتلونکې کې د ی درسونو او عبرتونو اودغه شان دټولټاکنو دښه والی په موخه پری مرور وکړي
- دراتلونکوټولټاکنوڅخه وړاندی دنوماندانو د واکونو په کمیسیون کې له بدلونونواواصلاحاتوڅخه ملاتړ وکړي .

**د ټولټاکنوخپلواک کمیسیون ته :**

***فیفا د ټولټاکنوخپلواک کمیسیون هڅوی ترڅو:***

- په رونوالی سره دی کار وکړی اوکتونکو او دمدنی ټولنی استازوته اجازه ورکړی ترڅو ددی کمیسیون په ټولیزو غونډو څارنه وکړي .
- دکارکوونکو دګمارلو اوپه اړینه توګه دزیاتو ښځینه کارکوونکود ګمارلو، دغه راز دهغه افرادو چې په ټاکنوکې د درغلیو مسوول دی دګمارلودمخنیوی په اړه رهنمودونه داجرا وړ وګرځوی .
- دټولټاکنو په اړه دامنیتی شکایتونو دترلاسه کولو لپاره دی دتیلفون یوه مرکزی لیکه رامنځ ته کړي .
- څارنیزو ارګانونو ته درای ورکونی په محلاتو کې دټاکنو دپایلودتایېد شوو پاڼو(اوراقو) ورکول .

**نړیوالی ټولنی اومرستندویانوته :**

***فیفا نړیواله ټولنه او مرستندویان هڅوی ترڅو:***

- دپراخه ټاکنیزو اصلاحاتوڅخه ملاتړوکړي .
- د ټاکنیزواصلاحاتوپه بهیر کي دمدنی ټولنی له ګډون څخه ملاتړوکړي .
- دراتلونکو ټولټاکنو سره دی مالی ملاتړ،په ټاکنیزو اصلاحاتو پوری مشروط او تړلی وګرځوی .
- دسیاسی پوهاوی درواجولولپاره دابتکاراتو اوپه ټولټاکنو کي دښځوله ګډون څخه دی ملاتړ وکړي .

## لمړۍ برخه : ســـــريـــزه

***دفـــيـفـــا سازمان ته يوه لــــنډه کــتــنــه***

دافغانستان دازاد اوعادلانه ټولټاکنو بنسټ (فيفا) په ۲۰۰۴ (۱۳۸۳/۱۳۸۲) کال کې دمدنی ټولنی د۱۵ ډلو له خوا تاسيس او د مدنی ټولنی ديوسازمان په توګه دعدليې په وزارت کې ثبت شو . فيفا ديوی سوله يېزی ، وګړنيېزی او دسالمی اداری لرونکې ټولنی درامنځ ته کولو په لار کې هڅه کوی، داسی ټولنه چې په هغی کې دهيواد ټول اتباع په ټولنيز ژوند کې د ګډون لپاره برابر او يوشان حقوق اوفرصتونه ولری . دفيفا ماموريت دلانديني لارو څخه دښه ټولټاکنو ضامن دی :

- په ټولټاکنو کې دخلکوداغيزمن اوپراخ ګډون لپاره ديوداسی چاپيريال را منځ ته کول چې دهغی لاری خلک په دی باوری شی چې دټولټاکنو بهير ازاد ، منصفانه ، سوله يېز او دنظم لرونکې دی .
- دټولټاکنوپه بهير کې دخلکو دپوهاوی له لاری هغوی ته دا احساس ورکول چې ددی هيواد داتباعو په توګه مسووليت لری ترڅو په ټاکنو کې برخه واخلی .
- درايې د ورکولو او دغه راز دهغو نوماندانو او ګوندونوچې ملی منافعو ته ژمن دی د ټاکلو د ارزښت په اړه دخلکو خبرول .
- په سياسی ګوندونوکې دهيواد دټولو توکمونو دشته والی له ارزښت څخه دفاع او خلکوته ددغی ګوندونو د يوی ښی اوسالمی اداری اودښه دولت داری درامنځته کولو اورواجولو په لار کې دخلکو دګډون لپاره د ټولو عرصو مساعدول .

***د۲۰۰۴ (۱۳۸۴/۱۳۸۳) کال څخه تر ۲۰۰۹ (۱۳۸۸/۱۳۸۷) کاله دفیفا کړنې***

په تیرو پنځو کلونو کې ، دفیفا قانونی اوریوټ ورکوونکو ټیمونو یولړ کړنلارۍ( طرزالعملونه) طرح کړی دی چې دهغی په اساس دمعلوماتو راټولونه ، دمعلوماتو څیړنه، دمخامخ اوپه نامستقیمه توګه د څارنیـزوروپوټونوپه بنسټ (پوښتنلیکونه ، نوملړونه اودغه دواړه ډولونه) رپوټ لیکنه کېـږی . چې دغه شان معلومات په ټول هېواد کې په منظمه توګه دفیفا د کتونکو (څارونکو) له خوا وړاندی کېږی دغه راز دامعلومات دکارکوونکو سره دغونډو ، درسنیو رپوټونو ، ویناوو ، دټاکنیزو ارګانونو او نړیوالو سازمانونو له شمیرنو او ارقامو او د نړیوالو کتونکو (مشاهدینو)له مرکو او رپوټونو له لاری لاس ته راځی .

د۲۰۰۴ (۱۳۸۴/۱۳۸۳) کال دټولټاکنو په بهیرکې فیفا ۲۳۱۰ تنه کتونکي (مشاهد) دټاکنو په ورځ په ټول هېواد کې ځای پرځای کړل . دغه کتونکي په۱۰۱ ولسوالیو ، د رای ورکونی په ۱۹۶۲ مرکزونواو درای ورکونی په ۳۰۸۸ محلونو کې حاضر وو . فیفا لمړنی څارنیز سازمان و چې د نه پاک کېدونکي رنګ ټیټ کېفیت په شان ستونزی یې یادداشت او دهغی په هکله یې دټولټاکنو دسمون ګډ دفتر ته خبر ورکړ .

د ۲۰۰۵ (۱۳۸۴/۱۳۸۳) کال دپارلمانی ټولټاکنوپه بهیرکې فیفا په ۶۵ سلنه درای ورکونی په مرکزونو کې ۷۴۴۶ سیمه یېزو کتونکو د ځای پرځای کولو له لاری دټاکنو په ورځ دهېـــواد په ټولو۳۴ ولایتونوکې څارنه وکړه . دفیفا کتونکودټول هیواد د۲۱۷ ولسوالیو درای ورکونی په ۳۷۲۳ مرکزونو کې حضور درلود . د ۲۰۰۵ (۱۳۸۳/ ۱۳۸۴)کال ټولټاکنو په بهیر کې، فیفا خپل دڅارنی ماموریت دمدنی ټولنی د۲۵ مرستندویه سازمانونواو په ۳۴ ولایتونو کې دفیفا داستازو له خوا سر ته ورسا وه .

په راتلونکو څلورو کلونو کې ، فیفا دازادو اوعادلانه ټولټاکنودترسره کولو په اړه دعامو خلکو دپوهاوی لپاره یوشمیر تحقیقی اوڅیړنیزی پروژی اجرا کړی . په۲۰۰۸ (۱۳۸۷/۱۳۸۶) کال کې ، فیفا دټولټاکنو دقانون دتعدیل په باب دمدنی ټولنی دسازمانونو سره مشوری رهبری کړې . همدارنګه فیفا دټاکنیزو نظامونو دنړیوال بنسټ له خوا په افغانستان کې دسیاست دمالی چارو په باب یوه مطالعه اجرا کړه .

د۲۰۰۹ (۱۳۸۸/۱۳۸۷) کال د ولسمشری او ولایتی شوراګانو د ټاکنوپه بهیرکې ، فیفا ( ۷۱۳۷ ) تنه کتونکې دهیواد په ټولو ۳۴ ولایتونوکې درای ورکونی پر ۶۰ سلنه محلونوباندی دڅارنی لپاره ځای پرځای کړل .

د۲۰۱۰(۱۳۸۹) کال دټولټاکنو په بهیر کې فیفا خپل څلورم اوترټولو ستونزمن دملی څارنی ماموریت ترسره کړ. دغه څارنیزه پروژه چې په خپل ډول سره په هیواد کې ترټولوسترکار و، دالمان او دنمارک دولتونو په مرسته ترسره شوه . دپام وړ امنیتی او تدارکاتی ننګونو سره سره ، دفیفا کاری ډلو او مرستندویانو دټاکنو دټولو پړاوونو په هکله خپل راپورونه وړاندی کړل او خلک یې تری خبر کړل .

دڅارني دپروژی ترڅنګ ، فیفا دټاکنیزو نظامونو دنړیوال بنسټ په مرستی (تمویل)سره دټاکنیزی سیالی پرمالي چارو دڅارنی پروژه دخپلو هغه مطالعـو او موندنو په بنیاد چې په دی اړه له وړاندی شوی وی ، دکابل په ولایت کې ترسره کړه . نوموړی پروژه چې په افغانستان کې بی ساری ده ، دپارلمانی ټاکنوپه هکله دسیاست د مالی چاروڅخه دپوهی دلوړوالی، په راتلونکوټاکنو کې داصلاحاتوپه هکله دوړاندیزونو او دټاکنیزوسیالیوپرمالي چارو دڅارنی دمیکانیزمونو د جوړولو په موخه سرته ورسیده . ددی پروژی د وروستیولاسته راوړنو رپوټ د « ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال دولسي جرګي دټاکنوپه اړه پرټاکنیزو سیالیوڅارنه » ترسرلیک لاندی د ۲۰۱۰ (قوس/جدی ۱۳۸۹) کال ددسمبر دمیاشتی په وروستیو کې نشرته وسپارل شو .

### د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال پرټاکنو دڅارنی ماموریت

په ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې ، فیفا ترکومه ځایه چې په یوه ډېر ناامنه چاپیریال کې ممکنه وه، هڅه وکړه ترڅوهغه معلومات چې ددوی دسیمه یېزو ټیمونو له خوا راغونډ شوی وو اوخپل ټاکنیز رپوټونه له نورو موجودو سرچېنو سره پرتله کړی . دټاکنو دحالتو دڅیړنی په اړه ، فیفا خپل څارنیز رپوټ له ټاکنیزو قوانینو اوکړنلارو اودغه شان په ډیموکراټیکوټاکنود حاکمونړیوالومعیارونوسره پرتله کړ .

دټاکنودورځي څخه دمخکې پړاو په بهیر کې ، دولسوالیو په کچه د فیفا کتونکوخپل راټول شوی معلومات دولایت په کچه دفیفا کتونکوته ورکول او ولایتی هم غړوکوونکو به هغه دفیفا مرکزی دفتر ته راستول . داعتراض له دوری پرته دټاکنو په ټولو پړاوونو کې ، اوږدمهاله کتونکو دڅارنی نوملړونه چې په هغی کې کمی اوکېفی سوالونه شامل وو،بشپړول اوهغه به یې په بریښنایې توګه مرکزی دفتر ته لیږل . داعتراض په دوره کې ، دڅارني نوملړپه ځنډ سره طرح شو او کتونکو هغه بیا وروسته د بریښنایې پست اویا دتیلفوني پوښتنلیکونو له لاری بشپړ کړ .

مرکزی دفترته دڅارنیزو نوملړونو له رسیدو وروسته ، دولایتی اړیکومسوول او ښځوته دپوهاوی رسولو مسوول فورمونه وڅېړل ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ټول نوملړونه رسیدلی دی . دغه نوملړونه بیا وروسته دپروګرامونو له مدیر او اجرایېوی ریېس سره شریک شول اوهغوی دغه نوملړونه دمعلوماتی نیمګړتیاوو اونامشخصو رپوټونو له نظره وڅېړل او دمشخصو معلوماتو دترلاسه کولو لپاره یې یو لړ سوالونه اوږدمهاله کتونکو(مشاهدینو) ته واستول . وروسته بیا دغه سوالونه دولایتی اړیکو مسوول دتیلفون اوبریښنایې پست له لاری تر غور لاندی راوستل اوپایله یې داشوه چې ، په نوملړونوکې لا نور معلومات ورزیات شوو .

نوملړونه وروسته درپوټ ورکولو لوی مسوول او درسنیواوړیکو مرستیال ته د انګلیسی ژباړي او دمعلوماتودټولولوپه فورمونو دغور لپاره وسپارل شول . کله چې دغه فورمونه اودمتني رپوټونو ژباړه چمتوشوه ، داټــول داړیکو سلاکار ته وسپارل شــول اوهغی بانــدنی رپــوټــونه اومطبوعاتی اعلامــیې تسوید کړې . په عمل کې ،داړیکوسلاکار او درپوټ ورکونی لوی مسوول په ګډه دنوموړو موادو په سر کار وکړ.

دانګلیسی ژبی دمتن مسوده داجرایېوی ریېس اودپروګرامونو دمدیر له خوا وکتل شوه او هغوی دا متن درسنیو او اړیکو دمعاون اودرپوټ ورکونی دلوی مسوول لخوا په دری او پښتو ژبو دژباړی لپاره تایېد کړه . نوموړی ژباړې بیا داجرایېوی ریېس اودپروګرامونو دمدیر له خواوکتل شوی او درې واړه متنه په مطبوعاتو کې دنشر لپاره تایېد شوو .

د امکان په صورت کې ، دپېښو رپوټونه د رسنیو درپوټونو اد نورو ټاکنیزو سازمانونو له سیمه یېزو رپوټونو سره پرتله شول . خو په منظمه توګه درسنیو له رپوټونو سره دفیفا درپوټونو پرتله کېدل له دی امله چې دښارونو له مرکزونو اودګې میشته ولایتونوڅخه بهر دټاکنو پوښښ په ټولو سیمو یو ناشونی کار وو . همدارنګه ، دنورو ټاکنیزو سازمانونودرپوټونو سره دفیفا درپوټونوپرتله کېدل ګران کار و، ځکه چې فیفا هغه یواځینی کتونکي اوڅارنیز سازمان و چې دنوماندانودنوم لیکني او دټاکنو دورځی او دهغی نه په وروسته وخت کې یې په ډېرو سیمو کې حضور درلود .

دټاکنیزوسازمانونو دکړنو په اړه رپوټونه له نشریدو نه وړاندی درپوټونوپه هکله دهغوی دنظرنو دترلاسه کولو لپاره د ټاکنو دخپلواک کمیسیون او دټاکنیزو شکایتونو له کمیسیون سره شریکېدل . فیفا په منظمه توګه دټولټاکنو دخپلواک کمیسیون له کارکوونکو سره د عملیاتو ، قانونی چارو ، اوبهرنیو اړیکو په برخه کې په اړیکه کې و او په منظمه توګه یې دڅارنیزو رپوټونو په هکله دهغوی د نظرونو غوښتنه کوله اوهغه یې لاس ته راوړل . دغی

راکړی ورکړی دوه موخي درلودی : دکمی معلوماتو سم والی او ناسم والی او دټاکنو خپلواک کمیسیون اودټاکنیزوشکایتونو کمیسیون ته داختلاف اچوونکوتصمیمونود روښانه کولو اوتوضیح کولو دامکان ورکول .

فیفادټاکنو دورځی درپوټ ورکونی لپاره له یوه زنځیری سیستم څخه کار واخیست . لنډمهاله کتونکو په سیمه ییزه کچه دولسوالیو همغږیکوونکو ته رپوټونه ورکول. دولسوالیو همغږیکوونکوپه خپل وارسره ولایتی هم غږیکوونکوته رپوټونه ورکول . دولسوالیوهمغږیکوونکو دفورمونو لنډیز دلنډمهاله کتونکو درپوټونو په بنیاد بشپړول . دفورمونو لنډیزولایتی همغږیکوونکو ته رپوټ کېده اوهغوی دغه معلومات دولایتی فورمونو په لنډیز کې رسول . همداشان ټولو کتونکومنفردمعلوماتی نوملړونه ډکول .

دټاکنو په ورځ ، دفیفا څارونکودمعلوماتو دراټولولولپاره دګرځنده(سیار) اوساکنوټاکنیزو لارو چارو څخه کار واخیست .

دمرکزی دفتردپروګرام جوړونی کارکوونکي چي دځو ولایتونو په ټیمونو ویشل شوی وو، دتیلفون له لاری یي دولسوالیو اوولایتی همغږیکوونکوڅخه درای ورکونی دمحلونو دپرانیستل کېدو، درای ورکونی بهیر ، د رای ورکونی دمحلونود تړل کېدو، او درایو دشمیرنی په بهیرکي رپوټونه راټولول .دغه رپوټونه اودفورمونو لنډیزونه چي هغوی بشپړکړل ، دټاکنو په ورځ یي دفیفا دمطبوعاتی اعلامیو او دفیفا دڅارني دلمړنی رپوټ اساس او بنسټ وګڼل شو .

په سیمه کي ، دولسوالیو همغږیکوونکو درای ورکونی هغه محلونو ته چي په هغه کي دفیفا لنډمهاله کتونکو دجدی پیښو رپوټونه ورکړی وو ، سفر وکړاود لنډمهاله کتونکودرپوټونو دتایېد په خاطریي له سیمه یېزوپولیسو ، له رای ورکوونکو ، دټاکنو دخپلواک کمیسیون له کارکوونکو اود نوماندانو له استازو سره مرکي وکړی . ولایتی همغږیکوونکو دولسوالیو دهمغږیکوونکو رپوټونه دولسوالی له پولیسو سره دتماس له لاری ، دولسوالی په کچه دټاکنودخپلواک کمیسیون د همغږیکوونکو ، سیمه یېزو مشرانو ، دنوماندانوداستازو اوسیمه یېزو رسنیو له لاری تایېد کړل .

له رای ورکوني اودرایو دجدول بندئ څخه وروسته ، دولسوالیو په کچه دفیفا اوږدمهاله کتونکو دټاکنو دورځی دټولو څارنیزو نوملړونو هاردکاپیاني دټاکنو دخپلواک کمیسیون داعتبارنامو اودټاکنیزي څارني دماموریت په وخت کي دلاسته راغلو درغلیو په هکله فیزیکي شواهدوسره یوځای راټول کړل او هغه یي دتوجیهی جلساتو په بهیر کي په ولایتی کچه دفیفا ولایتی اوږدمهاله کتونکوته وړاندی کړل . ولایتی اوږدمهاله کتونکو دټولو ولسوالیوڅارنیزنوملړونه دټاکنودخپلواک کمیسیون داعتبارنامو اودټاکنیزی څارنی دماموریت په وخت کي دلاسته راغلو درغلیو په هکله فیزیکي شواهدوسره یوځای راټول کړل اوهغه یي دکابل دولایتی ټیم دتوجیهی جلساتو په لړکي دفیفا مرکزی دفتر ته وسپارل ..

دټولو رپوټونو سم والی او ناسم والی وڅېړل شو . دجدی بی نظمیو او دټاوتریخوالی څخه د ډکوپیښو په هکله رپوټونه دنورو موجودومعلوماتی منابعو سره پرتله شوو . په حساسو مواردوکي لکه دټاکنو په ورځ درنګ دپاکېدوپه هکله پراخ رپوټونه ، فیفادخپلو کتونکو رپوټونه د نړیوالوڅارنیزو ډلو لکه دازادو ټاکنو اسیایي شبکې، ملی دیموکراتیک انستیتوت اودنړیوالی دیموکراسی دسازمان له رپوټونو سره پرتله کړل . په ټولیزه توګه داکار دغیررسمی اړیکو ، تلیفوني خبرو او دپروګرام جوړونکو کارکوونکو او د نورو سازمانونو دکتونکو سره دغونډو له لاری ترسره شو .

وروسته بیا دکتونکو ټول نوملړونه دفیفا په مرکزی دفترکي د دیجتیلی معلوماتو بانک ته ور داخل کړای شول اوددغه نوملړونو هاردکاپیاني په ولایت وار ډول تنظیم شوي . په عین زمان کي، متنی رپوټونه اودکتونکو شواهد

په هغو بستو کې تنظیم شوی چې دټاکنو دخپلواک کمیسیون او دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته دغور لپاره وسپارل شوی . ټول کمی معلومات دټاکنیزو سازمانونوداعلان شویو رسمی ارقامو او احصایی سره پرتله شول .

فیفا دکالیفورنیا دسان دیه ګو له پوهنتون سره یو هوکړه لیک (تفاهم نامه) لاسلیک کړه چې نوموړی پوهنتون ته یې اجازه ورکوله ترڅو د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال په ټاکنو دفیفا دڅارنی دلاسته راوړنو اومعلوماتوڅخه په خپلوراتلونکومطالعاتو او رپوټونو کې چې په جګړه ځپلو او دتیریدو په حال کې د هیوادونو په هکله یې کوی ،ګټه واخلی او په بدل کې دغی پوهنتون دفیفا ځارنیز رپوټونه دشمیر اواحصایی له نظره وڅیړل . ددی حاضر رپوټ د ټاکنو دورځی په برخه کې دکالیفورنیا دسان دیه ګو دپوهنتون له څیړنو څخه ګټه اخیستل شوی ده .

**دوهمه برخه : قانونی تحلیل**

***قانونی ســـــــندونه***

دافغانستان داسلامی جمهوریت په اساسی قانون کې له تبعیض پرته دافغانستان دټولواتباعو دانسانی حقونو او ډیموکراتیکو ازادیو په هکله تضمین شوی احکام ځای لری چې په هغي کې دټاکنو او ټاکنیزوسازمانونو قانونی مبنا تثبیت شوی ده .

داساسی قانون د ۶ می مادی سره سم ، دولت دیوی داسی ټولنی په جوړولو چې د «ټولنیز عدالت ،د انسانی کرامت دساتنی،دبشری حقوقو څخه دملاتړ ، دډیموکراسی په پلی کېدلو ، دملی وحدت دتامینولو ، دټولو قومونو اوقبایلوتر منځ د برابرۍ او دهیواد په ټولو سیمو کې دیو شان پرمختګ پر بنیاد منځ ته راغلی وی» مکلف دی .

ددی نه په وروسته مواردو کې ، دافغانستان اساسی قانون دملګرو ملتونودسازمان منشوراو دبشری حقونو نړیوالی اعلامیې ته درناوی کوي اود۲۲می مادی په بنیاد داتباعو ترمنځ نه توپیر کول تضمینوی . په دی ماده کې داسی راغلی دی : «دافغانستان داتباعو ترمنځ هرډول توپیر او امتیاز منع دی . دافغانستان ټول اتباع ښځې او نارینه دقانون په وړاندی دمساوی حقوقو او وجایبو لرونکي دي» . ۶۱، ۳۱، ۳۵، ۸۳، ۸۶، ۱۰۹، ۱۳۸، ۱۴۰، ۱۴۷ او۱۵۶مادی دټاکنیزو سازمانونوقانونی بنیاد جوړوي.

د ۲۰۱۰ (دلو/حوت ۱۳۸۸)کال دفبرورۍ په میاشت کې ، دوزیرانو شورا دټاکنو دقانون یوه تعدیل شوی نسخه چې په هغی کې دولسمشرحامدکرزی له خواد یولړبدلونونووړاندیز شوي و ، وړاندی کړه . ولسمشر بیا دغه قانون دفرمان په صادرېدو سره توشیح کړ . دغه فرمان څه موده وروسته دولسي جرګي دغړو دراېو په اکثریت سره رد شو. دولسي جرګي له خوا ددغـــی فرمان د ردولو ســـره سره ، دټاکنو نوی قانون د ۲۰۱۰کال دمـــارچ په ۱ (۲۰۱۰ حوت ۱۳۸۸) نېټه دعدلیي وزارت په رسمي جریده کې نشراو نافذ شو . د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال دټاکنود پراو په بهیر کې دنوی قانون د اجرا په هکله شخړې روانی وی .

دغه رازپه اساسی قانون اودټاکنوپه قانون کې دنویو بدلونونو داجراکولو په سر دشخړو سره سره، دټاکنوخپلواک کمیسیون ، هغه شان چې اساسی قانون او دټاکنو قانون اجازه ورکوی ، دټاکنودبهیر دسمون لپاره یې دستورالعملونه اورهنمودونه صادر کړی دی .

***مقننه قوه***

افغانستان دیو نماینده دولت درلودونکې دی او دا دهېواد په اساسی قانون کې کښل شوي دي . ولسمشر، ملی شورا اوسیمه ییزی شوراګانی دنظام مشرتوب په غاړه لری چې دا د ۱۸ کلونو څخه دپورته عمر داتباعـو په عمومی رایې سره ټاکل کېـږی .

مقننه قوه له ملی شورا څخه جوړه ده چې دوه مجلسونه لری . ولسی جرګه چې په مستقیم ډول ټاکل کېږی اومشرانو جرګه ( سنا ) چې په نامستقیم ډول ټاکل کېــــــږی .

دولایتی شوراګانو او ولسوالیو شوراګانوغړی چې په خپله ددغی غړیو له منځه ورپېژندل کېږی، دمشرانو جرګی دوه ثلثه منځ ته راوړی . پاتی یو ثلث په انفرادی ډول د ولسمشر له خوا انتصابېـږی . دولایتی شوراګانو ځای او رول دولایتی شوراګانو په قانون کې د ۱۳۸ او ۱۳۹ مادو په بنیاد تعریف شوی دی . دولایتونو پرمختګ ، داداری چاروښه والی اوپه مرکزی دولت کې دخپلو ولایتونو استازیتوب ددوی په رول اودندوکې شاملیږی . که څه هم ولایتی شوراګانی یوازې یو مشورتی رول لری ، خوبیاهم ددغی شوراګانو ټاکنه په سیمه ییزه اداره کې دډیموکراتیک بهیر دیوه عنصر په توګه ګڼل کېـږي .

داساسی قانون د۸۳مي مادی سره سم دولسي جرګي دکاردوره ۵ کاله ټاکل شوی ده . داساسی قانون پراساس ، دولسي جرګي ټولټاکنی باید دولسي جرګي دکار ددوری دپای ته رسیدو څخه حداکثر ۳۰ ورځی دمخه ترسره شی . داساسی قانون حکمونه او نورقانونی سندونه چې په هغو کې دواکونو په اړه ځانګړی رهنمودونه شتون نلری ، دولسي جرګي دکار دوام او یاهم دکار د دوری په پای کې دهغی ړنګول په هغه صورت کې دی چې ټولټاکنی وځنډیږی ، د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال دټولټاکنو په څېړ چې دمی میاشتی(ثور/جوزا) څخه بیا د ۲۰۱۰ دسپتمبرترمیاشتی (سنبله ۱۳۸۹) پوری وځنډیدی .

همدا راز داساسی قانون په ۸۳ ماده کې داسی راغلی دی : «دولسي جرګي غړی دخلکو له خوا دازادو ، عمومی ، سری اومستقیمو ټولټاکنو له لاری ټاکل کېـږي». ددغی مادی سره سم ، دولسي جرګي غړی له ۲۵۰ تنو څخه نه زیاتېـږي . له هرولایت څخه لږترلږه دوه ښځې په ولسی جرګه کې غړیتوب لري .
داساسی قانون ۸۳ ماده داپه ډاګه کوی چې دمشرانو جرګی (سنا مجلس) دوه ثلثه دولایتی او ولسوالیو شوراګانو دغړو له منځه ټاکل کېږي او یوثلث یې دولسمشر له خوا انتصابېـږي . په دی ماده کې داسی راغلی دی :

***دمشرانو جرګی غړی په لاندی ډول سره تعین او ټاکل کېــــږي:***

*۱ .دهرولایت دشوراله غړو څخه ، یوتن د څلورو کلونولپاره داړونده شوراله خواغوره کېږي .*

*۲ .دهر ولایت دولسوالیودشوراګانو دغړوله منځه، یوتن د دری کلونو لپاره داړونده شوراګانو له خوا غوره کېـــږي .*

*۳ .پاتی یوثلث دهېـواد دتجربه لرونکو اوبارسوخه کسانو څخه چې په هغو کې دمعلولینو اومعیوبینو دوه تنه استازی او دکوچېانو یو تن استازې ګډون ولري دپنځه کالو لپاره دولسمشرله خوا انتصابېږي .*

*ولسمشر دنوموړو کسانو له جملی څخه پنځوس سلنه ښځی دمشرانو جرګی دغړو په توګه ټاکې . هغه کس چې دمشرانو جرګی دغړی په توګه ټاکل کېږي ، په اړونده شورا کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوی اود هغه په ځای بل کس دقانون دحکمونو سره سم ټاکل کېـږي .*

په ټولیزه توګه دولسي جرګي د۲۴۹ څوکېو څخه ، ۱۰ څوکی کوچېانو ته ځانګړې شوی دی . دټولټاکنوقانون داساسی قانون منعکس کوونکې دی . اوپه ولسی جرګه اومشرانو جرګه کې دڅوکېو د ونډې په هکله مفصله

شميرنه(محاسبه) وړاندی کوي او دټاکنوله خپلواک کميسيون څخه غواړي ترڅودامحاسبی دټاکنو دقانون د۲۰می مادی سره سمی نشر اوخپری کړي .

۱. کميسيون۲۹ څوکی په لاندی ډول دولايتونو لپاره ځانګړې کړې دي :
۱.دټولووﻻيتونو نفوس پ۲۳۹ځانګړی شويو څوکيووېشل کيږي ترڅوديوی څوکی لپاره دنفوسو ونډه معلومه شي .
۲.دهرولايت نفوس ديوی څوکی لپاره دنفوس پر ونډی ويشل کيږي ترڅودهر ولايت دڅوکيوشميرمعلوم شی .
۳.دهرولايت لپاره په مساوی ډول دڅوکيو شميردويش(تقسيم) نه د حاصل شوی تام عدد له مخی چې ددی فقری په۲ جزکې راغلی ، ونډه ورکول کيږي .
۴.هغه څوکی چې ددی فقری په ۳ جز کې نه ځانګړې کيږي ، دهغوی ونډه ددی فقری په۲ جزکې دشوی تقسيم څخه دپاتی شوی اعشاری عدد د نزولی ترتيب په بناترسره کيږي .
۵.که چيری ددی ويش په پايله کې يو يا څو ولايتونو ته له دوه وو څخه کمی څوکی ورسيږي ، هغی ولايت ته دوه څوکی ونډه ورکول کيږي .
۶.هغه ولايتونه چې ددی فقری د۵ جز په بنا ورته اضافی څوکی بيلې شوی ، نومړی ټولی څوکی او دولايتی نفوسو ارقام، له۲۳۹ څوکيواود ټولو ولايتونو له نفوس څخه کميږي . دپاتی نورو ولايتونولپاره،په هغه شان چې ددی فقری په ۲ او۵ جز کې راغلی دڅوکيودوېش يوه نوی ونډه ، ورکول کيږي.
۲. کميسيون مکلف دی ترڅوهغه محاسبی چې دڅوکيودونډې په اړه په دی ماده کې راغلی دی نشر اوخپری کړي .

که څه هم دټاکنو دقانون په ۲۲ او ۲۳ ماده کې لکه دښځو او کوچيانو په شان دسياسی لحاظه محرومو ډلو ته ونډی جلا کړای شوی دی ، خو په دی قانون کې د دينی لږکيو لکه دهندوانو او سکانولپاره داسی کومه ونډه ځانګړې شوی نده .

له دی سره سره ، ديوی سرشميرنی نه شتون دغه ټولی محاسبی ترخپلی شعاع لاندی راولی ، ځکه چې په سمه توګه دولايتونو دنفوسومعلومول يوګران کار دی . او داکولای شی چې دولايتونولپاره دڅوکيوپه ونډو کې نا انډولی رامنځ ته کړي .

***ټاکنیز نظام***

افغانستان د۲۰۰۴ (۱۳۸۳/۱۳۸۴) کال دولسمشرۍ په ټاکنو کې دمنفردی لیږرد نه منونکې رایې له سیستم څخه کار واخیست او له هغه وخته بیا تردی دمه ، پرډیموکراتیک بهیر ددی سیستم دمنفی اغیزو په باب دګڼو نیوکو باوجود ، داسیستم ساتل شوی دی . دمنفرده لیږرد نه منونکې رایې دسیستم پربنا ، پر هروهغه ټاکنو چې په عمومي رایې ولاړی وي ، دڅومقامونو لپاره دڅونوماندانوترمنځ په سیالی کې هررای ورکوونکې دیو نوماند لپاره یوه رایه درایې صندوق ته اچوی . هغه کاندیدان چې ترټولو زیاتی رایې لاس ته راوړي ، هغه مقامونه چې مبارزه یې ورته کړې وه ترلاسه کوی.

دغه سیستم دیوه داسی څواکمن ګوندی سیسستم دپرمختګ په لارکې خنډ کیږي، کوم چې دهغی پرته به په افغانستان کې لرترلره سیاست دشخصیت اوقدرت پرمحور راوڅرخی نه دټاکنیزو حوزو درای ورکوونکو دپروګرامونو اوغوښتنو پر خوا . په افغانستان کې ، دمنفرده لیږرد نه منونکې رایې سیستم دهغی سیمه ییزوڅواکمنواونفوذلرونکوکسانو او ډلوپه ګټه دی چې خپلی ګټی تعقیبوی او دخپلو ګټو استازیتوب کوی، نه دټاکنیزوحوزو درای ورکوونکو دګټواستازیتوب . یادشوی سیستم دسیاسی ګوندونودپرمختګ په لار کې خنډ ګرځیدلی دی اوپه ټاکنوکې دیو زیات شمیرنوماندانو داوړده نوملړ او دیوی داسی مقننه قوی درامنځته کیدو سبب شوی دی چې په زیاتو مواردو کې یې پیژندنه اسانه نه ده .

دټاکنو له قانون څخه پرسرغړونوباندی دټاکنیزو شکایتونودکمیسیون له خوا چې یوقضایي ډوله سازمان دی اود ټاکنودقانون د۶۱ مادی پربنا جوړیږي ، غورکیږي . په دی ماده کې داسی راغلی دی : « دسرغړونو ، دټاکنو په هکله داعتراضونو اوشکایتونو ، دټاکنیزوشکایتونو دولایتی کمیسیونونو داداری او دهغوی دتصمیمونو دڅیړلو په باب دغور کولو لپاره ، دټاکنو له نیټي څخه لرترلره ۱۲۰ ورځی دمخه دټاکنیزوشکایتونومرکزی او ولایتی کمیسیونونه دولسمشر له خوا دستری محکمی دربیس او دملی شورا د مجلسونو دربیسانو سره په سلا او مشوره کې جوړیږي» .

دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون واک لری ترڅو دټاکنیزو شکایتونو په باب قضاوت وکړي اوټاکنیزی سرغړونی مجازات کړي . په دی حال کې ، په قانون کې داسی احکام چې دهغی په بنا دشکایتونو د څیړنی اوقضاوت په هکله غور وشي شتون نلری .چې دی کار د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنووروسته یو اوږد اوپراخ سیاسی کړکیچ رامنځته کړ اودغه شان دحکومت ناقانونه لاسوهنوته یې لاره هواره کړه .

دبیلګي په ډول ، دبشریت په خلاف دجرمونو هغه تورونه چې نوماندان یې په کولوتورن وو، دتورونو په حدکې پاتی شوو ، ځکه چې هیڅوک هم د داسی جرمونوپه تور محکمه شوی ندی . په دی شان سره ، دټاکنودقانون څخه د سرغړونوپه پیژندنه اودهغی په مخنیوی کې دټاکنیز نظام ناکامی لکه څوځلی د رایې ورکونه او دکم عمره کسانو له خوا درایې ورکونه ، چې داټول کولای شی په ټاکنوکې نامنصفانه پایلی ولری . په ټاکنیزه مبارزه کې د ځانګړو نوماندانوپه ګټه دعمومی زیرمو اودرسمی مقامونو څخه ناوړه ګټه اخیستنه یوه بله ناقانونه بیلګه ده چې لیدل شوی او په اړه یې رپوټونه ورکول شوی دی ، خو د ټاکنیزوشکایتونو په کمیسیون کې د داسی چاروڅیړل اوپه هغو باندی غور کول یوګران کار دی .

### ***دټاکلـــــــو حـــــق***

داساسی قانون ۳۳ مه ماده داسی وايې : « دافغانستان اتباع د ټاکلو او ټاکل کېــــــدلوحق لري ». دا په ټاکنو کې درايي ورکوونکي او نوماند په توګه داتباعو دګډون حق دی . دټاکنودقانون ۱۱ مه ماده دهېواد داتباعو درايي حق لانور روښانه کوي اوداسی يادونه کوي .

***په ټاکنوکې هغه کس درايي ورکونی حق لری چې دلاندی شرايطو لرونکې وي :***

*۱ .لږترلږه دټاکنو په ورځ يي د۱۸ کلنی عمربشپړکړې وي .*
*۲ .دافغانستان تابعيت ولري .*
*۳ .دمحکمی په حکم سره د مدنی حقوقو څخه محروم شوې نه وي .*
*۴ .دکميسيون له خوايې درايي ورکوونکو په نوملړکې نوم ثبت شوی وي .*

دټاکنود قانون ۳ ،۴ او ۵ ماده په روښانه توګه د رايي ورکونی د حق شرطونه بيانوی اوپه زغرده د ارادی دازادئ په اصل ټينګار کوي . په دی حال کې ، په رای ورکونه کې ددی مادو په اجرا کې ټاکنيز ميکانيزمونه ناکام وو . درای ورکوونکودنوم ليکنی اوراجسترد سم او ملی سيستم نشتوالی اودپېـژندنی دملی کارتونود يوځواکمن سيستم نشتوالی هغه تشی(خلاګانی) دی چې سرغړوونکو تری ناوړه ګټه پورته کړه .دځوځلي رای ورکونوپېښې ، دکم عمره کسانورای ورکونه اويو ځانګړي نوماند ته درای اچونی لپاره د رای ورکوونکوډارونه هغه څه دی چې ليدل شوي اورپوټ يې ورکړشوی دی .

دنوماندانو په اړه ،دټاکنوقانون دنوم ليکنی اودنوماندیدو دشرطونو په باب دځانګړو حکمونو لرونکې دی .دټاکنو دقانون ۱۲ ،۱۳ او۱۴مادو په ترتيب سره دولسي جرګي کرسئ ته دنوماندټول معيارونه روښانه کړی دی . شونی ده چې قانون واضيح وی ، خو ددولت هغه نور ميکانيزمونه چې دقانون په پلی کولوکې دمرستی لپاره رامنځ ته شوی دی اونيمګړتياوی او ناکامئ لری ، دقانون پلی کېدل يې ستونزمن کړی دی .

د۱۲ مي مادی پربنا يوځانګړې شرط دادی چې يو نوماند بايد«دبشری ضد جرمونو ،جنايت اويا مدنی حقوقوڅخه په حرمان نه وی محکوم شوی». په دی حال کې، درسمي تورونو نشتوالی اودبشری حقونوڅخه په نقض دتورنوکسانو لپاره دمحکمی نه شتون ، دنوماندانو له نوملړڅخه ددی نوماندانو بی واکه کول او ايستل ستونزمن کوي .

همدارنګه ، قانون ددولت چارواکي او کارکوونکي په ټاکنوکې له نوماندئ څخه منع کوي ، يواځی په هغه صورت کې چې په سرکې دغه چارواکې يا کارکوونکې له خپلی دندی څخه استعفا وکړي . له دی سره ، داسی رپوټونه شتون لری چې ځينوکسانودخپلو دندو په ساتنی سره په ټاکنو کې نوماندان وو . دټاکنو د قانون د۴۳ مادی سره سم ديو نوماند په توګه دنوم ليکنی مالی شرط دزياتو عادی اتباعو لپاره چې دنوماندئ هيله لری ، يودروندمالی پېټی دی . که داسی وګڼو چې ددولت ديو کارکوونکې دمعاش اوسط په يوه مياشت کې ۶۰ دالره وي اود اولسي جرګي دڅوکئ دنوماندئ دترلاسه کولو لپاره ۳۰۰۰۰ افغانيو ته اړتيا ده نو دا شرط کولای شی چې دنومووړی کس ديوه کال دمعاش سره سمون ولری . له بلی خوا ، دغه شرط له قانون څخه سرغړوونکو تورنو کسانوته داموکه په لاس ورکوی چې ولسي جرګي ته دننوتلو لاری ومومی .

***ټاکنيزسازمانونه***

**دټاکنوخپلواک کميسيون**

دټاکنو دخپلواک کميسيون تشکېل چې دټاکنو اداره کوونکې سازمان دی،داساسی قانون په۱۵۶ ماده کې په دی اړه داسی راغلی دی : « په هېوادکې دخلکو عمومی رايو ته دمراجعی اوهرډول ټاکنوداداره کولو اوپه هغی دڅارنی لپاره دقانون دحکمونو په رڼاکې دټولټاکنوخپلواک کميسيون جوړېږي» .

د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنوقانون،دټولټاکنودخپلواک کميسيون واکونه اومسووليتونه په ګوته کوي ، خودسياسی لاسوهنوپه مقابل کې په بشپړه توګه له دی کميسيون څخه ساتنه نه کوي . يوه ترټولوجدی اندېښنه چې دمدنی ټولنی او دټاکنيزوکارپوهانوله خوامطرح شوی، هغه د ټاکنو دخپلواک کميسيون دغړوټاکل دی چې دمدنی ټولنی اومقننه قوې سره دسلا اومشوری پرته دولسمشر له خوا غوره کېږي. بله اندېښنه دټاکنودخپلواک کميسيون دکارکوونکو دواکونودځېړلولپاره دمعيارونو نشتوالی دی .

وروسته له هغی چې ولسمشردټولټاکنودخپلواک کميسيون غړی وټاکي ، له دندی څخه دکميسيون دغړي دګوښه کېدولپاره کوم حکمونه په نظرکې ندی نيول شوی .

دغه راز، دټولټاکنوخپلواک کميسيون مکلفيت لري چې خپلی دندی په روښانه توګه سرته ورسوي اوخپلواکو کتونکو اودسياسی ګوندونو استازوته اجازه ورکړي ترڅودهغوی پرغونډو(جلساتو) څارنه وکړي. دټاکنوقانون ۵۰مه ماده داکميسيون مکلف ګڼي چې« دڅارونکو ، کتونکو اود رسنيو داستازو حقونه او وجيبی په ګوته کړي،هغوی ته باورليکونه(اعتبارنامی) جوړې او وويشي ».له دی نه وړاندی، ددی قانون د۵۷مې مادی ۲ فقره دټاکنو خپلواک کميسيون دی ته اړباسی ترڅودرايوصندوقونه دکتونکو په حضورکې قرنطين کړي اويايې له قرنطين څخه وباسي . ۶۳مه ماده دټاکنوپه بهيرکې دکتونکوپه شمول داړونده اشخاصوله ګډون څخه مخنيوی،ټاکنيزه سرغړونه ګڼي . داحکم نه د ۲۰۰۹ (۱۳۸۸/۱۳۸۷) کال دولسمشری په ټاکنوکې اونه هم د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دولسی جرګې په ټاکنو کې پلی شو .

**دټاکنيزوشکايتونوکميسيون**

دټاکنيزو شکايتونو کميسيون دټاکنو دقانون د۶۱مې مادی پربنا جوړشوی دی . په دی ماده کې داسی راغلی دی: « دسرغړونو ، دټاکنو په هکله اعتراضونو اوشکايتونو ، دټاکنيزوشکايتونو دولايتی کميسيونونو داداره کولو او دهغوی دتصميمونو دڅېړلو په باب دغور کولو لپاره ، دټاکنو له نېټې څخه لږترلږه ۱۲۰ ورځی دمخه دټاکنيزوشکايتونومرکزی او ولايتی کميسيونونه دولسمشر له خوا دستری محکمی درييس او دملی شورا د مجلسونو دريیسانو سره په سلا او مشوره کې جوړېږي» داکميسيون يوائېنی قانونی سازمان دی چې دهغوټاکنيزوشکايتونواوسرغړونوپه باب چې دټاکنو دپايلودتايېداوتصديق څخه دمخه لاسته راغلی وي قضاوت کوي.

مـــــدنی ټولـــنی اودټاکنوکارپوهانوپه وار وارسره دقانون ددی حکمونوپه هکله خپلی اندېښنی څـــرګندی کړی دی. اندېښنه داده چې ددی کميسيون جوړښت واضيح اوروښانه ندې .همدارنګه ددی کميسيون دغړوټاکل واضيح ندې. ولسمشردکميسيون غړی تعينوي، خوممکنه ده دغه غړی ونه کولای شی چې د دولتی سازمانونواودځواکمنو نوماندانو دمداخلی اولاسوهنی له امله خپله بيطرفی وساتی . له بلی خوا ، په کميسيون کې دغړيتوب په اړه دځانګړومعيارونو نه شتون دغـــو اندېښنو ته لمنه وهلی ده اوشونی ده کوم کسان چې په دی کميسيون کې غړيتوب ترلاسه کوي دداسی مقام لپاره وړ نه وي اودټاکنو په بهيرکې دکميسيون دمسلکې کار توانمندی ونلری.

دولسمشرفرمان دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون بی پرېتوب ته زیان رسوی. دلمړي ځل لپاره چې داکمیسیون رامنځته شو، دی کمیسیون ۵ غړی لرل . ددغو۵ غړو له منځه ، ۲ غړی دولسـمشـرله خوا( یوغړی له ستری محکمی اوبل يي دافغانستان دبشردحقوقو دخپلواک کمیسیون څخه) تعین شوو او ۳ نورغړی نړیوال کارپوهان ووچې دافغانستان لپاره دملګروملتونودسازمان دسرمنشی داستازی له خواتعین شوو. له دی سره، دولسمشری دلانجمنو ټاکنوڅخه وروسته ولسمشردبهرنیولاسوهنو په استدلال سره ددی کمیسیون ترکيب ته بدلون ورکړچې دمدنی ټولنی اونړیوالی ټولنی دنیوکو سره مخامخ شواودکمیسیون دبیطرفی اوبی پریوالی په اړه اندیښنی رامنځ ته شوې . په نتیجه کې،دغه کمیسیون دولسي جرګي په ټاکنوکې دنړیوالوغړو لرونکې و،خوددغوغړوشمېردوه تنوته راټيټ شوی و.

دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون دټاکنو سرغړوونکوته دسزا ورکولو اوپه هغوی دبندیزونو دلګولو واک لری. دنوماندانوله نوملړڅخه دنوماندنوم دایستلوغوښتنه ، درایو باطلول ، درایودصندقونوقرنطین اومالی جریمی په دغــو بندیزونوکې راځي. دټاکنیزوشکایتونودولایتی کمیسیونونو تصمیمونه دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون دنظربدلون او بیا کتنی پوری اړه لري. دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون په مستقیمه توګه خپل تصمیمونه نیسی. دټاکنودقانون سره سم ،ددی کمیسیون تصمیمونه وروستني(نهايې) دي. په داسی حال کې،دستری محکمی حق دټولوقضايي تصمیمونوپه بیاکتنه کې خوندی دی. دی چاری په تصمیم نیونه کې بیطرفي اوخپلواکې زیانمنه کړې ده .

**دټاکنودرسنیوکمیسیون**

دټاکنودرسنیوکمیسیون دټاکنودقانون د۶۱ مادی پربنامنځ ته راځي. داکمیسیون دټاکنوله نېټي څخه ۶۰ ورځی وړاندی پرړپوټونو دڅارنی اوپه منصفانه توګه دټاکنیزوسیالیودخپرولواودغه رازدټاکنیزوسیالیوپه بهیرکې درسنیزوسرغړونودڅېړلو په موخه جوړېږي. دټاکنودرسنیوکمیسیون کولای شی چې اخطارونه صادرکړي اوسرغړوونکو ته سزاګانی ورکړی اوپرهغوی جریمی ولګوی. له قانون سره سم ، نوموړی کمیسیون حداکثریوه نیمه میاشت دټاکنودپایلو داعلان څخه وروسته ړنګــېـــږي. له دی سره، دټاکنودرسنیودکمیسیون دغه له وخته دمخه ړنګېدل دواکونو په پلی کېدوکې ددوی وړتیاوی اوپه هغی اغېزی محدودوی.

***درای ورکوونکو نوم لیکنه***

په ټولټاکنوکې دنوم لیکنی بهیر یوترټولو لانجه من کار دی . درای ورکوونکو دنوملیکنی شرطونه دټاکنو دقانون په ۱۱مه ماده کې توضیح شوی اودټولټاکنودخپلواک کمیسیون له خوا په صادرشوی دستورالعمل کې تشریح شوي دي . له دی سره،درای ورکونی دکارتونودوېش پرمهال درای ورکوونکودشرطونو دثبت اوپه هغودباوری کېدلولپاره دیوښه سیستم نشتوالي په ټول هېوادکې ګڼ شمېرسرغړونوته لاره هواره کړې ده . فیفا درای ورکوونکودنوم لیکنی داحکامودنقض په باب یوزیات شمېر موردونه ثبت کړل اودهغو په هکله يې رپوټ ورکړ. ځوځلی نوم لیکنه ، دپېژندنی کارتونوته نه پاملرنه اودعمرنه معلومول ، درای ورکوونکو په توګه دکم عمردخاوندانونوم لیکنه اوداسی نور موردونه هغه سرغړونی دی چې دفیفا له خوا ولیدل شوي اورپوټ يې ورکړشو .

درای ورکوونکودنوم لیکنی دستورالعمل اودټاکنو قانون رای ورکوونکې دې ته نه اړباسی چې دنوم لیکنی په وخت کې خپل دپېژندنی کارت وړاندی کړي . درای ورکوونکودنوملیکنی ددستورالعمل ۶مه ماده یولړشخصی معلومات لکه نوم،دپلارنوم،عمر،داستوګنی ځای،دګوتی نښه اودرایې دورکولو اویا نه ورکولواراده اړین بولي . دغه مادی همداراز د شخص عکس اړین ګڼلی دی ، خو ښځوته يې دا اجازه ورکړی ترڅودخپل عکس دنه اخیستلودلیل وړاندی کړي . که څه هم دا احتیاط دفرهنګی حساسیتونو له امله دی ، خوداکار په اسانۍ سره سرغړوونکوته داموکه په لاس ورکوی ترڅو دبل چاپرځای رایه ورکړي اویاهم ځوځلی نوم لیکنه وکړي .

دهمدغی دستورالعمل ۸ او ۹ ماده په ترتیب سره په نوم لیکنه داعتراض اوشکایت دمــوضــوع په باب یادونه کوی. په دی دستورالعمل کي داسی راغلی دی:

*اتمه ماده*

*۱.درای ورکونی په شرطونوبرابراتباع اوځارونکي کولای شی دهغی شخص په اړه چې دشرطونوسره برابر نه وی اوغواړی نوملیکنه وکړی ، خپل اعتراض څرګند کړي.*
*۲.دنوملیکنی دمحل مسوول ،له هغی چاسره په اړیکه کي کیږي چي دشرطونوسره دنه برابری اعتراض ورباندی شوی، ددواړو خواوو دوړاندی شویو شواهدو په پام کي نیولوسره کولای شی چي داعتراض د ردولو اویادهغی په تاییدولو باندی خپله فیصله وکړي.*

*نهمه ماده:*

*درای ورکونی په شرطونوبرابراتباع اوځارونکي دټاکنوله قانون څخه ، دکمیسیون اودکمیسیون د دارالانشا له خوادتصویب شویو سندونو څخه دسرغړونودرامنځته کیدو اویاهم داعتراض په هکله دفیصلی په باب دنوم لیکنی دمسوول دنه قناعت په صورت کي، کولای شي چي خپل شکایتونه په هغه فورم کي چي دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون ته استول کیږي درج کړي .*

په همدی اړه،هغه داعتراضونواودټاکنیزو شکایتونودستورالعـــمل چي دټولټاکنودخپلواک کمیسیون له خواصادرشوی دی ، دشکایتونودوړاندی کولولپاره د هغی ضرب الاجل یادونه کوی چي د۴می مادی په۲ فقری کي راغلی دی اوپه هغه کي داسی ویل شوی دی چي شکایتونه باید « په لیکلی توګه دپیښي له پیښیده وروسته د۷۲ساعتونوپه بهیر کي دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون اود دټولټاکنوخپلواک کمیسیون ته وسپارل شي». کمیسیون دټولټاکنوخپلواک کمیسیون دیوکس دنوماندئ په باب داعتراض زمانی حد دنوماندانو دوروستنی نوملړدخپریدو څخه دمخه اعلانوی . په دی حال کي ،دیوه رای ورکوونکي دنوملیکنی په اړه داعتراض دزمانی حد په هکله چوپتیا غوره شوی ده.

دغه راز ، درای ورکوونکودمعلوماتو دمحرمیت دساتنی په باب ، ددستورالعل ۱۰مه ماده دداسی معلوماتودمحرمیت ساتندویه ده اوداسی وایي: «کمیسیون هغه لازم تدبیرونه ترلاس لاندی نیسی ترڅودرای ورکوونکودنوملیکنی په بهیر کي دلاس ته راغلو معلوماتو څخه دټاکنو دترسره کیدو نه بغیر دنورو موخو لپاره ګټه پورته نشی ، البته هغه موردونه چي په قانون کي يي وړاندوینه شوی په استثنا کي راځی ».

***سیاسی ګوندونه اونوماندان***

ددی رپوټ تر لیکلوپوری، دسیاسی ګوندونو په نوی قانون کې دیادوشویو معیارونو سره سم ۳۸ سیاسی ګوندونه دعدلیي په وزارت کې ثبت شوی دی. دولسي جرګي دټاکنو په بهير کې ۵ ګوندونو نوماندان درلودل .[1] دسیاسی ګوندونودثبت بهير اودهغوی محدودیتونه درپوټ په تیروبرخو کې تربحث لاندی راغلل. په دی حال کې، دلیږدنه منونکي منفرده رایې سیستم هم سیاسی ګوندونوته په ټاکنو کې اودهغوی استازیتوب ته یې په ولسي جرګه کې لاره پرانیستی ده.

نوماندان که یوخپلواک کس وی اویاهم دکوم سیاسی ګوند څخه وی ، په قانون کې برابرحقونه لری . قانون خپلواکواوګوندی نوماندانوته اجازه ورکوی ترڅوپه ټاکنوکې ګډون وکړې. دسیاسی ګوندونود۱۲می مادی د۶فقری په بنا، سیاسی ګوندونه کولای شی چې په هرډول ټاکنوکې خپل نوماندان وروپیژني. دقانون دا حکم دثبت شویو سیاسی ګوندونودنوماندانو دورپیژندنی اودغه رازدخپلواکو نوماندانوترڅنګ ددغونوماندانو سره دیوشان چال چلند لاره هواروی . اساسی قانون، دقانون په وړاندی دټولواتباعودبرابری اودهغوی ترمنځ دنه توپیرکولو ضمانت کوی.

ددی مادی نه سیوا،دټاکنودقانون ۱۲مه ماده په روښانه توګه په ټاکنوکې دنوماندی شرطونه بیانوی. له دی سره، فیـــفـــاته ځینـــی شرطـــونه دانديښني وړ وو چې دنـــومــــاندله خـــــوا دټولټاکنوخپلواک کمیسیون ته درای ورکوونکودنوملیکنی د کارتونوشمیر اومالی ضمانت په دی اندیښنوکې راځي. دغه اندیښنه دهېواد داقتصادی حالت پر بنا ولاړه وه چې لاتراوسه ۴۲ سلنه خلک دفقردلیکي څخه لاندی ژوندکوی په همدی سبب دمالی ضمانت شرط،ټاکنوته داشخاصو نوماندۍ محدودوی چې بی له دی نه په ټاکنوکې دنوماندۍ له شرطونوسره برابر دی.

له نوم لیکنی اوپه ټاکنوکې دنوماندۍ دشرطونودبشپړولوڅخه وروسته، قانون دنوماندانو دچال چلندلاربنوددی .دټاکنوقانون اودټاکنیزی سیالی په باب دټولټاکنودخپلواک کمیسیون له خواصادرشوی مقررات دزمانی چوکاټ اودځانګړو رهنمودونو درلودونکې دي. دغه قوانین اومقررات دټاکنو په بهير کې دحکومت لاسوهنه جایزه نه ګڼي. له دی سره، دټاکنزی سیالی دپړاو په بهير کې ددولت دلاسوهنی په باب شکایتونوشتون درلود اودفیفا څارونکوددغسی لاسوهنو په هکله رپوټونه ورکړل.

قانون دیوشمیرهغی ګوندی نوماندانوپه هکله داسی ځانګړی لاربنوونه نلری چې ولسي جرګي ته دهغوی دراتګ څخه وروسته دهغوی ګوندونه ړنګېږي اویاهم هغوی خپل ګوندی تړاوونوته بدلون ورکوي. دسیاسی ګوندونوقانون،دټاکنوقانون اود دټولټاکنودخپلواک کمیسیون مقرراتو ددغی چاری وړاندوینه نده کړی . دځواکمنو سیاسی ګوندونونشتوالی کولای شی چې یودلیل اوسی. یواځی دپنځه ګوندونو نوماندانودپارلمان دڅوکېودلاسته راوړلولپاره دولسي جرګي په ټاکنوکې مبارزه وکړه.

[1] څلوردیرشونوماندانودپنځه ګوندونو(حزب متحد اسلامی افغانستان، حزب همبستګی ملی، جنبش همبستګی ملی، حزب مشارکت ملی و حزب متحد ملی)څخه استازیتوب وکړ.

***یوشان چال چلنداورسینو ته لاسرسی***

دټاکنودقانون ۵۹ مه ماده دولتی اوخصوصی رسنۍ هڅوی ترڅورسنیوته دټولونوماندانویوبرابرلاسرسی رامنځته کړی اودهغوی افکاراونظرونه ټولوعامووګړوته ورسوی. رسنیزسازمانونه رابلل کېږي ترڅودنوماندانو ،نظرونه اومفکوری دټولټاکنودخپلواک کمیسیون دطرزالعملونوسره سم په بیطرفه اوبی پری توګه خپاره اونشرکړي. دټاکنودقانون ۶۰مه ماده درسنیودیوه کمیسیون وړاندوینه کوی چې داکمیسیون دنده لری ترڅورسنیوته دنوماندانودلاسرسۍ اودهغوی دمفکورواولیدلورو دخپرولوچاری سنبال کړي .دغه کمیسیون دټاکنوله پیلیدوڅخه ۶۰ ورځی دمخه جوړېږي. همدارنګه دغه ماده دټاکنوپه بهیرکې ددی کمیسیون دکاردڅرنګوالی اوپه سرغړونوباندی دغورکولوپه هکله دځانګړورهنمودونودرلودونکي ده. دټولټاکنوخپلواک کمیسیون هم درسنیو دکمیسیون دچارودسمون اوسمبنت لپاره یولړمقررات صادرکړی دي.

همدارنګه ،دټاکنیزوسیالیوپه باب دټولټاکنودخپلواک کمیسیون له خواتصویب شوی دستورالعمل دنوماندانودنظرونو،مفکورواوکړنلارو دبیانولولپاره رسنیوته په خپلواکه اوازاده توګه ددوی لاسرسی روښانه کړي دي. دیادشوی دستورالعمل ۴ ماده داسی وایې: «(۱)نوماندان اوسیاسی ګوندونه کولای شی دکمیسیون له لوری، په ټاکل شوی زمانی محدوده کې اوپه قانون کې دراغلوشرطونوسره سم اودغونډودجوړولوداصولوسره سم دډله ییزورسنیوله لاری(صوتی،چاپی اوتصویری) دتبلیغاتوپه کولو اودنوروقانونی لاروڅخه دخپلوټاکنیزوسیالیوپه اړه چاری پرمخ بوزی. ؛(۲)نوماندان،سیاسی ګوندونه،دهغوی ملاتړي اوپلویان نشی کولای چې دنوروسیاسی ګوندونواونوماندانوپه ټاکنیزوسیالیوکې منفی دخالت وکړی اویادهغوی په چاروکې مزاحمت رامنځته کړي».

پدی حال کې،دهمدغی دستورالعمل د۵می مادی ۱ فقره داسی بیانوی: «نوماندان،سیاسی ګوندونه اودهغوی ملاتړی دټاکنیزوسیالیوپه اړه خپلی کړني اوفعالیتونه قانون ته په پاملرنی سره،دکمیسیون له خوادتصویب شویودستورالعملونواوداړونده اصولوسره سم تنظیم کړي ».

***دټاکنيزوسياليوتمويل اولګښتونه***

دټاکنــــيزوسياليوتمــــويلول اولګښــــتونه دټولټاکنــــودخپلــواک کمــــيسيون دټاکنــــيزوسياليوپه دوره کې دنوماندانودمالی زيرموداعلانولوددستورالعمل له لوری تنظيمېږي .دادستورالعمل نوماندان دی ته اړباسی ترڅودخپلو منقولو اوغيرمنقولو شتمنيوپه باب چې د ۳۰۰۰۰۰ افغانيوڅخه زياتيږی،خبر ورکړي.نوماندان که ګوندی وی اوکه خپلواک، داحق نلری چې ددولت له خوا تمويل شی اويا دعمومی زيرموڅخه ګټه واخلی، مګرداچې دغه امکانات په برابره توګه ټولونوماندانوته ورکړل شي. دادستورالعمل يواځی دافغانستان اتباعواوسياسی ګوندونواونوروکورنی غيردولتی قانونی سازمانونوته اجازه ورکوی چې ټاکنيزی سيالی تمويل کړي. په دی حال کې، دفردی مرستی حد۵۰۰۰ افغانی اودسازمانی مرستی حدتر ۵۰۰۰۰۰ افغانيوپوری جوازلری که څه هم داحدودمعقول په نظرراځی، خوپه ټاکنيزوسياليوکې پرمرستو باندی څارنه ګرانه ده، ځکه دنوماندانودلګښتونواوتمويلولوپه باب روښانه اوراڼه رپوټونه شتون نلری. دفيفارپوټونه%+۱۰۰۰ دهغه څه ترمنځه چې يو دمقرراتوسره سم دټولټاکنوخپلواک کميسيون ته خبر ورکړشوی اوبل ريښتونی لګښتونه دی چې دنوماندانودټاکنيزوسياليودتحليل پربنا(بيلبوردونه،تلويزيونی اسپاټونه،غونډی اوداسی نور) ښيې. قانونې چوکاټ معلوماتوته دعمومی لاسرسی لاره هواره کړی ده، خودرپوټونو دنه ورکونی اود روڼتيا دنه شتون له امله نشوکولای چې ددغی معلوماتوسموالی او ناسموالی تثبيت کړو. ددی ټولوسره،دغه دستورالعمل دهغه نوماندانوپه خلاف د ځانګړو بنديزونودرلودونکې ندی کوم چې دخپلوټاکنيزوسياليودمالی لګښتونودښکاره کېدوڅخه ډډه کوي.
دټاکنوقانون په زغرده دټاکنيزوسياليوپه ترڅ کې دعمومی زيرمو(منابعو)څخه ګټه اخيستنه منع کوي اودولسمشرفرمان دامنيه قوماندانانواوولسوالانوپه شمول ټولودولتی لوړپوړوچاواکوته دستورورکوی چې عمومی شتمنی په ټاکنيزوسياليوکې ونه کاروی. اوعمومی مالی وجهی پدی لارکې ونه لګوي. (۳۸ نمبرفرمان دمی دمياشتی۲۰ د ۲۰۰۹ (دغوايي۳۰د ۱۳۸۸ )کال.

### کتونکي(څارونکي)

دټاکنوقانون دټولټاکنو وخپلواک کمیسیون په دی اړبولی چې دټاکنوکتونکي اوڅارونکي په رسمیت وپېژنی اوهغوی ته د پېژندني کارتونه ووېشي ترڅوهغوی وکولای شی چې دټاکنوله بهیرنه کتنه اوڅارنه وکړي اودرونېوالی اصل منځ ته راوړي، دټاکنودقانون ۵۰مه ماده داسی وایي: «کمیسیون ،دڅارونکو،کتونکواودعمومی رسنیوداستازوحقونه اووجیبی مشخصوی اوهغوی ته باورلیکونه(اعتبارنامی) جوړوی او وېشي». دټولټاکنو وخپلواک کمیسیون کتونکو،دګوندونواوخپلواکوکاندیدانواودرسنیوڅارونکوته دباورلیکونو(اعتبارنامو) دوېشلوپه اړه یودستورالعمل صادرکړې دی.همدارنګه دی کمیسیون ددوی دفعالیت اوکړنودسمون لپاره دچال چلنداصول صادرکړی دی.

دی دستورالعمل،یولړځانګړي معیارونه دهغوکسانوپه اړه چې غواړی دڅارونکي،راپورتریاکتونکي په توګه دنده ترسره کړي،ټاکلي دي اوهغوی یې په دی اړګڼلی چې مشخص سندونه وړاندی کړي. دټولټاکنودخپلواک کمیسیون ترواک لاندی داعتبارناموغوښتنی داعتبارنامودجوړونی دبهیر په۱۴ ورځوکې صادرېږی.دغه راز دادستورالعمل دکتونکو،څارونکواورسنیوپه کړنو حاکم دی اوهغوی ته دامسوولیت وربخښی ترڅودچال چلنددلاسلیک شویواصولوپیروی وکړی اودهغی ماتول کېدای شی دباورلیک(اعتبارنامی)دفسخه کېدو اودهغوی دپېژندنی دکارت دلغوه کېدو سبب شی.

له دی نه سیوا ، دستورالعمل اوقانونی چوکاټ هېڅ داسی ځانګړی قانونی شرط له ځانه سره نلری چې دټاکنوله بهیر څخه دکتونکودکتنی مانع شي. له دی سره ،داسی رپوټونه موجود ووچې ټاکنیزوچارواکو کتونکواوڅارونکوته اجازه نده ورکړی چې دټاکنوله ځېنو اړخونوڅخه کتنه ترسره کړي. دفیفاکتونکو په یو موردکې داسی خبرورکړچې هغوی ته اجازه نده ورکړشوی ترڅودرایوپه بیا شمېرنه اودرایودصندوقونوپه قرنطین باندی څارنه وکړي.

***دراييي ورکولوډول***

داساسی قانون ۸۳مه ماده یادونه کوي: « دولسي جرګي غړی دخلکوله خوا دازادو، عمومی،سری اومستقیموټاکنوله لاری ټاکل کیږي». درایي سری والی دټاکنودقانون په ۳مه ماده کي یووار بیایادونه کوي«ټاکنی دازادو،عمومی،سری اومستقیمورایوله لاری ترسره کیږي». له دی نه سیوا،دټاکنودقانون د۴می مادی ۲ فقره دبل چاپرځای دراييي ورکونه منع کړی ده. دغه ماده داسی یادونه کوي :« رای ورکوونکي په ټاکنوکي دیوی راييي حق لري چي پخپله به يي کاروی» دامادہ دبل چاپرځای هرډول رای ورکونه ملغی کوي .

رای ورکوونکي بایدنوم لیکنه وکړي . دټاکنودقانون د۱۵می مادی سره سم ، رای ورکوونکي په دی اړدي چي دنوم لیکنی هغه کارت چي دټولټاکنودخپلواک کمیسیون له خوادنوم لیکنی په دوره کي ورته صادرشوی دی په صندوق کي دراييي اچونی څخه دمخه مسوول کارکوونکي ته وربنکاره کړي اودنوم لیکنی دهمدغی کارت له لاری ددی درای ورکوونی وړتیا ثابتيږي. رای ورکوونکي دټاکنوپه ورځ درای ورکونی ځانګړي محل(نارینه او ښځینه)ته ننوزي، دهغی نوم اودکارت شمیره اخیستل کیږي، دهغی ګوته په نه پاک کیدونکي رنګ رنګيږي اودرایيي مهرشوی پاڼه ورکول کيږي ترڅوپه ډاډه زړه اوسری توګه درای ورکونی په پاڼه کي خپل دخوښي نوماند غوره کړي.

په دی سره ، هغه شان چي وړاندی درای ورکوونکو په اړه وویل شوو ، درای ورکوونکو دعمرمعلومول ګران کار دی،ځکه چي دهيواد اتباع دپيژندنی معیاری کارتونه نلری. همدارنګه،که څه هم دټولټاکنوخپلواک کمیسیون دځينوطرزالعملونواومیکانیزمونو درلودونکي دي اودغه طرزالعملونه اومیکانیزمونه لکه دنوملیکنی کارتونه اونه پاک کیدونکي رنګ دهغه کسانودپيژندنی لپاره دی چي دخپلی رایي له حق څخه يي کاراخیستی دی، خوددغومیکانیزمونوکيفیت اوکارونه د ګڼوپوښتنوسره مخ شوی ده..

ډيری داسی نیمګړتیاوی شتون لری چي دطرزالعملونواغيزمنتوب اوروښوالی ته يي زیان رسولی دی. درای ورکوونکودنوملړنشتوالی اودټاکنیزوحوزولپاره درای ورکونو د ځانګړو محلونونه شتون هغه چاری دی چي بیا بیا رای ورکوونی ته لاره پرانیزی او«په اسانه نه پيژندونکورای ورکوونکو» ته موکه په لاس ورکوی ترڅونوم لیکنه وکړي اورایه وکاروي.

درایودپاڼوساتنه اومصونیت دټاکنودخپلواک کمیسیون مسوولیت دی، دټاکنوخپلواک کمیسیون دنده لری چي درایودپاڼودلاک اومهراوډاډمنی ساتنی لپاره درایودصندوقونوپه شمول حساس توکي مهیاکړي.

پولیس اوامنیتی ځواکونه د رای ورکوونکو،درای ورکونی دمحلونواودرای ورکونی دصندوقونو دامنیت تامینوونکي دی. دپولیسوکارکوونکي درای ورکونی دمحلونو په شا اوخواکي حضورلری،ددغو محلونوڅخه بهرځای په ځای شوی دی اواجازه نلری چي دغومحلونوته دننه شي . له دی سره ، ریپوټ ورکړشوی دی چي په ځينو موردونوکي دپولیسوکارکوونکوپه ټاکنوکي دخپلوکړنو په هکله قواعد تر پښولاندی کړی دی.

***دراىوپه شمېرنه اوچوکاټبندۍ کې روڼتیا***

دټاکنوخپلواک کمیسیون درایودشمېرنی دستورالعمل صادرکړی دي چې دهغی پربناڅارونکي کولای شی درایودشمېرلوچوکاټ بندۍ پرمهال درایودشمېرنې په مرکزونوکې حاضر واوسي. درایوشمېرنه په لاس ترسره کېږي،خو څارونکوته درایودشمېرنی په پایله کې دکاری پاڼودورکولوډول مشخص ندی،قانون دچوکاټبندۍ دکاری پاڼوڅخه ګټه اخیستنه الزامی کړی نده چې څارونکوته امکان په لاس ورکړي ترڅودرای ورکوني دهرمحل پایلی دټاکنووروستیوپایلوته درسیدولپاره دمعلوماتودټولونی دټولوکچوله لاری وڅاری.دغه رازقانون درای ورکوونی دمحل دکچې څخه بیادټاکنودخپلواک کمیسیون ترکچې پوری په چاپی رسنیوکې  دمفصلوپایلونشرول الزامی کړي ندي . په دی حال کې، درای ورکونی دهرمحل پایلی درایودشمېرنی په پای کې درای ورکونی دمحل په دیوال لګول کېږي.

دټاکنودقانون ۵۸مه ماده دټاکنوخپلواک کمیسیون ته واک ورکوي ترڅودټاکنوپایلی پرټاکنیزو شکایتونودغورکولودطرزالعمل دبشپړېدوڅخه وروسته تصدیق،اعلان اوخپری کړي. وروسته بیا هرنوماندته یولیک ورکول کېږي چې په هغی کې هغه دولسي جرګې څوکۍ څرنګه چې په اساسی قانون کې راغلي (یعنی دپنځه کلونو لپاره ) لاس ته راوړی ده. دټاکنوخپلواک کمیسیون اودټاکنیزوشکایتونوکمیسیون کولای شی دشواهدواوشکایتونوپه شتون سره د۵۸می مادی د۱ فقری سره سم درایودبیاشمېرنی دستورصادرکړي:«کمیسیون اویادټاکنیزوشکایتونومرکزی کمیسیون کولای شی په هغه حالاتوکې چې دټاکنو ازادو،عمومی،سری اومستقیمو اصولوته زیان ورسېږي،دپایلو له تصدیق نه مخکې،دشمېرنی په یوه مرکزکې درای ورکونودپاڼوقسمی یا ټولیزی بیاشمېرنی، اویاهم په ټاکنیزی حوزی کې درای ورکونی د بیا ترسره کېدلو دستورصادرکړي» .

***مناقشی اودټاکنیزوحقونوترلاسه کول***

دټاکنوقانون، دټاکنیزوشکایتونو دقضاوت په اړه دیوه واکمن سازمان په توګه دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون دجوړیدو وړاندوینه کړی ده.دی قانون همدارنګه دنوماندانوپه خلاف ضرب الاجل اودشکایتونولړی روښانه کړی ده.دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون ونډه اودندې مخکي تربحث لاندی راغلی، خودولسي جرګي دټاکنوځخه وروسته کړکیچونه،دټاکنیزولانجودپای ته رسولو لپاره دځانګړې محکمی دجوړېدوسبب شوو.دامحکمه چې دولسمشرپه فرمان[2] سره جوړه شوه،دمدنی ټولنی اونړیوالی ټولنی دنیوکو اواندېښنوسره مخ شوه. له کومه ځایه چې په اساسی قانون اودټاکنوپه مقرراتوکې ددغه رازمحکمی په هکله څه ندی راغلی، ددی محکمی جوړیدنه داساسی قانون پر خلاف ګڼل کیږي اوله هغی ځخه دټاکنودخپلواک کمیسیون په چاروکې دلاسوهنی په توګه نیوکه کیږي.

[2] ۵۶۵۹ نمبرفرمان د۲۰۱۰ کال.ددسمبردمیاشتی ۲۶مه نېټه (۵جدی ۱۳۸۹).

**دریمه برخه : د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنو فرصتونه**

***دټاکنیزواصلاحاتوپه هکله داجماع وړ،وړاندیزونو نه پلی کېدل***

دکتونکوډلودنظریووالي اودغه رازدافغانستان دمدنی ټولنی سازمانونواونړیوالوکارپوهانودولسمشری اوولایتی شوراګانودټاکنوڅخه وروسته چې ډېری درغلی پکي وشوی،دپراخوټاکنیزواصلاحاتودرامنځته کېدوملاتړکاوه،دنړیوالی ډیموکراسی‌سازمان چې یوه نړیواله کتونکې ډله ده،دکتونکو توصیې یې د۳۴وړاندیزونوپه یوه ټولیزه(مجموعه) کې چې په افغانستان کې دټاکنیزواصلاحاتوپه هکله وو تالیف کړې[3].

په خواشینی سره بایدووایوچې نړدی هېڅ یوهم له هغې وړاندیزونوڅخه پلې نشو، کوم چې دافغانستان دولت ته د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال له ټاکنو څخه مخکې شوي وو. نړیوالی ټولنی ته په شوو ډېرو وړاندیزونو سترګی پټی شوي. له دی ټولوسره ، هغه شان چې په لاندی څېړنیزچوکاټ کې ښودل شوي ډېری داسی ستونزمنی برخی چې د۲۰۰۹(۱۳۸۸/۱۳۸۷)کال له ټاکنوڅخه وروسته یې بیړنیواصلاحاتوته اړه درلوده، په۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال کې لازیاتی پېچلی شوی،ځکه په چاروکي بانفوذه لاس لرونکوپه داسی موکه کې له ورانوونکو لاروچارو (بی تفاوتی اوشاته تګ) څخه کار واخیست چې په دقیقه توګه دهغی خلاف اړین وو.

[3] دنړیوالی ډیموکراسی سازمان،په افغانستان کې دټاکنیزواصلاحاتوپه هکله دتوحیدوړ وړاندیزونه، اپریل ۲۰۱۰ (حمل/ثور ۱۳۸۹)،http://democracyinternational.com/Afghanistan/wp-content/uploads/۲۰۱۰/04/CONSENSUS-RECOMMENDATIONS-Eng-PDF.pdf.

**۱جدول:۲۰۰۹(۱۳۸۸/۱۳۸۷)کال داجماع وړ وړاندیزونه په۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې دپایلوپه پرتله**

| د۲۰۰۹ (۱۳۸۸/۱۳۸۷)کال داجماع وړ وړاندیز | د۲۰۱۰(۱۳۸۹)کال دټاکنوپه بهیرکې حالت/پایله |
|---|---|
| ۱.دمنفردی لېږدنه منونکې رایېSNTV دکارونی په سیستم بایدبیاکتنه وشي. | هېڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۲.دافغانستان دټولټاکنودترسره کېدوتقویم بایدبدلون ومومی څکه چې دټاکنیزواصلاحاتوکولوته موکه په لاس ورځی اودامکاناتوڅخه ښه ګټه اخیستل کېږي. | هېڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۳. دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون ته باید دبندیزونوپه هکله لازیات واکونه وسپارل شی ترڅوداکمیسیون وکولای شی په هغی کسانوچې دټاکنیزودرغلیوپه کولوګرم ګڼل کېږي بندیزونه ولګوی او پلی یې کړي. | هېڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۴.دټاکنوقانون بایددولایتی شوراګانووندہ(نقش)دپارلمان دسنامجلس په ټاکنوکې روښانه کړي. | هېڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۵.دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون اودټاکنودخپلواک کمیسیون دغړوټاکنه بایدمشورتی وی اوپارلمان اومدنی ټولنی سره دی پری مشوره وشی. | شاته تګ.<br><br>دټاکنوپه قانون کې دهغی بدلونونو سره سم چې دولسمشر دفرمان له مخی په ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې راغلل،دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون ټول غړی په مستقیم ډول دولسمشر له خواټاکل کېږی اودټاکنودخپلواک کمیسیون دغړودټاکنی بهیر<br>ناڅرګند دی. په ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې، دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون اودټاکنودخپلواک کمیسیون ټول غړی دولسمشر له خوادمقننه قوی اودمدنی ټولنی سره دمشوری پرته تعین شوو. |
| ۶.دټاکنوخپلواک کمیسیون بایدددی کمیسیون دکارکوونکودبی طرفی اوبی پرېتوب لپاره ځانګړي دستورالعملونه اوطرزالعملونه وضعه کړي. | شاته تګ.<br><br>دټاکنوخپلواک کمیسیون داسی ادعاوکړه چې په زرګونوکارکوونکې یې چې د۲۰۰۹ (۱۳۸۸/۱۳۸۷) کال دټاکنوپه درغلیوکې ښکېل وو له کاره ګوښه کړي دي، خوددغوکارکوونکونوملړهیڅ وخت هم د ټاکنوپه چاروکې دنورو کارکوونکوسره شریک نه شو. له دی امله، کټونکوته دکمیسیون ددغی ادعا سم والی اوناسموالی ناشونې دي.د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال د ټاکنوپه |

| | |
|---|---|
| | بهيرکې له نوماندانوسره دټاکنودخپلواک کميسيون د ولايتی کارکوونکوداړيکوپه باب تورونه په پراخه کچه وو. اود ټاکنوتعديل شوي قانون دداسې حکمونو درلودونکي نه وو چې په دغسې چاروکې دټاکنودکارکوونکو مخه ونيسي . |
| ۷.دټاکنوخپلواک کميسيون بايد په لازيات رڼوالی سره کړني وکړي اودمدنی ټولنی په ګډون دکارپوهوکارکوونکوسټره دډله راوبولي ترڅوددوی پرعمومی غونډو څارنه وکړي. | هيڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو. دټاکنودخپلواک کميسيون عمومی غونډی دمدنی ټولنی پرمخ تړلی وی. |
| ۸.دټاکنوخپلواک کميسيون بايددکارکوونکودګمارلولپاره يوښه پلان طرح کړي. چې په هغی کې محروم قشرونه، په ځانګړې توګه ښځې وګمارل شي. | هيڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو. دټاکنودخپلواک کميسيون دګمارلو پلان په کافی اندازه دښځينه کارکوونکوپه زياتوالي کې ناکام ؤ.د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال د ټاکنوپه بهيرکې ددی کميسيون په دفترونوکې دښځينه کارکوونکودکموالی په هکله په ټولوولايتونوکې رپوټ ورکړشو. |
| ۹.درای ورکوونی دمحلونونوملړبايد دټاکنودبهيرپه لمړي سرکې وروستنی(نهايي) شي. | هيڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو. درای ورکونی دمحلونونوملړ دټاکنوله ورځی څخه فقط يوه مياشت وړاندی نهايي شواوپه چاروکې دکارپوهانوسره شريک شواودالمړنیعلنی نوملړدجغرافيايي ځانګړنودرلودونکي ؤ. |
| ۱۰.ټاکنيزوسازمانونوته فني مرستي بايد دبيلابيلوميکانيزمونوله لاری ترلاسه شي اوهغه مسووليتونه چې يوتربله تداخل لري نه بايدچې سلاکارانوته وسپارل شي. | بهبود. دټاکنيزوسازمانونوسره په پرتله کې، فني مرستي دبيلابيلوميکانيزمونوله لاری داخلي کتونکوډلوته ترسره شوي اوهغه مسووليتونه چې يوتربله يي تداخل نه درلود سلاکارانوته وسپارل شوو. |
| ۱۱.دښځينه نوماندانوسره دلاډيرو مرستوپه کولواودپراخومدنی ښوونواېتکارونوله لاری بايد دښځوله ګډون څخه ملاتړوشي. | شاته تګ. دټاکنيزوسياليودبسپنی(تمويل)په باب حکمونه چې دولسمشردفرمان له مخی په۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې صادرشوو، له نوماندانوڅخه يي نړيوال ملاتړمنع کاوه، خو دټاکنوخپلواک کميسيون اعلان وکړچې دښځوپه ځيرله محروموډلوڅخه ملاتړمجازدی. په تېروټاکنوکې، نړيوالوبسپنه ورکوونکودښځينه نوماندانولپاره دوړيا رسنيزوتبليغاتو زمينه مساعده کړه. سږکال يوازې له ښځوڅخه دملګروملتونودسازمان دملاتړصندوق(يونيفم) دښځولپاره دوړيا پوسترونوپه شکل دټاکنيزوسياليوپه وروستوکې دتبليغاتوزمينه مساعده کړه. دښځولپاره دټاکنودخپلواک کميسيون دمدنی ښوونی ابتکارونه ناوخته ترسره شوو اوددغی ابتکارونولمنه محدوده وه، |

| | |
|---|---|
| | ځکه ددغې ابتکارونو ترسره کېدل دروژی دمبارکې میاشتی سره په یووخت کې وو. |
| ۱۲.درای ورکوونکودنوملیکنی ټول کارتونه باید دعکس لرونکي وي . | هيڅ ډول ډيام وړبدلون رامنځته نشو.<br><br>دښځولپاره دنوملیکنی کارتونه یو واربیا دهېوادپه ډېروسیموکي دعکسونوپرته ووېشل شوو. اودښځوپه رايوکي دلاسوهنی شونتیا ډېره شوه اوپه دقیقه توګه دجنسیت له پلوه درایوبیلول ناشونی شوو. |
| ۱۳.ملی سرشمېرنه بایدترسره شي. | هيڅ ډول ډيام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۱۴.درای ورکوونکوثبت اونوملیکنه باید په ورځ سره(اپدیت)شي اودرای ورکوونکودبشپړی اودقیقی نوملیکنی لپاره دی ګامونه پورته شي. | هيڅ ډول ډيام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۱۵.دټاکنیزوحوزوحدونه باید وټاکل شي. | هيڅ ډول ډيام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۱۶.دمدنی ښوونی یوپراخ اودایمي پروګرام بایدطرح شي اوزیاته پاملرنه یې باید په زیان منونکوډلواودکلیوالوخلکوپه لوروي. | هيڅ ډول ډيام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۱۷.په ټاکنوکي درسنیووندہ اخیستنه بایدروښانه شي اودعامورسنیوځپلواکي باید رامنځته شي. | هيڅ ډول ډيام وړبدلون رامنځته نشو.<br><br>دافغانستان راډیواوټلوېزیون چې یوه عامه رسنۍ ده، یوځل بیا تری مغرضانه ګټه واخیستل شوه. دفیفا رپوټ ته چې د(۲۰۱۰ (۱۳۸۹کال دولسي جرګي دټاکنوپه لړۍ کي دټاکنیزی سیالی په مالی چاروڅارنه)په نوم دی کتنه وکړئ. |
| ۱۸.نړیواله ټولنه باید په دوامداره توګه دټاکنوپه دوروکـــي دداخـــلي کتونکوسازمانونوځخه ملاتړوکړي. | بهبود.<br><br>فیفـا د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کـال پـه ټاکنودڅـارنی د پـروژی لپاره دالمان اوډنمارک ددولتونوله سخاوته ډکي مرستی لاسته راوړی اودغه راز دملی ډېموکراتیک انستیتیوت مالـــی مـــلاتـــړاوفـــنـــی مـــرستـــه چـــي د( ۲۰۱۰ فـــبـــروری ( دلو/حـــوت ۱۳۸۸) تر ۲۰۱۰ کـال داپریل(حمل/ثور ۱۳۸۹)) دټاکنو ځخه وروسـته ددوی دسـازمانی بیـاکتنی پـه بهیرکـي وشـوه ترلاســه کـړی ده. لــه دی حـــال ســره،دفیفافعالیتونه دډیمــوکراسی پــه ټینګولــوکي دټاکنوپــه دورو کــي پــه اوږدمهاله کي لاتراوسه دمالی پلوه ندی تامین شوې |
| ۱۹.دټاکنوځپلـــــــــــــــواک کمیســـــــــــیون بایـــددطرزالعملونویوه جـــدی تـــولیزه(مجموعـــه) دنوماندانودمشروعیت لپاره طرح کړي. | په شاتګ<br><br>دنوماندانودنوملیکنی نـــــوی شـــــرطـــــونه چي |

| | |
|---|---|
| | دولسمشردفرمان له مخې صادرشوو،نه یواځې دیوشمیرنوماندانودنوملیکنې په مخنیوی کې ناکام وو، بلکه په ناانډوله توګه یې دښځودنوماندیدلومخه ونیوله. دنوماندانو دواکونوپه ځیرلوکي دټاکنودخپلواک کمیسیون دکارکوونکوظرفیت دتیروټاکنوپه پرتله ښه نه شو. |
| ۲۰.نړیواله ټولنه بایدد سیاسی ګوندونوله پروګرامونوڅخه خپل ملاتړزیات کړي. | <u>په شاتګ</u><br><br>په۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې دسیاسی ګوندونوڅخه ملاتړزیات نشو. له دی حال سره،کوم وخت چې دګوندونودنوملیکنی د ضرب العجل په هکله سردرګمی ،قریب دټولوګوندونوپه خپل وخت سره دنوملیکنی په نه کېدلوختمه شوه، نړیوالی ټولنی په مسوولوسازمانونوکي په پوره ډول دخپل نفوذڅخه کاروانخیست چې حالت ښه شي اوسیاسی ګوندونه درایوپانوته لاروموم. |
| ۲۱.دهغی نوماندانودپیژندنی اودواک داخیستلوبهیربایداصلاح شی، کوم چې له ناقانونه ډلوسره اړیکي لري. | <u>په شاتګ</u><br><br>په ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې دولسمشردفرمان له مخی دټاکنوپه قانون کې دبدلونونوله مخی، دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون نه شو کولای چې په مستقیمه توګه دناقانونه وسله والوډلوسره دنوماندانوداړیکوپه هکله دشواهدو غوښتونکي شي اودهغی په ځای دی ته اړوچې دغه شواهد دټاکنوله خپلواک کمیسیون څخه چې دنوماندانودواکونودځیړنی دکمیسیون مشري یې هم په غاړه وه، وغواړي. دهغې نوماندانو د واک ځیړنه چې له ناقانونه وسله والوډلوسره یې اړیکي لرلی روښتیا نه درلوده او تورن نوماندان دقانون دپیراوونودطی کولو څخه محروم پاتی شوو. دغه ناکامی نه یواځې دنوماندانودواکونودځیړنی بهیرته زیان ورساوه بلکې دنوماندانوسیاسی حقوق یې دخطرسره مخ کړل. نړیوالی ټولنی په دی اړه اندیښنی په چپه خوله اوډېرناوخته مطرح کړی. چې دټاکنوپرپایلویې اغیزه نلره. |
| ۲۲.په ټاکنیزوسیالیوکي دعامه زیرمودکارولوپه اړه باید ځانګړی اوراڼه رهنمودونه وضع شي. | <u>هیڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو.</u><br><br>رهنمودونه ګونګ وو اوپه ټول هیوادکي دنوماندانو ددرک کچه له دغی رهنمودونوڅخه محدوده وه. دټاکنیزوسیالیوپه دوره کې دسیاسی موخودترلاسه کولولپاره دعامه زیرموڅخه د ناوړه ګټی اخیستنی رپوټونه پراخه وو. |
| ۲۳.په ټاکنیزوسیالیوکي دنوماندانودمالی زیرموپه هکله | <u>هیڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو.</u> |

| | |
|---|---|
| بـــــايد غوڅنده(قاطع)دستورالعملونه رامنځته شي. | د ټــــــاکنـــــيزوسياليوپـــــــــه دوره کې دنومــــانـــدانــودمـــالی زيــــــرمـــــــوداعلانولوله دستورالعمل څخه په پراخه توګه سترګی پټې شوی اودنوماندانومالی رپوټونه ناتکميله، ناوخته اواغلبا په قصـــــــدی تــــوګه غـــــــولـــــوونکي وو. دزياتومعلوماتولپاره،دفيفـــا رپـــوټ ته چي د(۲۰۱۰ (۱۳۸۹کال *دولسي جرګي دټاکنوپه لړ کي دټاکنيزی سيالی په مالی چاروڅارنه) په نوم دی کتنه وکړئ.* |
| ۲۴. نړيواله ټولنه بايدله ټاکنيزوسازمانونوسره داوږدمهاله ټاکـــنيزی خـــــودکفايۍی(په ځان وېساتوب)دظرفيت دلوړولوپه لارکي دستراتيژی په طرح کولوکي مرسته وکړی. | <u>هيڅ ډول ديام وړبدلون رامنځته نشو.</u> |
| ۲۵.د۲۰۰۹ (۱۳۸۷/۱۳۸۸)کال دټاکنوبهير دتقلب دزمينودټاکلوپه موخه بايد په بشپړډول وڅېړل شي. | <u>هيڅ ډول ديام وړبدلون رامنځته نشو.</u> د۲۰۰۹ (۱۳۸۷/۱۳۸۸)کال دټاکنوپه بهيرکي نه دافغانستان دولت اونه هم نړيوالی ټولنی دتيروتنوپه باب دځپلواکي اوبشپړی څېړنی څخه ملاتړوکړ. |
| ۲۶.دټاکنوخپـــلواک کميسيون دټاکنوپه بهيرکي دټاکنيزوحساسو توکو دامنيت دتامينولوپه مقصد بايدځانګړی اوالزامی طرزالعملونه وضع کړي . | <u>هيڅ ډول ديام وړبدلون رامنځته نشو.</u> دټاکنوخپـــلواک کميسيون دټاکنيزوحساسوتوکودامنيت دتامينولولپاره يولړ هڅی وکړی، خودغه هڅی دومره نه وی چي د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنو په بهيرکي درايودشميرنی اونوروپړاوونوپه تطبيق کي دلس هاووهغوصندوقونودحالت اوموقعيت په هکله په ټول هيواد کي دزياتوسردرګميوڅخه چي په دی باب را پيداشوی وی ،مخه ونيسی. |
| ۲۷.دټاکنوخپـــلواک کميسيون درايوشميرنه درای ورکونی دمحلونوپرځای بايددولايت په کـــچه ترسره کړی. | <u>هيڅ ډول ديام وړبدلون رامنځته نشو.</u> |
| ۲۸.دپايلوفورمـــونه دلازياتومعــــلوماتودشاملولوپه مقصـــدبايد بدلــــون ومــــومی. لکه درای ورکوونکونومليرته دداخليدونکوشمير درای ورکونی په هرمحل کي . | <u>هيڅ ډول ديام وړبدلون رامنځته نشو.</u> |
| ۲۹.. دټاکنوخپـــلواک کميسيون بايددرايودڅېړنی ،قرنطين اودرايودباطلولواودمشکوکورايو دصندوقونوپه باب ځانګړی طرزالعملونه | <u>هيڅ ډول ديام وړبدلون رامنځته نشو.</u> |

| | |
|---|---|
| وضع کړي. | |
| ۳۰.. دټاکنيزوشکايتونوکميسيون بايد دتعين شوی وخت څخه دمخه جوړشي اوپه کافی اندازه دمالی نظره تامين شی. | په شاتګ<br>دټاکنيزوشکايتونوکميسيون ناوخته رامنځته شواوپه کافی اندازه تمويل نشو. حتی د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنوداعتراض دپړاوپه بهيرکي، دفيفاکتونوخبرورکړچي دټاکنيزوشکايتونودکميسيون دفترونه کم شميرکارکوونکي لری، بی نظمه دی اوتراوسه ندی پرانيستل شوي. په لويه کچه دښځينه کارکوونکو کموالی له هغه ځايه دښځود محروميت سبب شو کله چي هغوی ونه شوکولای ترڅوخپل شکايتونه وړاندی کړي. |
| ۳۱.دټاکنيزوشکايتونوکميسيون بايديوڅه راڼه (شفاف)بهيرونه دشکايتونوپه هکله دقضاوت اودشکا يتونوبهيرته درسيدوپه هکله دعامو خلکودښوونی لپاره وضع کړی. | هيڅ ډول دپام وړبدلون رامنځته نشو. |
| ۳۲.دټاکنيزوشکايتونوکميسيون بايديوخپلواک اودايمی ټاکنيز سازمان وی. | په شاتګ<br>دولسمشردفرمان په صادريدودټاکنودقانون دبدلونونوسره سم، دټاکنيزوشکايتونودکميسيون ټول غړی په مستقيمه توګه دولسمشرله خواتعين شوواودغه کميسيون يوموقتی سازمان دی چي د ټاکنوله کيدوڅخه لږوخت دمخه رامنځته کيږی اوپرشکايتونوباندی دقضاوت کولوسره دټاکنودپای ته رسيدونه وروسته ړنګيږی. |
| ۳۳.ټاکنيزواکونه بايد ددولت په بيلابيلوکچو کي روښانه شی اواړينه ده چي داساسی قانون سره سم دوروستنی واک لرونکي يوارګان شتون ولری. | په شاتګ<br>دټاکنيزوشکايتونودکميسيون واک، نه د درناوی وړوګرځيد اونه هم روښانه شو اوستری محکمی دولسمشرپه غوښتنه دبايلونکونوماندانودټاکنيزوشکايتونودځيړنی په مقصد،په ټاکنيزولانجوباندی دغورکولوځانګړی محکمه جوړه کړه. ځانګړی محکمی دټاکنودباطلولودواک ادعا وکړه اوددی محکمی دړنګولوڅخه ددولت دډه کولو دټاکنوڅخه وروسته ترنګړی سياسي کړکيچ لانورزوراخيست. |
| ۳۴..ټاکنيزی سرغړونی بايدسخت عواقب ولری اودټاکنوپه هکله په مجرمانه کړنوکي دخيل کسان بايدعدلی اوقضايي نظام ته وروپيژندل شي. | په شاتګ<br>دټاکنودورځی څخه مخکي درغلی مجازات نه شوی اودوروستنيوپايلو له اعلان وروسته دټاکنوځانګړی محکمی دټاکنيزوشکايتونودکميسيون واک ته اودغه رازعادی جزايي محکموته زيان ورساوه. |

**په سياست اوټاکنوکي دافغاني ميرمنو حضور**

دطالبانودرژیم درانسکوریدو له وخته راپدیخوا نړدی یوه لسیزه وړاندی بیا تراوسه،دافغانستان ښځی په خپل هېوادکي دډیموکراسۍ دپلی کېدو دلاری دشوراوزوګ نه ډکي عاملانی وی. هغوی ځانونه ټاکنیزومقامونوته نوماندی کړی، په ټاکنیزوسیالیوکي یې کاروکړاورضاکاری وی، په ټاکنیزوارګانونوکي یې دندی ترسره کړی، عاموخلکوته یې دټاکنوپه اړه ښوونی وکړی اوپرعمومي ټاکنویې څارنه وکړه.لمړنی پارلمان له طالبانو وروسته په ۲۰۰۵ (۱۳۸۴/۱۳۸۳)کال کې پرانیستل شو او۶۸ تنه ښځینه استازی یې لرلی چې۱۹ تنویې په خپلوولایتونوکي ترټولوزیاتی رایې لاس ته راوړی وی. دګوتوپه شمیردغه قانون جوړونکې ښځی اوس دهېواددنفوذلرونکواوددرناوی وړسیاست والوپه کتارکې راځی. هغوی دهیوادپه سیاسی عرصه کي دنوروښځو دورداخلیدولپاره دهڅونی بیلګی دی.

د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنوپه بهیرکي ، دهغوښځوشمېرچې ځانونه یې دولسي جرګي څوکېوته نوماندکړی وو، دولسي جرګي دلمړۍ دوری دښځینه نوماندانوڅخه زیاتی وی. دولسي جرګي مجلس اوس د۶۹ قانون جوړونکوښځودرلودونکي دی چې دولسي جرګي دټولوڅوکېوقریب ۲۸%سلنه جوړوی.

هم داخلی قوانین اوهم نړیوال قوانین په افغانستان کې دښځوپرسیاسی ګډون ټینګارکوي. دافغانستان داسلامی جمهوریت اساسی قانون ۲۲مه ماده داسی وایي:«دافغانستان داتباعوترمنځ هرډول توپیراوامتیازمنع دی» او«دافغانستان اتباع ښځی اونارینه دقانون په وړاندی مساوی حقونه اووجایب لری». دټاکنودقانون ۲۳مه ماده زیاتوی چې په ولسي جرګي کې دښځولپاره لږترلږه بېلی شوی څوکۍ دهېوادموجودو ولایتونودشمېر دوه برابره دی. دښځولپاره بېلی شوی څوکۍ دولسي جرګۍ د۲۴۹څوکېوڅخه۶۸ څوکۍ دی چې دپارلمان دټولوڅوکېو۲۷%سلنه جوړوی.

همدارنګه،افغانستان دنړیوالو معاهداتوچې په هغی کې په سیاسی برخه کې نه توپیرتضمین شوی دی دیوه اړخ په توګه دغی معاهداتوته ژمن دی اودامعاهدات عبارت دی له: دښځوپه وړاندی د هرډول توپیرنه کولوکنوانسیون،دمدنی اوسیاسی حقوقونړیوال میثاق اودبشردحقوقونړیواله اعلامیه.

دافغانستان ښځوپه سیاسی ډګرکي دخپلولاسته راوړنواوددغوقوانینولپاره چې ددوی دبریالیتوب بنسټ ګڼل کېږی،سخته مبارزه کړی ده، خود داسی یوافغانستان دپرمختګ په لورچې په هغی کې ښځی اونارینه په ملی سیاست کي دیوشان فرصتونولرونکي اوسی، ددوامداره ټولنیزوتوپیرونوله امله چې دښځوپه وړاندی ددوی په عمومي ژوندکي کېږی اودغه شان په رسمی سیاستونوکي دافغانستان په ښځواونارینه ووباندی دټاکنود بیلابیلو اغېزو په پام کي دنه نیولوله امله، داچاره دخنډسره مخ شوی.

دنارینه ووپه پرتله، نوی ټاکنیزدستورالعملونه دهغی ښځوپه وړاندی چې د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال په ټاکنوکي دولسي جرګي دڅوکۍ دلاسته راوړولولپاره یې ځانونه نوماندکړی وو، ناانډولیزخنډونه وو. ښځی درای ورکوونکوپه توګه دنوملیکنی، دنوماندانوپه هکله درسمی شکایتونودوړاندی کولو او دټاکنودسیالی ددوری په بهیرکي دقانون دپلی کوونکوارګانونودملاتړ په برخوکي دزیاتوخنډونوسره مخ شوی. مخ په زیاتیدونکووسله والوشخړوهم دښځوګډون تراغېزی لاندی راوړ. دنارینه ووپه پرتله،دښځینه نوماندانوټاکنیزی سیالی په ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کي دډېرې ناامنیوپوری محدودی شوی اویاغیانواوسیمه ییزو واکدارانوښځی وګواښلی اودقانون پلی کوونکوارګانونوپه کمزوری توګه له دغوښځو څخه ملاتړوکړ.

دتاوتریخوالی څخه دډکو اولانجه منوټاکنو پایلی دښځولپاره په بل ډول وی. دوهم پارلمان دمخکېنی پارلمان په پرتله دډېرشمېرښځینه استازودرلودونکي دی، خو ددغوښځینه استازولږشمېر خپلی څوکۍ دښځوله ونډې څخه بېلی ترلاسه کړی دی. درایودبیاشمېرنی په پام کي نیولوسره چې ددی رپوټ ترلیکلوپوری روانی دی، شونی ده چې په ولسي جرګه کي دښځینه استازونومونه اودڅوکېوروستنی شمېربدلون ومومی.

اوس پراخوټاکنيزواصلاحاتو ته بيړنۍ اړتياده ترڅودراتلونکوټاکنوڅخه وړاندی دبی ثباتۍ دزياتيدواودسياسی کړکېچ درامنځته کېدومخه ونيول شی. ددغواصلاحاتودبرياليتوب لپاره، ښځی بايدله شروع نه دکليدی لوبغاړوپه توګه په دی بهيرکې برخه ولری.

کوم وخت چې دټاکنيزواصلاحاتوکاری ډله جوړيږی، بايدپه هيوادکې ترټولوسترو اوډېروفعالودښځوسازمانونوته بلنه ورکړشي چې نه يواځی ددی ډلی په ترکېب کې برخه ولرې،بلکې په رېښتونی توګه دهغوی په تصميم نيونوکې ګډون وکړي. دښځوملی سازمانونه کولای شی چې ټاکنيزوسازمانونوته ارزښتمنی مرستی وړاندی کړی،ځکه دغه سازمانونه په هېوادکې بايد دټاکنوټولواړخونوته دښځودلاسرسی په رامنځته کولوکې کاروکړي.

د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنوپه بهيرکې په پراخ ډول دښځووېرونواوازاراوزورونوته په پام سره،په راتلونکوټاکنوکې دامن راوستلولپاره يوسراسری تګلوری ته اړتياده چې دټاکنيزی سيالۍ ددوری څخه مخکې دټولونوماندانولپاره فردی امنيتی ارزونه پکې شامله وی. ټاکنيزارګانونه اوامنيتی سازمانونه بايد درپوټ په ورکونی ، دټاکنوپه بهيرکې دښځوپه وړاندی دګواښونوپه څېړلو اومجازاتوکې مرسته وکړی.

نړيوال بسپنه ورکوونکې بايدپه خپل وارسره دټاکنوددورېه منځ کې دښځولپاره داوږدمهاله مدنی ښوونو، دښځينه کتونکودظرفيتونودلوړولوله پروژو او ټاکونکوته دښځينه نوماندانودلاسرسۍ دپراختياله ابتکارونوڅخه ملاتړوکړی.

***پرټاکنوڅارنه اوپه ټاکنوکې همغږی***

**دټاکنودچارودکارکوونکوهمغږی**

دټاکنوپه چاروکي دبرلاسه کارکوونکوفعالیتونه دټاکنوله ورځی نه په مخکي میاشتوکي دملګروملتونودسازمان دپراختیادپروګرام دټاکنودپروژی دټاکنودچارودکارکوونکودهمغږی‌دډلی(UNDP/ELECT) له خواهمغږی کېدل. په دغی ډلی کې دیونوما، یونیفم، د UNDP دټاکنوپروژه، دبسپنه ورکوونکوهېوادونودسفارتونو، داروپادااتحادیي، داروپادپولیسو(یوپول)،دکتونکوډلوپه شمول دافغان اونړیوال نادولتی اوپراختیایي سازمانونو، دنړیوالی امنیتی مرستی ځواک(ایساف)، دافغانستان دبشردحقونودکمیسیون اودټاکنیزوشکایتونودکمیسیون استازو ګډون درلود. دی ډلی په هرو دوه اونیوکې یووارد UNDP دټاکنودپروژی په دفترکې غونډه کوله. ددی ډلی غړو سازمانونو په دوره یې ډول دغونډومشری په غاړه درلوده.

همغږی کوونکې ډلی، دچاروکارکوونکي دټاکنودملاتړاواداره کولوپه برخوکې دپرمختګونواوننګونوڅخه خبرول، دچارودکارکوونکودانديښنودمطرح کولولپاره یوه ټولنه وه، بسپنه ورکوونکي یې له مالی کمبودونواودپروګرامونودبیاترسره کېدلوڅخه خبرول اودټاکنودامنیت په باب یې دپوځی، ناپوځی خبرواترولړی مساعدوله.

په چاروکې دبرلاسوکارکوونکوبشپړی کړنی اوفعالیتونه په دغوبرخووویشل شوی: ټاکنیزسازمانونه، څارنه، سیاسی ګوندونه اونوماندان، رسنی، امنیت اومدنی زده کړی.

**په ټاکنـــــوڅـــــــــارنه**

په لمړی قدم کې ، دافغانستان دبشر دحقوقوخپلواک کمیسیون، دازادوټاکنواسیایي شبکې، داسیابنسټ، فیـفـــا، نړیوال جمهوریت غوښتونکي انستیتیوت، دنړیوالی ډیموکراسی سازمان، داروپااتحادیي اوداروپادامنیت اوهمکاری سازمان په ټاکنوڅارنه وکړه اویایې په ټاکنودڅارنی ملاتړوکړ.

دافغانستان دبشر دحقوقوخپلواک کمیسیون له ټاکنوورړاندی دسیاسی حقوقوحالت دخپلوسیمه ییزودفترونوله لاری وڅېړه. ددی کمیسیون غړودبنسټیزوحقوقو اوسیاسی ازادیو کاروونه لکه دتګ اوراتګ ازادی، غونډی اوټولنی، اوبیان دکمیسیون دپوښښ لاندی سیموکې وڅېړلی.

فیفا په۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې دڅارنی ترټولوسترماموریت ترسره کړ، دټولوداخلی اونړیوالوڅارنیزوسازمانونوپه پرتله فیفاخپل زیات شمیرکتونکي دټاکنوپه ورځ ځای پرځای کړل اومالی ملاتړیې دالمان اوډنمارک ددولتونوڅخه اوفنی ملاتړیې دملی ډیموکراتیک انستیتیوت،دټاکنیزونظامونونړیوال بنسټ،داسیابنسټ اودازادوټاکنواسیایي شبکې څخه ترلاسه کړ.

نړیوال جمهوری غوښتونکي انستیتیوت د۱۶۰ څخه زیات داخلی اونړیوال کتونکي دمدنی ټولنی ددوه ایتلافو، دافغانستان دځوانانوملی ټولنیزسازمان اودافغانستان دخویندوحرکت له لاری پرفعالیتونودڅارنی په مقصد دټاکنودورځی نه مخکي اودټاکنودورځي په بهیرکې ځای پرځای کړل . ددی انستیتیوت ټیمونه په ۱۲ ولایتونوکې ځای پرځای شوو اود۱۴۰۰ په حدودوکې درای ورکونی مرکزونه یې ترخپل پوښښ لاندی راوستل.

هغه څه چې دپام وړدی هغه داچې دپخوانیوټاکنوپه پرتله د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال په ټاکنوکې لږشمیرنړیوال څارنیزماموریتونه ترسره شوو. یواځی د نړیوالی ډیموکراسی سازمان اودازادوټاکنواسیایي بنسټ نړیوال څارنیزسترماموریتونه ترسره کړل چې په ټولیزه توګه قریب ۱۰۰ نړیوال څارونکي پکې شامل وو.داروپااتحادیي

اوداروپادامنیت اوهمکاري سازمان دکارپوهانوکوچنۍ ډلی کابل ته راولیږلی ترڅودلویوښارنیزوماموریتونودلیږنی لاری چاری وڅیړي اودټاکنیزواصلاحاتوپه برخه کې دوړاندیزونویوه ټولګه برابره کړي.

***امنيتی چاپيريال***

**مخ په زياتيدونکي ناامنی**

د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دولسي جرګي ټاکنی په ټول افغانستان کې دبيچلی تاوتريخوالی نه په ډک اومخ په زياتيدونکي کړکېچن چاپيريال کې ترسره شوي. له پيل نه ترپايه پوری، دټاکنوبهيرديا‌غی ډلودحملواوډاراچونی، دجاری شويو پوځی عملياتواودواکدارانواوپوځی ډوله ډلودسرغړونوله امله زيانمن شو. په دی برخه کې دی دکتونکواودټاکنوپه چاروکې دنوروکارکوونکوپه وړاندی پرتو ننګونوته نظرواچول شی.

دمارچ په مياشت کې (حوت ۱۳۸۸/حمل ۱۳۸۹)، دنوماندددنوم ليکنی اوپېژندنی ددوری په پيل سره، ديوناما په داخلی سندونوکې دافغانستان نږدی ټولی جنوبی سيمي د«لوړريسک» دسيمو په توګه يادی شوی اودهيوادپه شمالی،غربی اومرکزی برخوکې د«ټيټ ريسک» يوشميرولسوالی دتيرکال په پرتله راکمی شوی.[4]

هغه پراخ پوځی عمليات چې په پسرلی کې په هلمندکې اوپه دوبی اومنی کې په کندهارکې روان وووددی ولايتونوپه مرکزونوکې څه ناڅه د امنيتی حالتو دښه والی سبب شوو. خوپه ليری پرتوولسواليوکې زوروروجګړودپرنامنه چاپيريال رامنځته کړاودنوماندانو،دهغوی دملاتړو، کتونکواودټاکنودکارکوونکوتګ راتګ يې محدودکړ. همدی وخت کې،تاوتريخوالی دهيوادشمالی،شرقی اوغربی سيموته هم لاره وکړه.

دټاکنوددوری په بهيرکې دملکي وګړومرګ ژوبله په حيرانونکې ډول زياته شوه. دملګروملتونودسرمنشی دځانګړی استازی د ۲۰۱۰ کال د سپتمبردمياشتی (سنبله/ميزان ۱۳۸۹) درپوټ په بنا، يونامادوسله والونښتوله امله دملکي وګړود مرګ ژوبلی راپيداشوی ۳۲۶۸ پېښی مستندی کړلی چې هغه دکال له پيل څخه بيادجون دمياشتی(جوزا/سرطان) پوری دافغان ملکي وګړودمرګ ژوبلی ځرګندونه کوي اود۲۰۰۹ (۱۳۸۷/۱۳۸۸)کال دلمړيوشپږومياشتوپه پرتله۳۱%سلنه زياتوالی ښيي.[5] ددی مرګ ژوبلودرامنځته کولو درييمه پرځلورمه برخه پره ياغی ډلوته منسوبېږی.

دغه رازنيمه پوځی ډلوهم په ټول هېوادکې ملکي وګړی دځپلوحملولاندی راوستل اوپه منظمه توګه يې دملکي‌انوپه ډارونه لاس پوری کړ. دقبيلوی نيمه پوځي‌انواودسيمه ييزی دفاع داړوندانوله خوا داخيستنو،جنسی تېري‌يو،اودملکي کسانودقتل اوهمدارنګه دهيوادپه غربی،شمالی اومرکزی برخوکې په پوځی ليکوکې دماشومانودګمارلوپه باب رپوټونه ورکړل شوو. دافغانستان دنادولتی سازمانونودامنيت اداری (ANSO) په ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې په خپل دويم دری مياشتينی رپوټ کې داسی راوړی دی چې په کندز اوتخارکې دسيمه ييزی دفاع اړوندان دسيمی دخلکوڅخه دګټی اخيستنی اودولت داکمالاتوڅخه دغلاپه مقصد ياغی ډلوسره مرسته کوی اوپه همدی ترتيب دپروان په ولايت کې دسيمه ييزی دفاع يوه ډله ددولت پرضدراپورته شوی ده.[6]

په يوشميرولايتونوکې لکه غور، کندهاراوارزګان کې دنيمه پوځی ډلوځواکمنوقومانداناناويواځی دخپلی خوښی نوماندانوته اجازه ورکړه چې په علنی توګه ټاکنيزه مبارزه وکړی اورقيب نوماندان يې په بيلابيلوپلمووځورول. دټاکنيزی سيالی ددوری په بهيرکې حتی په کابل کې دواکدارانو له خواډاراچونه اوتاوتريخوالی ترسره شو.

---

[4] «امنيت افغانستان به وخامت ګرايېد»، ياروسلاو تروفيموف (Yaroslav Trofimov)، وال استريت ژورنال، ۲۷ دسمبر ۲۰۱۰ (۶ جدی ۱۳۸۹)، http://online.wsj.com/Article/SB20001424052970203568004576043842922347526.html

[5] اوضاع در افغانستان و عواقب ان برای صلح و امنيت بين الملل (S/۲۰۱۰/۴۶۳)، سازمان ملل متحد، سپتمبر ۲۰۱۰ (سنبله/ميزان ۱۳۸۹)، http://www.un.org/Docs/journal/asp/ws.asp?m=S/۲۰۱۰/463/.

[6] *ګزارش سه ماهه داده ها: سه ماهه دوم ۲۰۱۰، اداره امنيت سازمان های غيردولتی افغانستان (ANSO)*، جون ۲۰۱۰ (جوزا/سرطان ۱۳۸۹)، http://www.afgnso.org/۲۰۱۰Q/ANSO%20Quarterly%20Data%20Report%20%28Q2%20۲۰۱۰%29.pdf.

دیاغیانواونورووړانکاروډلوله خوا دنادولتی سازمانونودکارکوونکوتښتونو دپسرلی اومنی ترمنځ په شدت سره زیاتوالی ومونداوپه دی سره مرستندویه سازمانونوته پردوی باندی دکاردزمینودتنګیدوله امله اندیښنی راپیداشوی ددی دوری په بهیرکې دنادولتی سازمانونواودرضاکارومرسته رسوونکوکارکوونکووژل کېدل لوړی کچې ته ورسیدل.[7]

دمنی په موسم کې امنیتی رپوټونه په ټول هیوادکې دمخ په زیاتیدونکې ناامنیوڅرګندونه کوی.د سپټمبر(سنبله/میزان)په میاشت کې، دافغانستان دنادولتی سازمانونوادارې رپوټ ورکړچې دیاغیانوحملې د ۲۰۰۹(۱۳۸۷/۱۳۸۸)کال په پرتله59%سلنه زیاتی شوی دی اوخبرداری یې ورکړچې « ځېنی ولایتونه دزیاتوالی دکچې داوسط ددوه برابروشاهددی اودکنترول نه ددغوولایتونودولسوالیوخارجیدل شونی کوی». په شمال کې دامنیتی حالت خرابیدل دهغی ولایتونوپه امنیتی حالت پوری اړه لری چې په تیروخت کې په امن کې وولکه بغلان،بلخ اوفاریاب چې اوس پکې تاوتریخوالی زیات شوی دی چې په دغوولایتونوکې د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال د نهولمړیومیاشتوپه بهیرکې دتاوتریخوالی اوحملو کچه ۱۰۰%سلنه لوړه شوی ده.

داکتوبر(میزان/عقرب)په میاشت کې،یوناما ۱۶ ولسوالۍ چې ډېرې یې په بادغیس، سرپل، بلخ، پروان، بغلان، سمنګان، فاریاب، لغمان او تخارکې دی د« لوړریسک » سیموپه نوملړکې ورزیاتی کړی اودنامنیو کموالی یې یواځې په دوه ولسوالیوکې چې یوه په کندزاوبله یې په هرات کې رپوټ کړه چې دیوناما له نظره په هغوکې دتېروواته میاشتوپه پرتله ښه ؤ.[8]

**دټاکنودورځ امنیتی تیاری(امادګی)**

د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال په ټاکنوکې درای ورکونی دمرکزونودوروستی نوملړداعلانولوڅخه په مخکې میاشتوکې ،دټاکنوخپلواک کمیسیون ،افغان اونړیوالوامنیتی ځواکونودرای ورکونی دهغی مرکزونودنوملړپه جوړونه کې سره همکاری وکړه چې دسپتمبرپه ۱۸ (دسنبلی۲۷)نېټه پرانیستل کېدل اوپه شریکه یې دټاکنودورځی لپاره پروګرامونه طرح کړل.

په لمړی سرکې ، دټولټاکنوخپلواک کمیسیون درای ورکونی دمرکزونونوملړافغان ملی اردو، افغان ملی پولیسو، دملی امنیت عمومی ریاست اوایساف ته ورکړ. امنیتی ارګانونوسایټونه وارزول اودخپلوارزونوپایلی یې دایساف سره شریکې کړی اوپه ګډه یې دهغی ارزونه ترسره کړه. وروسته له هغی نه چې افغان اونړیوالو امنیتی ارګانونوخپل نوملړونه یودبل سره مطابق کړل، دامن لرونکو مرکزونو وروستی نوملړدټولټاکنوخپلواک کمیسیون ته وړاندی شواودغی کمیسیون دغه نوملړدټاکنوله ورځی څخه یوه میاشت وړاندی اعلان کړ. کتونکوسازمانونو، ددی فهرست په نظرکې نیولوسره دخپلوکتونکودځای پرځای کولو اودهغوی دامنیت په هکله خپل پلانونه اوپروګرامونه وروستی(نهایې) کړل.

دټولټاکنوخپلواک کمیسیون دهغی سیمودمرکزونودپرانیستلو لپاره دعمومی فشارونوپه خلاف مقاومت وکړکوم چې ګمان کېده ددی سیمورای ورکوونکي چې ډېری یې دهېوادپه جنوب اوجنوب شرق کې پښتانه مېشته سیمی وې درایو دحق څخه محروم پاتی کېږي. دغی کمیسیون داسی استدلال وکړ چې وروستنی نوملړدبدلون وړندی، ځکه

[7] بر اساس دومین گزارش سه ماهه اداره امنیت سازمان های غیردولتی افغانستان، دست کم ۳۰ کارمند شرکت های توسعه ای خصوصی در حد فاصل میان جنوری (جدی/دلو ۱۳۸۸) و اپریل ۲۰۱۰ (حمل/ثور ۱۳۸۹) کشته شدند و نیویورک تایمز در تاریخ ۱۳ دسمبر (۲۲قوس ۱۳۸۹) گزارش داد که قتل کارمندان سازمان های غیردولتی و امدادرسانان رضاکار از مرز ۱۰۰ نفر در این سال گذشت: http://www.nytimes.com/۲۰۱۰/12/14/world/asia/14afghan.html.

[8] «امنیت در افغانستان رو به وخامت گرایېد».

چې دغه نوملړدهیواددامنیتی حالاتوښکارندوی دی اودټاکنوله ورځی څخه یوه میاشت مخکې دهغی بدلون دکارکوونکوګمارلواودرای ورکونی دمرکزونوسمبالولوته اودغه شان دکتونکوځای پرځای کېدوته زیان رسوی.[9]

په ناامنه ولایتونوکې، افغان امنیتی ځواکونواوایساف دټاکنوکارکوونکي اودټاکنودورځی اکمالات بدرګه کړل. دهېوادپه سهېل کې دایساف سیمه ییزی قوماندانۍ دکتونکولپاره دبیړنیو طبی خدمتونو او استوګن ځایونوبندوبست وکړ.

دټاکنوپه ورځ، امنیتی ځواکونه د کړۍ په ډول درای ورکونی دمرکزونوګردچاپېـره په دری امنیتی کمربندونوکې ځای په ځای شوی وو. افغان ملی پولیس درای ورکونی مرکزونوته څېرمه لمړی کمربند وو اود ۵۰۰۰۰ څخه زیات پولیس دټاکنوپه ورځ درای ورکونی دمرکزونودساتنی لپاره ګمارل شوی وو. افغان ملی اردو ۶۰۰۰۰ ځواکونه په دویم امنیتی کمربندکې ځای په ځای کړی وو. ایساف ددریم امنیتی کمربندمسوولیت په غاړه درلوداودرای ورکونی دناامنه مرکزونوچاپېره یې دچټک غبرګون ځواکونه ځای په ځای کړی وواودافغان امنیتی ځواکونولپاره یې بیړنی ملاتړمنځ ته راوړی وو.

[9] اعلامیه مطبوعاتی کمیسیون مستقل انتخابات: نهایي سازی فهرست مراکز رای دهی انتخابات ولسی جرګه ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)، ۵ سپتمبر ۲۰۱۰ (۱۴ سنبله ۱۳۸۹)،http://www.iec.org.af/pdf/wolesi-pressr/pressr_on_no_changes_pc_list.pdf.

## څلورمه برخه : دټاکنو له ورځي څخه دمخه څارنه

***نوماندی اودنوماندانو نوم لیکنه***

**دنوماندانودنوماندیدو بهیر**

دداوطلبونوماندانو نوماندیدل اوڅېړنه د اپریل د ۲۰ (حمل ۳۱) اود مـی ۴ (ثور ۱۴) نیټوترمنځ موده کې وشوه. داوطلبونوماندانو دولایتونوپه مرکزونوکې دټولټاکنودخپلواک کمیسیون دنوماندانودنوماندۍ مرکزونوته سفر وکړترڅودنوماندپه توگه نوم لیکنه وکړي. اوخپل سندونه دتصدیق لپاره دنوماندانودواک دڅېړنې بهیرته وسپاری.

**څارنه**

فیفا خپل اوږدمهاله کتونکي دټاکنودبهیرپه لمړی پړاوکې د۳۱ ولاتونوپه مرکزونوکې ځای په ځای کړل. کتونکوله ۷۰۰ داوطلبونوماندانوسره چې ۱۱۵تنه یې ښځې وې مرکې وکړی ترڅودنوماندانودنوماندۍ پربهیر اودنوماندانوپه توگه په ټاکنوکې دگډون لپاره دهغوی په وړتیاوودبهرنیوعواملوداغیزوپه هکله ددوی لیدلوری وسنجوی. دپرانیستومنبعودرپوټونوله ترکېب څخه او دداوطلبونوماندانودلمړۍ دستی دویناووڅخه په گټې اخیستنې سره ، کتونکوپه ولایتونوکې دامنیت په کلی حالت څارنه وکړه اودټاکنودبهیراودهغی داړوندانوپه خلاف دځانگړوگواښونوپه باب یې رپوټونه ورکړل.

**دداوطلبونوماندانواندېښنی**

دداوطلبونوماندانوسره دمرکوپه ترڅ کې ، دفیفا کتونکو له مرکه کوونکوڅخه په ټاکنوکې دهغه دبروجدی ننگونوپه باب چې هغوی ورسره مخ دی وپوښتل. ترټولومعمول ځواب داووچې دټاکنوپه قانون کې ځېنې شرطونه په ځانگړی توگه دداوطلبونوماندانوله خوا درای ورکوونکودنوم لیکنې د ۱۰۰۰ کارتونوړاندې کول اودضمانت په توگه دنه استرداد وړد۳۰۰۰۰افغانیوداخیستنې شرطونه دنوماندپه توگه دټاکنوبهیرته دننوتلوپه لارکې ستری ننگونې دي.

ښځینه مرکه کوونکوټینگاردرلودچې مالی ضمانت دښځینه داوطلبونوماندانوپه منځ کې دخاصی اندیښنې وړخبره ده، ځکه هغه میرمنې چې سیاسی ډگرته راننوزي، په ټولیزه توگه دنارینه سیاستوالو سره د مالی زیرموپه لرلوکې یوشان او برابری ندي اودخپلونارینه سیالانوپه پرتله په خپلواکه توگه دپیسوټولولوپاره لږفرصتونه په واک کې لري.

لـه داوطلبونوماندانوڅخـه وغوښـتل شـوترڅودټاکنوپه راتلـونکي پړاوکـې دهغـوی دپرمختـگ پـه لارکـې دپرتوخنډونونوملړوړاندی کړي. ددی پوښتنې پـه اړه، دری ځوابونـه وړانـدی شووچې عبارت وولـه:دناامنۍ لـه وجهی پـه مسافرت کې ستونزی،په همدغـه سیمه کې لـه دوی سره یوځـای دواک ددلالانو نوماندیدل اودټاکنوپه راتلونکوپړاوونوکې له دوی سره دټولټاکنودخپلواک کمیسیون دکارکوونکودمغرضانه چال چلند شونتیا(احتمال).

کلـه چـې داوطلبونومانـدانو دټولټـاکنودخپلواک کمیسـیون دکارکوونکولـه خوادتیروتنوپـه هکلـه خپلـه وېـره څرگندوله،هغوی په ټولیزه توگه دجمهوری ریاست اودولایتی شوراگانود۲۰۰۹ (۱۳۸۷/۱۳۸۸)کال د ټاکنولانجه منوپایلوتـه گوتـه نیولـه اودی لیدلوری تـه یـې اشـاره کولـه چـې د دټولټـاکنوخپلواک کمیسیون پـه نامنصـفانه ډول یوشمیرنوماندان پرنوروجگ وگڼل .

**ناامنی اوډاراچونه (ارعاب)**

دفيفاکتونکوداسی خبرورکړچې دولايتونوپه مرکزونوکې دنوماندانودنوماندئ په مرکزونوکې امنيت دومره ووچې دی بهيرته اجازه ورکړی چې بی له کومی مهمی پېښی څخه پرمخ ولاړشي . حتی په هغه سيموکې چې دناامنئ پېښی رامنځته شوی،دابهير ونه دربده . پدی حال کې، دولايتونودمرکزونوڅخه بهر، حالت ډېرتوپير درلود.

په زياتو ولايتونوکې، داوطلبونوماندانودخپلوولسواليوڅخه دولايتونومرکزونوته په مسافرت کې دناامنئ احساس کاوه اوپه ځانګړی توګه داوطلبونوماندانو دفراه، نيمروز، ارزګان، جوزجان اوپکتيکاپه ولايتونوکې دځمکي دلاری مسافرت له خطره ډک ګاڼه. په دغی ولايتونوکې نوماندانودسرک دغاړی دچاودېدونکوتوکوله پلوه ګواښونه دټاکنوپه بهيرکې دخپل پرمختګ په لارکې خنډ بلل.

مرکه کوونکودغه شان دهغی زورواکو نوماندانوسره دسياليوپه باب خپلی انديښنی څرګندی کړی کوم چې په تيرکې دبشری حقونوپه نقض تورن دی او اوس هم دناقانونه وسله والوډلوسره اړيکي لري اوهغه نوماندان چې دواک ددلالانوترملاتړلاندی دي.

دنوماندانودنوماندئ بهيردغه شان په ډېروسيموکې دډاراچونی له چاپيريال سره يوځای شو، کتوونکو دطالبانودشب ناموپه باب خبرورکړچې په هغوکې دخوست په ۷ ولسواليو، دلوګرپه ۳ ولسواليو اودپکتيکاپه ۳ ولسواليوکې وګړوته په ټاکنوکې دنوماندېدوپه هکله ګواښونه شوی وو.

په لوګرکې، شبنامی يوازې دښځينه نوماندانوپر خلاف وی اوپه هغوکې په ټاکنوکې دميرمنودنوماندېدوپه خلاف ګواښ شوی و،چې دغه نوماندان به دتاوتريخوالی سره مخ شي. دسرک دغاړی هغه ماينونه چې دسرکونوپه غاړوکې دبرکې برک، خـــرخ اوپل علم په ولسواليوکې دنوماندانودنوماندئ په بهيرکې ځای په ځای شوی وو،دداوطلبونوماندانوتګ راتګ ته يې ستونزی راپيداکړی. په پکتيکا اوخوست کې هم شبنامی دطالبانوپه لاسليک سره وی اوپه هغوکې دټاکنونوماندان په تاوتريخوالی ګواښل شوی وو، خوپه خاص ډول دښځينه نوماندانوپه خلاف نه وی.

**ښځينه داوطلبی نوماندانی**

ښځودنوماندانودنوماندېدوپه بهيرکې دهېوادپه ټولو ۳۴ ولايتونوکې مخ په وړاندی ګامونه کېښودل اوپه ټوليزه توګه دښځينه داوطلبونوماندانو شميرد ۲۰۰۵ (۱۳۸۴/۱۳۸۳)کال د ۳۳۵ تنوڅخه په۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې ۴۱۳تنوته لوړشو،چې دټولوداوطلبو نوماندانودشمير څه کم ځلورمه برخه جوړوی. [10] اتلس ولايتونه دښځينه داوطلبونوماندانودشميردلوړوالی شاهدان وو. ديارلس ولايتونه ددی شمير دکموالی شاهد وو اوپه دری ولايتونوکې په دی شمېرکې هېڅ ډول بدلون رامنځته نشو. کابل دښځينه نوماندانودشميرپه زياتوالی کې ترټولوولايتونومخکې وو،په ۲۰۰۵ (۱۳۸۴/۱۳۸۳)کال کې ښځينه نوماندانی يواځی ۵۰ تنه وی چې داشميرپه ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې ۱۰۵ تنوته لوړشو. برياوی اوناکامئ په ټولوولايتونوکې يوشان وی. [11]

[10] ارقام سال ۲۰۰۵ (۱۳۸۴/۱۳۸۳) به دست امده از دفتر مشترک تنظيم انتخابات، ارقام سال ۲۰۱۰ (۱۳۸۹) به دست امده از کميسيون مستقل انتخابات.
[11] به جدول ۱، صفحه ۱۲ نګاه کنيد.

هغه څه چې دکتنی وړدی داچې ددغی ښځینه داوطلبونوماندانوشمیرپه ځوډېروناامنه ولایتونوکې چې هلمند،کندهار،میدان وردګ،ارزګان اونورستان هم پکې شامل دي یالږڅه زیاتوالی وموند اویاهم په هماغه حال پاتی شو اودغی شمیرپه څه ناڅه امن لرونکوولایتونو لکه پنجشیر، بلخ اوبامیان کې کموالی وموند. له دی حال سره، دفیفاسره مرکه کوونکو ښځینه داوطلبو نوماندانودټاکنوپه بهیرکې ناامنی دیوی ستری اندېښنی په توګه یاده کړه.

هغه بدلونونه چې دولسمشردفرمان له مخې د ۲۰۱۰کال دمارچ په میاشت (حوت ۱۳۸۸/حمل ۱۳۸۹)کې دټاکنوپه قانون کې رامنځته شوو،دښځینه نوماندانولپاره یوبل خنډ وو. مرکه کوونکوفیفا ته وویل، چې دجنسیت په پام کې دنه نیولوسره دنوماندانودنوم لیکنی په وخت کې د۳۰۰۰۰افغانیو(تقریبا۷۰۰ امریکایې ډالره) دمالی ضمانت نه مستردیدونکې شرط دښځوپه وړاندی توپیرګڼل کېږي، ځکه هغه ښځی چې سیاسی ډګرته رانںوزي، په ټولیزه توګه دنارینه سیاستوالو سره د مالی زیرموپه لرلوکې یوشان او برابری ندي اودخپلونارینه سیالانوپه پرتله په خپلواکه توګه دپیسوپه ټولولوکې دزیاتوننګونوسره مخ دی. دغه اندېښنه دافغانستان په اړه اساس لری، ځکه چې په دی برخه کې ښځی نشی کولای چې په اسانه دټاکنیزی سیالی دمحفلونودجوړونی اودرای ورکوونکوسره دغونډولګښتونه لاس ته راوړی اوډېرخلک ښځوته اجازه نه ورکوی چې په عامومحضرونوکې حاضری شي اودګډو اومختلطوحضاروسره دټاکنیزی سیالی دپیسودراټولولوپه چاروکې بوختی شي.

**۲جدول:۲۰۰۵ (۱۳۸۳/۱۳۸۴)کال او ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دپارلمانی ټاکنوپه بهیرکي دښځینه نوماندانوشمېردولایت له پلوه.**

| شمېره | ولایت | د۲۰۰۵ (۱۳۸۳/۱۳۸۴)کال دولسي جرګي په ټاکنوکي دښځینه داوطلبونوماندانو شمېر | د ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دولسي جرګي په ټاکنوکي دښځینه داوطلبونوماندانو شمېر | دښځینه داوطلبونوماندانوپه شمیرکي خالص بدلون |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | بدخشان | ۹ | ۱۷ | +۸ |
| ۲ | بادغیس | ۵ | ۴ | -۱ |
| ۳ | بغلان | ۱۴ | ۱۲ | -۲ |
| ۴ | بلخ | ۱۶ | ۱۴ | -۲ |
| ۵ | بامیان | ۷ | ۶ | -۱ |
| ۶ | دایکندی | ۵ | ۶ | +۱ |
| ۷ | فراه | ۳ | ۵ | +۲ |
| ۸ | فاریاب | ۱۰ | ۱۰ | ۰ |
| ۹ | غزنی | ۱۲ | ۱۳ | +۱ |
| ۱۰ | غور | ۸ | ۱۲ | +۴ |
| ۱۱ | هلمند | ۶ | ۷ | +۱ |
| ۱۲ | هرات | ۱۸ | ۲۴ | +۶ |
| ۱۳ | جوزجان | ۸ | ۶ | -۲ |
| ۱۴ | کابل | ۵۰ | ۱۰۵ | +۵۵ |
| ۱۵ | قندهار | ۱۱ | ۱۲ | +۱ |
| ۱۶ | کاپیسا | ۶ | ۱۲ | +۶ |
| ۱۷ | خوست | ۱۰ | ۵ | -۵ |
| ۱۸ | کنر | ۸ | ۲ | -۶ |
| ۱۹ | کندز | ۱۵ | ۱۲ | -۳ |
| ۲۰ | لغمان | ۸ | ۷ | -۱ |
| ۲۱ | لوګر | ۱۱ | ۸ | -۳ |
| ۲۲ | میدان وردک | ۹ | ۹ | ۰ |
| ۲۳ | ننګرهار | ۱۸ | ۲۴ | +۶ |
| ۲۴ | نیمروز | ۴ | ۳ | -۱ |
| ۲۵ | نورستان | ۶ | ۷ | +۱ |
| ۲۶ | پکتیکا | ۴ | ۵ | +۱ |
| ۲۷ | پکتیا | ۵ | ۵ | ۰ |
| ۲۸ | پنجشیر | ۴ | ۲ | -۲ |
| ۲۹ | پروان | ۸ | ۱۱ | +۳ |
| ۳۰ | سمنګان | ۵ | ۷ | +۲ |
| ۳۱ | سرپل | ۷ | ۱۲ | +۵ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | تخار | ۱۳ | ۱۱ | ۲- |
| ۳۳ | ارزګان | ۲ | ۳ | +۱ |
| ۳۴ | زابل | ۳ | ۷ | +4 |
| ۳۵ | دکوچېانوله منځه ښځینه داوطلب نوماندان | ۷ | ۸ | +۱ |
| | (ټول) مجموع | ۳۳۵ | ۴۱۳ | +۷۸ |

دټولټاکنودخپلواک کمیسیون دنوماندانودنوماندیدوپه مرکزونوکې کارکوونکې اوتوکې

که څه هم دټولټاکنودخپلواک کمیسیون دنوماندانودنوماندیدوپه مرکزونوکې دټاکنیزوتوکواکمالات دفیفاترڅارنی لاندی په ۳۱ ولایتونوکې دنوماندانودنوماندیدوددوری په بهیرکې په ټولیزه توګه بسیا وو، خوکتونکودکارکوونکودکموالی په اړه خبرورکړ. دښځینه کارکوونکوکموالی دفیفاترپوښښ لاندی په ټولو ۳۱ مرکزونوکې خبرورکړشو. داچاره داداری تاخیراتو موجب شوه اودښځینه نوماندانودخواشینی سبب هم وګرځېده. دنوماندانودنوملیکنی په بهیرکې دښځینه عکس اخیستونکوپراخ کموالی دکتونکولپاره داندیښنی وړ وو.

**_دسیاسی ګوندونو نوم لیکنه (ثبت)_**

دسیاسی ګوندونوپه ثبت اونوم لیکنه کې نقیصه چې درایوپه پاټوکې دګوندونود نه حضورلامل شوه،د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنودبهیرد لمړنیوناکامیوڅخه وه. هغه ګوندونه چې دعدلیي دوزارت له خوا ثبت اونوم لیکنه یې کېده،دټاکنوپه اړه کم ارزښته وبلل شوو اودګوندونودثبت دسندونودوړاندی کولوپه باب چې کوم ضرب الاجل ټاکل شوی و،په پراخ ډول غوړونوته ونه رسول شو. په پایله کې، یواځی یوګوند دمارچ د۸(۱۷دحوت) درسمي ضرب الاجل له مخی ثبت اونوم لیکنه یې وشوه. دعدلیي وزارت بیا وروسته دګوندونودثبت دوره دجون دمیاشتی تر۵(دجوزا۱۵)پوری وغزوله. له دی سره،دعدلیي وزارت ددی غزونې اوتمدیدولوپه باب ګوندونه په پوره اندازه خبرنکړل. په ټولیزه کې یواځي پنځه ګوندونه ددوهم ضرب الاجل له مخی ثبت اوراجسترشوو.

دګوندونواوکاندیدانوفرعی ډلی اودټاکنودچارودکارکوونکودهمغږی د ډلی دجون دمیاشتی د ۱ (جوزا ۱۱)نیټی په غونډه کې ،دټاکنودخپلواک کمیسیون استازوژمنه وکړه چې دعدلیي دوزارت سره به ددی مشکل په حل کې کاروکړی اودګوندونودثبت اوراجستر لپاره به نوروخت ورکړل شي. دناڅرګندودلیلونوله مخي، داکارهیڅکله هم ترسره نشو. دهغوپنځوګوندونوپرته چې ددوهم ضرب الاجل له مخی ثبت شوو، دنوروګوندونواستازی د۳۱ګوندونوداړوندواستازوپه شمول چې دټاکنوپه لمړنی نوملړکې یې رسمی نوماندان درلودل، درایودپاڼو په نوملړکې دخپلواکونوماندانوپه توګه شامل شوو.

***دنوماندانوداعتراض دوره***

**داعتراض بهير**

دافغانستان د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دولسي جرګي دټاکنوداعتراض دوره د می دمياشتی د۴ (دثور۱۴)نيټی اودجون دمياشتی د۲۳(دسرطان۲) نيټی ترمنځ موده کې ترسره شوه.[12] دټاکنودبهيرددی پړاوپه لړکې،افرادو اوسازمانونوپه لمړني نوم لړکي په شرطونودنوماندانودبرابروالی په اړه دټاکنيزوشکايتونوکميسيون او دشکايتونودکميسيون ولايتی دفترونوته په ليکلی بڼه دشکايتونودوړاندی کولو له لاری اعتراضونه وکړل. دټاکنيزوشکايتونوکميسيون وروسته بيا په دی اړه چې دغه اعتراضونه ټاکنيزی سرغړونی بلل کېږی اوکه نه، خپل تصميمونه ونيول.

**څـــــــارنـــــه**

دفيفا کتونکوداعتراض د دوری په لړکې په۳۱ولايتونوکې دټاکنيزوشکايتونودولايتی دفترونوڅخه ددی کميسيونونودکارکوونکودحالت اوداچې دغی کميسيونونوته لاسرسی شونی دی اوکه نه،دارزونی په مقصد ليدنه وکړه. دغه رازدازادومنبعودرپوټونوديوترکېب اوله داوطلبونوماندانو، دټاکنودکارکوونکواوعاموخلکوسره دمرکوڅخه په ګټی اخيستنی سره دفيفاکتونکوپه ولايتونوکې دامنيت پرعمومی حالت څارنه وکړه اودهغی خاصوګواښونوپه باب چې دټاکنودبهيراوپه هغی پوری داړوندانوپه خلاف يې شتون درلود خبرورکړ. دفيفا پروګرام جوړوونکوکارکوونکوداعتراض ددوری په پای کې له کتونکوڅخه ليکلی رپوټونه راټول کړل اووروسته يې بيادتيلفون اوبريښنايي پست له لاری په ژوره توګه پوښتنليکونه ترسره کړل.

دتيلفونی مرکوپه بهيرکې، دفيفاله کتونکو څخه وغوښتل شوچې دخپلودندو په وړاندی دخنډونوپه باب څرګندونی وکړي. په معمول ډول ويل شوی ځوابونه دلېږدرالېږد دوسايلونشتوالی اوورځ تربلی ناامنۍ څخه عبارت وو. د۳۱ تنو کتونکوڅخه دوه ويشتو کتونکووويل چې هغوی سيموته په مسافرت کې له ستونزوسره مخ دي(۱۳تنه دامنيتی دليلونوله امله). اته تنوکتونکوناامنی داسی يوخنډوباله چې ددوی دڅارنی په وړتياوويې ډېره منفی اغېزه کړی ده. داړيکودټينګولوکمزورې زيرمی، دمرکوپه ترسره کولوکې دنوماندانواودشکايتونودکميسيون دولايتی کارکوونکوبی علاقه ګی اودټاکنيزوشکايتونودولايتی کميسيونونوبی نظمی اوناوخته پرانيستنه دکتونکو دنورو ستونزوڅخه وي. وروستۍ پايله داشوه چې داعتراض په دوری باندی دفيفا څارنه په داسی شان سره وه چې يوشميرکتونکووکولای شوترڅودخپلوولايتونودشکايتونودکميسيونونوڅخه له لسوځلوڅخه زياته کتنه وکړي اونورکتونکي وتوانيدل چې يواځی يوځلی له دی کميسيونونوڅخه په خپلوولايتونوکې ليدنه وکړي.

**امنيـــتی چاپيـــريال**

ناامنۍ اودتاوتريخوالی ګواښونوداعتراض دپړاوپه بهيرکې د وېری اوډار يوچاپېريال رامنځته کړ. اودهېواد په غربی، جنوبی، جنوب شرقی، اوځېنو شمالی برخوکې دفيفا دکارکوونکو دپيچلی څارنی لامل شو.

په بادغيس، فراه، هلمند، ننګرهاراوپکتياکې دټاکنوپه بهيرپوری داړوندوکسانوپه خلاف دحملوپه باب دکتونکوله خوا رپوټونه ورکول شوو. دغه حملی چې سياسی انګېزی يې لرلی اويوشميريې مرګونی وی، فزيکې يرغلونه، ځان مرګی حملی اودنوماندانواودټاکنو دکارکوونکوپه خلاف بمی چاودنی په کې شاملی وی.

---

[12] بررسی صلاحيت کانديدان برای مدت نامعلومی بعد از ختم دوره اعتراض ادامه يافت.

دهېوادپه جنوب، جنوب شرق اوځېنوشمالی اوغربی سیموکې دیاغیانوله خوا په پراخ ډول مخ په زیاتیدونکې ډاراچونه ولیدل شوه. په ۹ ولایتونوکې له ګوابنونوځخه د ډکو شبنامو اوتیلفونی اړیکوپه باب خبرورکړشوچې په هغی کې عام خلک،دټاکنوکارکوونکي،نوماندان، ددولت کارکوونکي اودافغانستان امنیتی ځواکونه په نښه شوي وو.

دفیفا کتونکوپه ۱۲ ولایتونو- بغلان، بادغیس، فراه، هلمند، کاپیسا، خوست، کنړ، لغمان، لوګر، نورستان، پکتیا اوپکتیکا کې په خاصه توګه یادونه وکړه چې دوی داوېره لری چې دطالبانودحملوموخه به وګرځي . په خوست کې یوتن کتونکې وویل :هغه ډارلری چې طالبان به په هغه باندی دټاکنودکارکوونکي ګمان وکړي اودهغی په کوربه بمی برید وکړي. نوروکتونکو په خاص ډول له طالبانو یادونه ونکړه، خوپه ټولېزه توګه یې دیاغیانو دتاوتریخوالی څخه وېره څرګنده کړه. په داسی حال کې، یواځی یوتن ښځینه کتونکي دامنیتی اندېښنوله کبله له خپلی دندی استعفا وکړه .

**۳جدول:داعتراض د دورې په بهير کې دفيفادکتونکوله خوا رپوټ شوی له ګواښونوډکې شبنامې اوتيلفونی اړيکې**

| شميره | ولايت | دګواښ وسيلې | سيمی/ولسوالی | موخه | پيغام | دمسووليت مدعی |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بادغيس | شب نامی | بالا مرغاب، غورماچ، مقر، جاوند | نوماندان اودټاکنوکارکوونکې | دتاوتريخوالی ګواښنه | طالبان |
| ۲ | فراه | شب نامی | پشت رود | عام وګړی | دشپی د۱۱ څخه دسهارتر ۴ پوری سفرمکوی | طالبان |
| ۳ | غزنی | شب نامی | دولايت مرکز ، قره باغ، اندر، ګيرو | عام وګړی | دټاکنوپه بهيرکې ګډون مکوئ | طالبان |
| ۴ | غور | شب نامی | پسابند | عام وګړی | دټاکنوپه بهيرکې ګډون مکوئ | طالبان |
| ۵ | جوزجان | شب نامی | قوش تپه، درزاب | ددولت امنيتی ځواکونه | دتاوتريخوالی ګواښنه | طالبان |
| ۶ | خوست | شب نامی | يعقوبی، شمل، صبری، علی شير، لکن، باک | نوماندان اودټاکنوکارکوونکې | دتاوتريخوالی ګواښنه | طالبان، حزب اسلامی (ګلبدين حکمتيار) |
| ۷ | ميدان وردک | شب نامی | دولايت مرکز ، چک، سيداباد، نرخ | ددولت کارکوونکې | نامعلوم | ناخرګند |
| ۸ | پکتيکا | شب نامی | يوسف خيل، متا خان، يحيي خيل، سرحوضه | ددولت کارکوونکې | دتاوتريخوالی ګواښنه | طالبان |
| ۹ | سرپل[13] | شب نامی | دولايت مرکز ، صياد | دمکتب نجونی | مکتب ته مه ځی، دتاوتريخوالی ګواښنه | ناخرګند |
| ۱۰ | زابل | تيلفونی اړيکې | ناخرګند | ددولت کارکوونکې | دټاکنوپه بهيرکې ګډون مکوئ | طالبان |

[13] در تاريخ ۲۳جون (۲ سرطان)، شاګردان دختر و معلمان يک مکتب در سرپل در اثر مسموميت مشکوک مريض شدند. نګاه کنيد به: «يک مسموميت مشکوک ديګر در مکاتب دخترانه در افغانستان»، سی.ان.ان.، ۲۴ جون ۲۰۱۰ (۳ سرطان ۱۳۸۹)، http://edition.cnn.com/۲۰۱۰/WORLD/asiapcf/06/24/Afghanistan.poisoning/index.html?fbid=p4HPFIRZjzl.

**دټاکنیزوشکایتونوولایتی کمیسیونونه**

دټاکنیزوشکایتونودولایتی کمیسیونونودپرانیستنی نیټی اوددغی کمیسیونونودکارکوونکودځوابوینی کچې دفیفا ترڅارنی لاندی په ۳۱ ولایتونوکې دپام وړتوپیردرلود. کتونکوپه څوولایتونوکې خبرورکړچې دغه کمیسیونونه داعتراض ترپړاو پوری نه وو پرانیستل شوی. دبیلګی په توګه، دفیفاکتونکې دوردګوپه ولایت کې خبر ورکړچې ددغی ولایت دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون دجون دمیاشتی تر۱۰(دجوزا۲۰)نیټی پوری په خپل کارپیل ونکړ. په نورستان،پروان اوبامیان کې هم دټاکنیزوشکایتونودولایتی کمیسیونونودناوخته پرانیستنی په باب رپوټونه ورکړل شوو.

په نوروولایتونوکې، کتونکو دټاکنیزوشکایتونودولایتی کمیسیونونو دنامنظموکاری ساعتونواوپه عمومی ډول له بی نظمیوڅخه سرټکاوه.

**داعتراض په پړاوکې دښځوګډون**

دټاکنیزوشکایتونوپه ولایتی کمیسیونونوکې په پراخه کچه دښځینه کارکوونکودکموالی په اړه دکتونکوله لوری خبرورکړشواوپه مطلق اکثریت سره په ۳۱کمیسیونونوکې چې دفیفاترڅارنی لاندی وو،یواځی یوه ښځینه کارکوونکې یې هم نه درلوده. دښځینه کارکوونکودغی کموالی په هغه سیموکې چې ټولنیزدودونه دنامحرمه نارینه ووسره دښځویوځای ګډون محدودوی اویایې منع کوی ښځی دشکایتونوپه وړاندی کولوکې ناخوښه کړی. ددی پړاوپه بهیرکې دسیاسی انګیزوله مخی په لوړه کچه دښځوپه خلاف ازاراوځورونی ته په پام سره ،فیفاپه ټول هېوادکې داعتراض پړاوته دښځو دلاسرسی په برخه کې دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون په ناتوانۍ خپله ژوره خواشینی څرګندوی.

**دجرمونواودبشری حقونودنقضولوپه باب شکایتونه**

دټاکنودقانون سره سم، یواځی دجنګی جرمونواویاهم دډېروجدی جرمونو له کبله کولای شوچې نوماندان بی واکه(ردصلاحیت)کړو اوداپه هغی وخت کې کېږي چې هغوی لمړی دمحکموله خوا محکوم وپیژندل شی ددی شرط دپوره کېدوشونتیا دهیواد ددی کمزوری قضایي نظام په رڼاکې په ډېره ټیټه کچه کې ده. په داسی حال کې، فیفا دجدی جرمونودتورونوپه باب اودبشری حقونوڅخه دنقض رپوټونه اوشکایتونه دمخکې‌نیودری ټولټاکنو په څېرد۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال دټاکنوداعتراض په بهیرکې له ټول هیوادڅخه ترلاسه کړل.

دنوماندانوپه خلاف دبغلان، بلخ، دایکندی، غور، هرات، جوزجان، کونړ، ننګرهار، سرپل اوزابل په ولایتونوکې دځمکودغیرقانونی غصب په اړه شکایتونه وړاندی شوو. دبلخ،بامیان،دایکندی،غور، هرات،خوست،ننګرهاراوسرپل له ولایتونوڅخه داسی رپوټونه اوشکایتونه چې په هغوکې دقتل تورونه اوجنګی جرایم شامل وودکتونکوڅخه ترلاسه شوو.

کتونکوخبرورکړچې په ځېنوولایتونوکې خلک دزورمندونوماندانوپه خلاف چې په بشری حقونوپه تیریوتورن هم دی،دشکایت کولوڅخه وېره لري. احتمالی شکایت کوونکودغورپه ولایت کې دفیفاکتونکوته خپلی اندیښنی څرګندی کړې اوهغه داچې که چېری دوی دسیمه ییزوقوماندانانوڅخه دیوفلم په هکله چې په۲۰۱۰ (دلو/حوت ۱۳۸۸)کال کې اخیستل شوی اوپه هغی کې دیوی تنکۍ پیغلی دوهلوټکولو صحنی ښودل شوی، شکایت وکړي نو دټاکنیزوشکایتونوولایتی کمیسیون به ددوی نومونه افشاکړی. دغه راز، احتمالی شکایت کوونکودفراه په ولایت کې

وويل چې دوی غوښتل ترڅو دڅوتنو نوماندانو دنوماندۍ په باب چې په تيرکې په ډله ييزو وژنوتورن دی،اعتراض وکړي  خونشی کولای چې په پوره مصونيت اومحرميت سره دارنګه اعتراض وړاندی کړي.

سمنګان په ولايت کې احتمالی شکايت کوونکوچې څونوماندان پکې شامل وو، کتونکوته وويل چې هغوی غوښتل ديوځواکمن لوړپوړی چارواکې په خلاف شکايتونه وړاندی کړي، خو هغوی په دی کارکې پښه نيولی شو، ځکه هغه نوماند دوسله والوکسانوله خوابدرګه کېږی.

**دټاکنيزوسرغړونوپه پايله کې بی واکه کول( رد صلاحيت)**

دوه سوه اوشپږويشت تنه نوماندان ددوی په سندونوکې دنيمګړتياووله امله په ځانګړی توګه دنيمګړوملاتړپڼزو نوملړونو له امله دنوماندانودلمړنی نوملړڅخه ليری کړای شوو. دغی نوماندانو ۲۹۶ شکايتونه دټاکنيزوشکايتونوکميسيون ته وړاندی کړل . په سندونوکې دنيمګړتياوودليری کولو په مقصد دی نوماندانوته دچانس ورکولوڅخه وروسته ، دټاکنيزوشکايتونوکميسيون دټاکنوله خپلواک کميسيون څخه غوښتنه وکړه ترڅوددوی د۱۹۵ تنو نومونه دنوماندانوپه لمړنی نوملړکې ورزيات کړي. اوه تنه نوماندان دخپلورسمي څوکېوڅخه داستعفا دنه کولو له امله او يو تن نوماند په جعلی هويت سره دنوم ليکنی له امله بی واکه کړای شوو.

***دنوماندانودواک ځېړل***

**دواک دڅېړلوبهیر**

داعتراض دبهیر سره په یووخت کې، دنوماندانو واک دناقانونه وسله والوډلوسره ددوی داړیکوله مخې دنوماندانودواک دڅېړلودکمیسیون له خوا وڅېړل شوچې دټاکنوخپلواک کمیسیون یې مشری کوله او دافغانستان امنیتی ارگانونویعنی دکورنیوچاروو‌زارت، دملی دفاع وزارت اودملی امنیت عمومی ریاست یې غړیتوب درلود. دواک دڅېړلوکمیسیون دناقانونه وسله والوډلوسره دنوماندانو داړیکوپه باب تورونه وڅېړل اودټاکنیزوشکایتونوکمیسیون ته یې دهغی نوماندانونوملړ ورولیږه کوم چې دټاکنودقانون د ۱۲(۷) مادی په بنایې نه شوکولای چې ځانونه ټاکنوته نوماندکړي. دټاکنودقانون ۱۲(۷) ماده داسی بیانوی:«هغه کسان چې دپوځی اونیمه پوځی تشکېلاتو(ناقانونه وسله والی ډلی ) مشری په غاړه ولري اویایې غړی وی، نشی کولای چې دنوماندپه توگه په ټاکنوکې برخه واخلي». هغه نوماندان چې دوسله والوډلوسره د اړیکوپه درلودو وپیژندل شوو، دنوماندانوله نوملړڅخه وایستل شوو.

فیفا دهغه سازمان په توگه چې په افغانستان کې دډیموکراسۍ څخه د ملاتړژمنتیالري، په ټاکنیزومقامونوکې دټوپک سالارانوله حضورڅخه دمدنی ټولنی په اندیښنوکې ځان شریک بولی اودنوماندانودواک دڅېړنی دیوځواکمن اوبی پری بهیرڅخه خوښی څرگندوي. دداسی حال سره، د۲۰۱۰ (۱۳۸۹) کال په ټاکنوکې دناقانونه وسله والوډلوسره داړیکوپه باب دنوماندانودواک څېړل په نامنظمه اوغیرشفاف ډول ترسره شوواوپه پایله کې ددی بهیراغېزمنتوب اواعتبارته زیان واوښت اودنوماندانوسیاسی حقوق ترگواښ لاندی راغلل.

**په ۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال کې دنوماندانودواک په څېړلوکې ناکامی**

دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون په وینا، په ټول هیوادکې دناقانونه وسله والوډلوسره دنوماندانوداړیکوپه باب څه کم 44 فردی شکایتونه داعتراض په پړاوکې دی کمیسیون ته راورسیدل. دټولو44 فردی شکایتونوڅخه،42شکایتونه دواک دڅېړلودکمیسیون له نظره داعتبار وړنه وو او دوه نوماندان چې مخکې یې نومونه د دواک دڅېړلودکمیسیون په نوملړکې شتون درلود، بی واکه (ردصلاحیت) شوو

په پیل کې، ۸۳ تنه نوماندان دواک دڅېړلودکمیسیون له خوادڅېړنی لاندی راغلل اودناقانونه وسله والوډلودغړوپه نوملړکې شامل شوو. دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون تصمیم ونیوچې دغی نوماندانوته پنځه ورځی موکه ورکړی ترڅودخپلی نوماندۍ څخه دفاع وکړي او امنیتی ارگانونوسره خپله بی گناهی ثابته کړي.

کله چې ټولونوماندانودغه شان کارپه بریالیتوب سره ترسره کړ، دواک دڅېړلوکمیسیون «دموقف ددغی بدلون څخه حیرانتیااوناخوښي څرگنده کړه».[14] دملگروملتونودسرمنشی استازي په دی احساس کې شریک وو اودجون په۲۳(دسرطان۲) نیټه یې داسی وویل:« دواک دڅېړلوکمیټی کولای شوچې تردی غوره کارترسره کړي اوپه دی پړاوکې موږمایوسه یو».[15]

په دی اړه دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون دڅرگندونوله مخې، « دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون ټینگاروکړچې دواک دڅېړلوکمیسیون باید خپله قانونی دنده ترسره کړي اوتصمیمونه دی ونیسي. وروسته دټولټاکنوخپلواک کمیسیون

---

[14] اعلامیه مطبوعاتی کمیسیون شکایات انتخاباتی مورخ ۱ جولای ۲۰۱۰ (۱۰ سرطان ۱۳۸۹)، .http://www.ecc.org.af/en/images/stories/pdf/media%20release.pdf

[15] اظهارات نماینده خاص درباره روند بررسی صلاحیت کاندیدان انتخابات، ۲۳ جون ۲۰۱۰ (۲ سرطان ۱۳۸۹)، .http://unama.unmissions.org/Default.aspx?tabid=1762&ctl=Details&mid=1920&ItemID=9347

دواک دڅېړنی له کمیسیون سره لازیاتی غونډی ترسره کړې چي وروسته له هغی یوبل نوملړچي ۱۳ نومونه پکي وو، جوړشو.[16]

دجون دمیاشتی په ۳۰(دسرطان۹) نیټه دچهارشنبی دورځی په ماسپښین، فیفا له هغی نوماندانوڅخه تلیفونی اړیکي ترلاسه کړی چي دعوه یي درلوده چي دټولټاکنوخپلواک کمیسیون هغوی ته خبر ورکړی چي هغوی دناقانونه وسله والوډلوسره په اړیکودتورنوکسانوپه نوی نوملړکي شامل دي اوهغوی ته ۴۸ ساعته وخت ورکول شوی ترڅو دامنیتی ارګانونوسره خپله بی ګناهی په ثبوت ورسوي.

دټاکنودچاورودکارکوونکوپه فوری غونډه کي چي دفیفا نه یوه ورځ وروسته جوړه شوه ، قاضی یوهان کریګلر (Judge Johann Kriegler)دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون څخه داسی یادونه وکړه چي دی کمیسیون دناقانونه وسله والوډلوسره په اړیکودتورنوکسانو دریم نوملړ دواک دڅېړنی د کمیسیون له خواترلاسه کړی دی چي په هغی کي ۱۶ یا ۲۶ نوی نومونه شامل دي چي په مخکيږنیودوه[17] نوملړونوکي يي شتون نه درلود اوهم داچي دغه نوملړدیولیک سره ترلاسه شوی چي پکي راغلی دي چي دغی نوماندانوته دی مخکي له دی چي دنوماندانو دنوملړڅخه ددوی نومونه لیری شي دخپله ځانه ددفاع فرصت ورنه کړای شي.

دقانون دپېراوونودطی کولوپه مقصد، دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون ټینګاروکړچي باید تورنونوماندانوته دی اجازه ورکړل شي ترڅوخپله بی ګناهی ثابته کړي. ۴۸ ساعته ضرب الاجل وروسته له هغی وټاکل شوچي دټولټاکنوخپلواک کمیسیون ټینګاروکړچي بی له دی چي دټاکنوزمانی جدول ته زیان ورسيږي نوماندانوته دا ترټولو زیاته موکه ده چي ورکول کيږي.

دټاکنودچاروواکودغونډی دپای ته رسیدوڅخه وروسته، فیفا دټولټاکنودخپلواک کمیسیون له رییس فضل احمدمعنوی سره تلیفونی اړیکه ونیوله. ښاغلی معنوی وویل چي دواک دڅېړنی کمیسیون مخکي دټولو ۳۲ نوماندانوپه هکله تصمیم نیولی دی. یونوماند برائت حاصل کړاو ۳۱ تنه نوماندان دبلی ورځی دکارپه بهیرکي دنوماندانوله نوملړڅخه وایستل شوو.

دهغی ورځی په مازدیګردټاکنیزوشکایتونوکمیسیون دنوماندانودواک دڅیرنی په بهیرکي ددی کمیسیون درول اوونډی لرلو په باب توضیحات ورکړل. کمیسیون څرګنده کړه چي: « په خواشیني سره بایدووایوچي دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون دواک دڅېړنی کمیسیون لخوا دجوړشوی نوملړپه ردولوکي هیڅ ډول واک نلري، که څه هم دغه نوملړله ګمانونوڅخه ډک ښکاری، خودغی کمیسیون دهرهغه کس دنوم دایستلوڅخه چي له ځانه ددفاع موکه نلری، ډډه کړی ده اویالړترلړه ډډه کوي ».دټاکنیزوشکایتونوکمیسیون به «په ښکاره توګه خوشحاله شي»، که دټولټاکنوخپلواک کمیسیون توافق وکړي چي دغی ۳۲ تنوتورنونوماندانوته دځان څخه ددفاع لپاره لازیات وخت ورکړل شي.

دری ورځی وروسته، دغی دواړوټاکنیزوسازمانونوته یوی نږدی منبعی فیفاته وویل چي دواک دڅېړنی دکمیسیون په دریم نوملړکي ۳۲ نوماندانوته ۳ ورځی نوروخت ورکړشوترڅودخپلی بی ګناهی شواهدوړاندی کړي.

---

[16] در اعلامیه مطبوعاتی مورخ ۱ جولای (۱۰ سرطان) (http://www.ecc.org.af/en/images/stories/pdf/media%20release.pdf)، کمیسیون شکایات انتخاباتی اظهار داشت که فهرست دوم شامل ۱۳ نام می شده است، اما در اعلامیه مطبوعاتی مورخ ۱۹ جون (۲۹ جوزا) (http://www.ecc.org.af/en/images/stories/pdf/media%20release%20190610.pdf)، این کمیسیون ګفت که فهرست دوم تنها دربرګیرنده ۸ نام بوده است. فیفا قادر نشده است تا در این مورد تصریحات به دست اورد.

[17] رقم ۱۶ در جلسه استفاده شد؛ اعلامیه کمیسیون شکایات انتخاباتی مورخ ۱ جولای (۱۰ سرطان) رقم ۲۶ را ارایه می دهد.

دجولای په ۷(دسرطان ۱۶) نېټه، دټاکنيزوشکايتونوکميسيون داعلاميي په صادرولوسره څرگنده کړه چې د۳۱نوماندانودنومونو نوملړ دټولټاکنوخپلواک کميسيون ته ورکړل شوی دی اودنوماندانوله وروستی نوملړڅخه ددغوکسانودنومونودايستلودستورصادرشوی دی.

**بی واکه شويو (ردصلاحيت) نوماندانوسره مرکې**

. دجولای(سرطان/اسد) دمياشتی په لمړۍ اونی کې، دفيفاکتونکو دواک دځېړنی دکميسيون په نوملړکې دشاملو۲۴نوماندانوسره ددوی دليدلورواودنوماندانودواک دځېړنی له بهيرڅخه ددوی دتجربوپه هکله مرکې وکړې. هغه انځورچې له دی مرکوڅخه ښکاره شو، دکمزوری همغږۍ سره ديوبهير ښکارندوی دی چې له قانون څخه يې دلانجه منی کارونی لپاره لاره پرانيستی وه.

په دريم نوملړکې شامل نوماندان په سمه اوسيستماتيکه توگه نه وو خبرشوی اوددوی ددفاعيودوړاندی کولولپاره دوی ته دامنيتی ارگانونوله لاری دپول دپول ضرب الاجلونه ورکړل شوی وو. په نوملړکې شاملويوشميرنوماندانوته ۵ ورځی وخت ورکول شوی وو،چې داهغومره وخت دی چې دواک دځېړنی دکميسيون په مخکېنيونوملړونوکې شاملونوماندانوته ورکړل شوی وو په داسی حال کې چې نورونوماندانوته ۴۸ يا ۷۲ ساعته وخت ورکړل شوی وو.

ددايکندی څخه يونوماندفيفاته وويل چې هغه دضرب الاجل څخه يوازی ۴ ساعته دمخه خبرکړای شوی ووچې دخپلی نوماندۍ څخه په کابل کې دفاع وکړي. څونورنوماندان اصلاله ضرب الاجل څخه خبرنه وو اوياهم دټاکنوخپلواک کميسيون له دوی سره په اړيکه کې شوی نه وو. له سرپل څخه يوبی واکه شوی نوماند هغه وخت په دريم نوملړکې دخپل نوم له شامليدو څخه خبرشوکله يې چې دغه نوملړپه اينټرنيټ کې ليدلی وو. امنيتی ارگانونوته دبيلابيلو نوماندانولاسرسی په بيلابيلو وختونوکې وشو، خو ډېری نوماندانوته يې د ۴۸ساعتوڅخه زيات وخت ونيو.

نوماندانوشکايت وکړچې په دوی باندی دلگول شويو تورونو څخه دوی خبرنه شواودگناهونوڅخه ددوی دبريالی دفاع دپول اوشرطونوپه هکله دوی ته رڼايي وا نه اچول شوه. له دوی څخه يوشميريي فيفاته وويل چې هغوی دوسله والوډلوسره هيڅ رازاړيکي نلری خودخپلوبی گناهيودثبوت دلاروچاروعملی ډول څخه خبرندی. نور نوماندان چې څرگنده وه چې دتيروجگړه مارانوڅخه وو، داسی وويل چې هغوی دبی وسلوکولو، ملکي کولو اودبيا يوځای کولودپروگرام (ډی.ډی.ار) او دناقانونه وسله والوډلودمنحل کولوپروگرام(ډاياک) سره دپوره همکاريوباورليکونه په لاس کې لري، خودواک دځېړنی کميسيون دغه باورليکونه ونه منل.

دواک دځېړنی کميسيون هيڅ وخت هم فيفاته دناقانونه وسله والو ډلوسره دکسانو دپيژندنی دمعيارونواودنوماندانود دفاعيوپه کتنه کې دکاريدنی وړموازينوپه هکله توضيحات ورنکړل.

***دټاکنیزوسیالیو دوره***

**د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال ټاکنیزی سیالی**

د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال ټاکنیزی سیالی د۲۰۰۵ (۱۳۸۳/۱۳۸۴) کال دسیالیوپه پرتله فعالی اوله خطرونوڅخه ډکي وی. دجون دمیاشتی له23(دسرطان 2) نیټی څخه دسپتمبردمیاشتی تر16(دسنبلی25)نیټی پوری، دافغانستان دټولوقشرونو نارینه، ښځی، ځوانان، سپین ږیری، ښاریان، کلیوال اودټولوسیاسی اوعقیدوی تړاوونوپوری اړوندخلک دولسي جرګي د249 څوکیودتر لاسه کولولپاره په ټاکنیزوسیالیوکي سره بوخت شوو..

دښځینه اوځوانونوماندانوشمیر د۲۰۰۵ (۱۳۸۳/۱۳۸۴)کال په پرتله زیاتوالی موندلی وو اودډیرې ټاکنیزی سیالی، درای ورکوونکوسره داړیکودټینګولودارزښت ددرک اوپیژندنی اودخلکودعلاقی د دجلبولوپه مقصد ترسره شوی. رسنی دپخوا په پرتله فعالی اوګرندی وی اوټاکنیزی سیالی اوټاکنیزبهیریي په یووخت کي په لازیات اهلیت اوتخصص سره ترپوښښ لاندی راوسته. دغه تحولات دمخکېنیوټاکنوپه پرتله دریښتونواومثبتوبدلونونوڅرګندوی دی.

دخواشینی ځای دی چي ، دټاکنوپه اړه تاوتریخوالی اوډاراچونی په پراخ ډول دټاکنیزو سیالیوپه پړاوسیوری وغوړاوه یاغیانوپه مستقیمه توګه دټاکنوپه بهیرپوری اړوندملکي کسان په نښه کړل اوپه هغه ولایتونوکي یي خپل بریدونه ګړندی کړل چي مخکي له دی نه په امن کي کوو. نوماندان اوکمپاین کوونکي وګواښل شوو، وځورول شوو، وتښتول شوو، تربریدلاندی راغلل اووژل شوو. یاغی ډلوپه زرګونوشبنامی په ټول هیوادکي په کلیواوښارونوکي خپری کړې اوطالبانو عامی اعلامیي نشرکړې چي په هغوکي دټاکنوپه بهیرپوری داړونده ملکي کسانوپه خلاف دتاوتریخوالی په باب ګواښونه شوی وو اودټاکنو په ورځ د بریدونودترسره کولوپه هکله ددی ډلی نیتونه پکي څرګندشوی وو.

دواک دلالانو چي دپارلمان دڅوکیودلاسته راوړلوپه هڅه کي وو اوغوښتل یي چي خپل پلویان ولسي جرګي ته ولیږی، هم دډارونی اوتاوتریخوالی څخه کاروایخست. ددوی ډیرې دناقانونه وسله والوډلوسره اړیکي لرلی اودخپلوسیالونوماندانودټاکنیزی سیالی دمخنیوی په مقصد اودټولنی دقشرونوپه خاصه توګه دکلیوالوسیموخلک یي دی ته مجبورول چي ددوی پلویانوته رایې ورکړی،ددی مقصدلپاره یي له وسله والوکسانوڅخه کاروایخیست. دنوماندانودواک دڅېړنی دمخکېنی بهیرناکامی دغودواک دلالانوته دانښه وځلوله چي کولای شی دمحکمی څخه په مصئونیت کي خپلو دغوکړنوته دوام ورکړي.

امنیتی ځواکونه دنوماندانودامنیتی اړتیاودمعلومولولپاره دعینی میکانیزمونوپه رامنځته کولوکي پاتی راغلل اوپه ځینونوماردوکي دغی ځواکونو دهغونوماندانواوکمپاین کوونکوله ملاتړڅخه چي دخطرلاندی وو ډډه وکړه. داسی مړینی اوتلفات رامنځته شووچي مخنیوی یي کېدای شو. ډیرې هغه کسان چي په ټاکنوکي دګډون له امله ووژل شوو، په اونیو اونیو وړاندی دمخ په زیاتیدونکو ګواښونوسره مخ شوی وو.

ټاکنیزوسرغړونوته دټاکنیزوارګانونوځواب هم په غوڅه توګه نه وو. په ټول هېوادکي، دفیفاکتونکورپوټونه ورکړل چي دولتی لوړپوړی چارواکي په ناقانونه توګه دیوشمیرځانګړو نوماندانوڅخه ملاتړکوي، نوماندان په ټاکنیزوسیالیوکي له عامه زیرموڅخه ګټه اخلی اودامنیتی ځواکونومنسوبین له ځانګړو نوماندانوڅخه ملاتړکوي. په ډیرې موردونوکي، دټاکنیزوشکایتونوپه ولایتی کمیسیونونوکي دغه سرغړونی په عینی توګه څرګندی وی. کتونکوددی ډول څخه په سلګونوریپوټونه وړاندی کړل، خو دټاکنیزوشکایتونوولایتی کمیسیونونو اودټاکنیزوشکایتونومرکزی کمیسیون یواځی لږشمیرکمزوری نوماندان مجازات کړل اوتصمیم یي ونیو چي ډیرې جدی شکایتونه تعقیب نکړي.

### څـــارنـــه

دتېرودرى ټولټاکنوپه پرتله په دى ټاکنوکې دنړيوالى ټولنى برخى اخيستنى دپام وړکمښت موندلى وو. دملګروملتونوسازمان، داروپااتحاديي اوداروپاامنيت اوهمکارى سازمان تصميم ونيو چې نړيوال کتونکي ونه ګمارى اودڅارنى مسووليت دافغانستان مدنى ټولنى اودګوتوپه شمير په ټاکنودڅارنى اودبشرى حقونومدافع يوشميرنړيوالوډلوته پرېږدي. په لوړه اونړيواله کچه دافغانستان دټاکنوپه اړه په ويناووکې نړيوالومعيارونواودقانون حاکميت ته اشاره کول په ناڅيزه توګه وو.

فيفا په افغانستان کې پرټاکنودڅارنى دترټولو لوى سازمان په توګه په ټول هيوادکې په ټاکنيزوسياليو د۶۰ولايتى کتونکوله خواپه ټول وخت کې څارنه وکړه اودهيواد ۳۴ ولايتونه يې ترپوښښ لاندى راوستل. دغوکتونکودامنيتى حالاتواودټاکنيزوسرغړونوپه باب په هره اونۍ کې رپوټونه وړاندى کول اودغه معلومات يې دټاکنيزوشکايتونودولايتى دفترونو اودټاکنودخپلواک کميسيون دولايتى دفترونوڅخه دليدنو اودنوماندانو، کمپاين کوونکواوراى ورکوونکوسره دمرکو اوپرخلاصومنبعودڅارنى له لارى لاس ته راوړل.هغوى دټاکنيزوسرغړونو، دنوماندانو،کمپاين کوونکواوددولت کارکوونکوله خوادعامه زيرموڅخه دناوړه ګټه اخيستنى، دامنيت دحالت اوپه ټاکنوپورى داړوندوکسانوپه خلاف دګواښونوپه هکله رپوټونه ورکول.

ناامنى نه يواځې دنوماندانووړتياوى تراغيزى لاندى راوستى اوهغوى ونه شوکولاى چې په ښکاره توګه اوله ترور څخه دوېرى پرته سيالى وکړي، بلکې ناامنى په زياتو ناامنوولايتونوکې دمعلوماتوپه راټولونه کې دفيفاپه کتونکواغېزه وکړه. که څه هم دفيفاولايتى همغږى کوونکي دټاکنيزوسياليوپه بهيرکې په ټولوولايتونوکې حاضروو، خوهغه فاصله چې دوى دولايتونو نه دولايتونوشاواوخواته پرى تللاى شول، دولايت له حيثه په ټاکنودفيفادڅارنى دپراوپه بهيرکې ډول ډول وه.

دټاکنيزوسياليوپربهيردفيفا ترټولوپراخه څارنه دټاکنيزوسياليودمنځنيو اونيوپه بهيرکې دجولاى دمياشتى د ۱۵(دسرطان۲۴)نيټى څخه داګست دمياشتى تر۲۵(دسنبلى۳) نيټى پورى ترسره شوه. دجولاى دمياشتى په۱۵(دسرطان۲۴)، ټاکنيزى سيالى په ټولوولايتونوکې دهغى ولايتونوپه شمول چې دناامنيوله کبله پکې دغه سيالى دريدلى وي، روانى وي. دهمدى کبله، فيفا تصميم ونيوترڅودټاکنيزوسياليو رپوټ ورکونه په دوه برخو(- دټاکنيزوسياليوپيل –اوددغوسياليومنځ)باندى وويشى.

#### مثبت بدلونونه(تحولات)

که څه هم ټاکنيزى سيالى له ننګونو اوناسمو کړنوڅخه ډکې وى، خوسره له دى هم دغه ټاکنى په عمومى ټاکنواودافغانستان په ملى سياست کې د يولړجوړونکو پرمختګونوښکارندوى دي.

کـه څـه هـم دنوماندانونوملړدزياتونواقصوسره مل وو، خوبيـاهم يوټـول شموله نـوملړوو. پـه دى نـوملړکې دولسـي جرګـــي دڅوکېودترلاســـه کولولپـــاره دټـــولنى ټـــول قشـــرونه نارينـــه اوښـــځې چـــې دبيلابيلوعقيـــدو، قومونـــو، سيمواوټولنوڅخه يې استازيتوب کاوه، شامل شوى وو.

دغه راز، دټاکنيزوسياليو تاکتيکونه بيلابيل ووبـه اوزيـاتو نوماندانودراى ورکوونکوپـه منځ کې دنفوذکولوپـه موخه دنويولاروچاروڅخه کاراخيست. داچاره دځوانونوماندانوپـه اړه سمون لرى.دځوانونوماندانوشميردپنځوکالومخکې

ټاکنوپه پرتله زیات وو اوهغوی دنویو لاروچاروڅخه په ګټې اخیستنې سره لکه دموبایل دتکنالوژی ،رضاکاره محصلینو اودسیمه ییزوخلکودلاری درای ورکوونکوسره اړیکې ټینګی کړي.

ملی رسنۍ دا وار په مسلکي اوفعاله بڼه دعمل ډګرته راوتلی وی،دا چاره دټاکنودپړاوونوپه اړه درای ورکوونکودښوونی سبب شوه اودعمومی مناظروجوړولوته اوپه هیوادنی مسایلو کې د وړ دریز نیولوته یې نوماندان وهڅول.

دټولټاکنوخپلواک کمیسیون هم دټاکنیزوسیالیوپه پړاوکې له ځانه مثبت بدلونونه وښودل. ددی کمیسیون مرکزی کارکوونکودپخواپه پرتله ښی زده کړی لیدلی وی. ددی کمیسیون غړودمدنی ټولنی له سازمانونوسره لازیاتی اړیکې ټینګی کړی. دغه راز دټولټاکنودخپلواک کمیسیون دمرکزی دفتراوولایتی دفترونوترمنځ اړیکې د تیرو کلونوپه پرتله ښه شوی وی.

**دټاکنیزوسیالیو دپیل پړاو**

دافغانستان د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دولسي جرګي دټاکنودسیالیو دوره دجون دمیاشتی په ۲۳(دسرطان۲)نیټه په رسمي ډول شروع شوه، خو زیاتره ټاکنیزی سیالۍ وروسته پیل شوی. دفیفا اوږدمهاله کتونکوپه مستقیمه توګه دهیواد دټولوولایتونوپه مرکزونوکې اوپه نامستقیمه توګه په ولسوالیوکې درضاکاره کتونکوله لاری دټاکنیزو سیالیو دپیل کتنه وکړه.

**دټاکنیزوسیالیودپیل پرمهال امنیتی چاپیریال**

هغه ناامنۍ چې دټاکنودبهیرپه تیرو پړاوونوکې یې په اړه رپوټونه ورکړل شوی وودټاکنیزوسیالیوپه لمړنیو اونیو کې دهیوادپه سهیلی، سهیل ختیځو، لویدیزو اوځینو شمالی سیمو کې لاپسی سختی شوی اوناامنیوپکې زورواخیست. دیاغیانوګواښونوپه دی سیموکې دټاکنیزوسیالیو بهیر وځنډاوه، مختل یې کړ اوویې دراوه.اودټاکنوپه بهیرپوری اړوندکسان په مستقیمه توګه په پراخ اوسیستماتیک ډول د تاوتریخوالی اوډارونی ښه وګرځیدل.

دیاغیانو له بریدونوڅخه ویری زیات نوماندان دی ته اړکړل ترڅودخپلوټاکنیزوسیالیولاروچاروته بدلون ورکړي اودغړاوغوړپرته دغه سیالۍ پرمخ بوزی ترڅودلویې نښی په توګه دښکاره کېدودخطرمخه ونیسی. په کونړکې هغه نوماندان چې دفیفا کتونکوورسره مرکې وکړی، وویل چې طالبانوداسی ګواښ کړی که چیږی هرنوماننددخپلی ولسوالۍ څخه دټاکنیزی سیالۍ لپاره بهرته ووزي، نو وبه وژل شي. په پکتیا اوکندهارکې کتونکورپوټ ورکړچې امنیتی حالات دومره خراب اوپیچلی ووچې نوماندانواصلا دی ته زړه نه ښه کاوه چې په ښکاره توګه په دی ولایتونوکې دغه ټاکنیزه سیالۍ پرمخ بوزي. په فراه کې، نوماندانوتصمیم ونیو چې دعاموخلکوپه منځ کې دټاکنیزو سیالیوپرځای له قبیلوی مشرانوسره غونډی ترسره کړي.

په میدان وردګو او ارزګان کې هم د ورته حالاتوخبرورکړشوچې په هغه کې ټاکنیزه مبارزه درای ورکوونکوسره داړیکوله لاری شروع شوه اوقومی مشرانواوولایتی چارواکوښځینه نوماندانوته وویل چې په ښکاره توګه دټاکنیزی سیالی څخه ډډه وکړي. یوه ښځینه نوماندة کله چې دطالبانوله خواپه مرګ وګواښل شوه، له غورڅخه کابل ته راکډه شوه اودکندزپه امام صاحب کې دوه کمپاین کوونکي دجګړه مارانوله خوا ونیول شوو اوتروهلوټکولولاندی راغلل.

په لوګرکې، دجولای(سرطان/اسد)دمیاشتی په بهیرکې ټاکنیزی سیالی د۶ تنو دمرګ سبب شوی. دفیفا کتونکوپه لوګرکې رپوټ ورکړچې دبرکي برک په ولسوالۍ کې یودکانداروروسته له هغی چې یوټاکنیزپوستریې ننداری ته وړاندی کړی وو دطالبانوله خوا په خپل دکان کې ووژل شو. له دی وژنی څخه وروسته، سیمه ییزوطالبانوشبنامی خپری کړی چې په هغوکې سیمه ییزوخلکوته دټاکنیزوپوسترونودلیری کولو اویاهم دوکاندارته دورته برخلیک سره

دهغوی دمخامخ کېدلو ګواښونه شوی وو. دکتونکوپه وینا، خلکوډېرژردغه غوښتنی رعایت کړی. هغه دوه ورونه چې دشپې له خوا په یوه کورنۍ بریدکې ووژل شوو، دهغی ۴ نوروملکي کسانوله ډلی څخه ووچې طالبانوهغه په ټاکنیزوسیالیوکې دبرخی اخیستنی له امله وژلی وو اوطالبانوپه لوګرکې دیوه نوماند ورور وتښتاوه.

شبنامی، له ګواښونوډکې تلیفونی اړیکې اودنوماندانو، کمپاین کوونکو،رای ورکوونکو اوعاموخلکوپه خلاف فردی ګواښونه هغه څه ووچې دټاکنیزوسیالیودېراو د دری لمړیو اونیو په بهیرکې دهیوادپه ۱۶ ولایتونوکې یې دفیفا دکتونکوله خوا خبر ورکړشو.

***4 جدول: دنوماندانو،کمپاین کوونکو،رای ورکوونکواوعاموخلکوپه خلاف ګواښونه چې د۲۰۱۰کال دجون د۲۳(۱۳۸۹دسرطان۲) او د۲۰۱۰دجولای د۱۵(۱۳۸۹دسرطان۲۴) ترمنځ موده کې دفیفا دکتونکو(څارونکو)له خوا رپوټ شوی دی***

| شمېره | ولایت | دګواښ ډول | سیمه/ولسوالی | موخي | پیغام | دمسوولیت مدعی اویا معلوم مرتکب |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بدخشان | له ګواښونوډکي تیلفوني اړیکي | ناڅرګنده | ځانګړی نوماند (ښځه) | له ټاکنيزی سیالۍ لاس واخلی، دتاوتریخوالی ګواښ | هیڅ |
| ۲ | بادغیس | شب نامی | بالا مرغاب، ګنج | نوماندان | دټاکنوپه بهیرکي ګډون مکوئ دتاوتریخوالی ګواښ | طالبان |
| ۳ | بغلان | له ګواښونوډکي تیلفوني اړیکي | ناڅرګند | ځانګړی نوماند (ښځه) | له ټاکنيزی سیالۍ لاس واخلی | دسیمی خلک |
| ۴ | بلخ | شب نامی | ناڅرګند | عام خلک | دټاکنوپه بهیرکي ګډون مکوئ | هیڅ |
| ۵ | فراه | شب نامی | پشت رود | قومی مشر | له دولت سره همکاری مکوئ | طالبان |
| ۶ | غزنی | شب نامی | ناهور، جاغوری، قره باغ، ملتان | نوماندان، دټاکنیزوسیالیو کارکوونکي، دټاکنیزوسیالیوملاتړی | دټاکنوپه بهیرکي ګډون مکوئ دتاوتریخوالی ګواښ | طالبان |
| ۷ | غور | ناڅرګند | ناڅرګند | ځانګړی نوماند (ښځه) | موږبه تاووژنو | طالبان |
| ۸ | غور | له ګواښونوډکي تیلفوني اړیکي | ناڅرګند | ځانګړی نوماند (ښځه) | په تاوتریخوالی ګواښل | هیڅ |
| ۹ | غور | شب نامی | ناڅرګند | ځانګړی نوماند (ښځه) | ددی نوماند پوسترونه بایدځېری شي | هیڅ |
| ۱۰ | | له ګواښونوډکي | | دوه نوماندان | له ټاکنيزی سیالۍ لاس واخلی | هیڅ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | غزنی | تیلفونی اړیکي | ناځرګند | ( ښځی) | | |
| ۱۱ | هرات | ناځرګند | ناځرګند | ځانګړی نوماند (ښځه) | له ټاکنیزی سیالۍ لاس واخلی | هیڅ |
| ۱۲ | کابل | شب نامی | سروبی | عام خلک | دټاکنوپه بهیرکي ګډون مکوئ دتاوتریخوالی ګواښ | طالبان |
| ۱۳ | خوست | شبنامی | لکن، شیر علی، باک | نوماندان اودټاکنوکارکوونکي | دټاکنوپه بهیرکي ګډون مکوئ دتاوتریخوالی ګواښ | طالبان، حزب اسلامی |
| ۱۴ | خوست | له ګواښونو ډکي تیلفونی اړیکي | ناځرګند | کاندیدان زن | تهدید به خشونت | طالبان |
| ۱۵ | کندز | ناځرګند | ناځرګند | ځانګړی نوماند (ښځه) | له ټاکنیزی سیالۍ لاس واخلی ، دتاوتریخوالی ګواښ | طالبان |
| ۱۶ | لوګر | شبنامی | برکي برک، چرخ، خروار | موټرلرونکي | ټاکنیزپوسترونه په خپلوموټرونومه لګوئ | طالبان |
| ۱۷ | لوګر | شبنامی | برکي برک | عام خلک | که ټاکنیزپوسترونه ننداری ته وړاندی کړئ تاسووژنو | طالبان |
| ۱۸ | ننګرهار | شبنامی | چوک تلاشی، دجلال ابادښار، وامه | نارینه، عام خلک، نوماندان | خپلی رېیری مه خرڅيږ، دټاکنوپه بهیرکي ګډون مکوئ ، دتاوتریخوالی ګواښ | طالبان |
| ۱۹ | ننګرهار | کورپه کورفردی ګواښ | ډرونټه | عام خلک | که درای ورکوونکودنوملیکنی کارت موواخیست لاسونه موغوڅوو | طالبان |
| ۲۰ | پکتیکا | شبنامی | سدوزی | عام خلک | دټاکنوپه بهیرکي ګډون مکوئ | طالبان |
| ۲۱ | پروان | شبنامی | دولایت دتجارت اطاق ته څېرمه | عام خلک | دټاکنیزی سیالی په خلاف ګواښ اویادیونوماند په ګټه رای ورکونه | هیڅ |
| ۲۲ | | | | ځانګړی | له ټاکنیزی سیالۍ | |

| | پروان | شبنامی | صیادان | نوماند (ښځه) | لاس واخلی | هیڅ |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | ارزګان | شبنامی | ګولی، لبلان، لندیانی | عام خلک،ځانګړی نوماند (نارینه) | دټاکنوپه بهیرکي ګډون مکوئ ، له ټاکنیزی سیالی لاس واخلی | طالبان |

که څه هم بایدټینګاروشی چي په ټول هیوادکي دنوماندانومطلق اکثریت خپلی ټاکنیزی سیالی په سوله ییزه توګه ترسره کړی، خودیوشمیرنوماندانو ترمنځ سیالۍ او دواک د دلالانوناقانونه کړنی،لازیات امنیتی خطرونه رامنځته کړل. ددغوپیښوپه هکله چي دټاکنیزی سیالی په دریولمړیواونیوکي فیفاته رپوټ شوی نورمعلومات په لاندی ډول دی:

- په تخارکي دوه نوماندانویوبل ته دوژلوګواښ وکړ. یوبل نوماندپه تخارکي ژمنه وکړه چي هغی رای ورکوونکوته چي په قرانکریم قسم وخوری چي دټاکنوپه ورځ به له ده ملاتړکوی، ټوپک وویشی.
- په بدخشان کي یوی ښځینه نوماندی دده دیوسیال له خوا ددی دترورولو د طرحی په باب خبرورکړ
- په غورکي، دیونوماند ملاتړودیوبل سیال نوماندداټاکنیزی سیالی په مدیربریدوکړ اودسیمه ییز واک یو دلال چي ځان یي ولسي جرګي ته نوماندکړی وو، سیالو نوماندانوته ګواښونه وکړل.
- په فاریاب کي یوه ښځینه نوماندہ اودهغی کمپاین کوونکي دسیمه ییزواک ددلال له خوا وګواښل شوو. دغی نوماندی دفیفا استازی ته وویل چي دده ساتونکي دیوبل سیال نوماندساتونکوسره په ډېره تاوتریخجنه توګه ونښتل اودی ته اړ شوو ترڅوددغی ولسوالی څخه چي نوموړی ښځی پکي کمپاین کاوه، وتښتی.

نوماندانودټاکنیزی سیالی په پیل کي ناامنیو ته دیوی اندیښنی په توګه په ۱۴ ولایتونوکي اشاره وکړه — بادغیس، بلخ، فراه، غور، هلمند، قندهار، کندز، لوګر، ننګرهار، نیمروز، پکتیکا، پروان، ارزګان او زابل.

نوماندانود غور، ننګرهار، ارزګان او زابل په ولایتونوکي دملی امنیتی ځواکونودملی خدمتونوڅخه خفګان اوناهیلی څرګنده کړه. نوماندانوپه دی ولایتونوکي کتونکوته شکایت وکړچي دسیمی پولیسوددوی دامنیت په نیولوکي ددوی غوښتنوته ځواب ندی ورکړی اویایي یواځی دسیمی دامنیتی چارواکوملاتړونوماندانوته امنیتی خدمتونه وړاندی کړی دی. دمثال په ډول په ننګرهارکي، یوځواکمن اودپراخوسیاسی اړیکولرونکي نوماند دپولیسوددوه موټرو اودپولیسودمامورینوڅخه ګټه اخیستله، حال داچي پولیسونورونوماندانوته ملاتړیزخدمتونه نه وړاندی کول.

**دښځینه نوماندانودټاکنیزی سیالی دپیل ننګونی**

دفیفاکتونکو، په ټاکنوکي دګډونکوونکوښځوددارونولپاره دمنظمواوپراخوکوششونو اودښځودفزیکي امنیت په خلاف دسختو خطرونوپه باب رپوټونه د۲۰۱۰ (۱۳۸۹)کال دټاکنیزوسیالیود پړاوپه پیل کي وړاندی کړل. دټولوهغو لسوځانګړوګواښونوڅخه چي دښځوپه خلاف دټاکنودمبارزاتودلمړیودری اونیوپه بهیرکي دفیفا دکتونکوله خواراپوټ شوی، نهه ګواښونه یي د هغوښځوپه خلاف شوی چي دټاکنوپه پړاوکي دخیلی وی. په ټاکنیزوسیالیوکي دخیلوښځوله ګواښونوډکي تلیفونی اړیکي ترلاسه کړی، دژبنیوګواښونولاندی راغلی اوهغوی ته په شبناموکي داسی ګواښونه شوی ووچي یاخودی دټاکنیزوسیالیونه لاس واخلی اوکه نه نوترووربه شي.

دغه ګواښونه دځوسرچېنوڅخه سراخلي، طالبانوياخوددی ګواښونوکولو يو پر درييمه برخه چې دټاکنيزوسياليوپه لمړيودريوو اونيوکې دښځوپه خلاف شوی په غاړه واخيستله اويا د داډول کارونوګمان پری کېده. ګواښل شويوکسانواوکتونکو دګواښونونورموردونه دسيمه ييز واک ددلالانو، سيالونوماندانواودښځودګډون مخالفوخلکوپه غاړه واچول. دډاراچونی نورچالونه اوتاکتيکونه عبارت وولـه :په ښکاره توګه په بادغيس اوهرات کې دنارينه وو اوهلکانوله خوا دښځينه نوماندانو لورته دتيګوويشتل اودډاراچونی يوبل ډيرخراب اوشوم ډول په څوولايتونوکې دښځينه نوماندانودپوسترونوخرابول اوياڅيری کول وو.

نه يوائې خطرونو، په ټاکنيزه مبارزه کې دښځينه نوماندانوورتياوی محدودی کړی، بلکې په ټولنيزژوندکې ښځوته په توپيريزه سترګوکتل اوله کورونوڅخه بهرپه چاروکې دښځودګډون محدوديت په ټاکنيزوسياليوکې دښځينه نوماندانوپروړتياوواغيزه وکړه. هغی ښځوچې دخپلو نوماندیدوپه لاره کې لمړنی خنډونه رفع کړی وو، لااوس يې هم دغونډولپاره دځايونود ريزرفولو، درای ورکوونکوسره دليدنوکتنو اوپه متوازنه توګه درسنيود راجلبولوپه چاروکې هڅی اوکوششونه کول.

#### دټاکنيزوسياليودپيل په پړاوکې ټاکنيزی سرغړونی

ددولت کارکوونکي دواليانواورييسانوپه ګډون دټاکنيزوسياليودپړاوپه دريولمړيواونيوکې د بادغيس، بلخ، دايکندی، هلمند، جوزجان، کابل، خوست، نورستان، پکتيا، پنجشير، تخار او ارزګان په ولايتونوکې دنوماندانولپاره دټاکنيزی سيالۍ په حال کې ليدل شوی دی. په ټوليزه توګه، په ټاکنيزوسياليوکې ددولت دچارواکولاسوهنه دعامه زيرمواومالونوڅخه دناوړه ګټې اخيستنی سره يوځای وه.

په بلخ کې ديوی ټاکنيزی سيالۍ په بهيرکې، دعامی روغتيا يوچارواکي دخپلی خوښی نوماندپلويانوته حشره وژونکی دوايي وويشله. په جوزجان کې، دمعارف وزارت يوچاواکي اجازه ورکړه ترڅوله دفترڅخه يې دټاکنيزومحفلونودجوړيدودمکان په توګه کار واخيستل شی. يونوماندپه هرات کې دکرهنی دوزارت غلي دانۍ داخلی بی ځايه شويو کسانوته دهغوی درايودپيرودلوپه مقصد، وويشلی. په نيمروزکې نوماندانوپه خپلوټاکنيزوسفرونوکې دولايت دمقام له موټروڅخه کارواخيست.

له مالونو، تعميرونواوعاموزيرموڅخه ناوړه ګټه اخيستنه په زياته پيمانه دهغونوماندانوپه منځ کې رواج وه چې پخوايې په لوړپوړو رسمی څوکيوکارکړی وو اويايې له دولتی مقاماتوسره دخپلوۍ اړيکې لرلی. په معموله توګه سرغړونی په ټاکنيزوسفرونوکې له دولتی موټرونوڅخه کاراخيستنه، ددولت دکارکوونکوګمارل اودټاکنيزوسياليوپه فعاليتونوکې له دولتی دفترونواوتوکوڅخه دګټې اخيستنی، څخه عبارت وي.

دقانونی ممنوعيتونوسره سره ټاکنيزی سيالۍ په مسجدونواومکتبونوکې ترسره شوی. کتونکورپوټونه ورکړل چې نوماندانودټاکنيزی سيالۍ اودخپلوپلويانودغونډوپه مقصد د بلخ، دايکندی، فارياب، غزنی، غور، کابل او کاپيسا په ولايتونوکې له مسجدونواومکتبونوڅخه ګټه واخيسته. په ټاکنيزوسياليوکې له عامو مکتبونوڅخه دګټې اخيستنی په موردونوکې ددی مکتبونوښوونکي اومديران يادنوماندانوخپلوان وو اوياهم خپله په ټاکنوکې نوماندان وو. په يوخاص اوجدی موردکې چې دفيفاکتونکودهغی په اړه په تخارکې رپوټ ورکړ، دمکتب يومديرله خپلوکارکوونکواوزده کوونکوڅخه غوښتنه وکړه ترڅوپه ټاکنوکې ده ته رايه ورکړي اودرای ورکونی کارتونه يې دقانونی عمرڅخه ښکته زده کوونکوته وويشل.

دوسله والوځواکونودمنسوبينولاسوهنه يوه بله ستونزه وه. په غورکې، امنيتی ځواکونودټاکنيزی سيالۍ په هغه محفلونو کې چې ديوه بدنامه دواک دلال له خوا جوړشوي وو، ګډون وکړ.کتونکوپه جوزجان، کابل، پکتيا، سمنګان او تخارکې رپوټونه ورکړل چې دامنيتی ځواکونومنسوبين له يونيفورم سره دټاکنيزوسياليوپه محفلونوکې

برخه اخلی اودسیمي دپولیسوقوماندانانوددی سیموله اوسیدونکو څخه وغوښتل چې له خاصونوماندانوڅخه ملاتړوکړي.

**دټاکنیزوسیالیوپه منځني پړاوکې داراچونه اوتاوتریخوالی**

دطالبانوویاندذبیح الله مجاهد د۲۰۱۰کال داګست په ۴(۱۳ اسد ۱۳۸۹) نیټه له رسنیوسره خبری وکړی.[18] څرنګه چې وړاندوینه کېدله، دټاکنوپه بهیرکې دشاملوملکي کسانوپه خلاف ډارونی اوتاوتریخوالی دټاکنیزی سیالی ددوبنیو(اوړي)په میاشتواودسپتمبردمیاشتی د۱۸(دسنبلی۲۷)نیټی دټاکنودترسره کېدلولپاره په چمتووالی(امادګیو) خپل سیوری وغوړاوه. دجولای د ۱۵(سرطان ۲۴) اوداګست ۲۵(دسنبلی ۳)نیټوترمنځ موده کې دفیفاکتونکودټاکنوپه بهیرکې دډاروونکوعملونوپه شمول دناامنیوپه باب رپوټونه وړاندی کړل.

دهېوادپه ډیروبرخوکې، دنوماندانواستازی، دټاکنوکارکوونکي اورای ورکوونکي دطالبانواوپه هغوپوری داړونده ډلوله خوادډاراچونی سره مخ شوو. دجولای د ۱۵(سرطان ۲۴) اوداګست ۲۵(دسنبلی ۳)نیټوترمنځ موده کې، دفیفاکتونکودډاراچونی د۱۹۶ موردونو پېښو په باب رپوټونه ورکړل. له دی جملی څخه، په یوسلواته ویشتو(۶۵%)موردونوکې نوماندان اوکمپاین کوونکي په نښه شوو، په۴۷ موردونوکې(۲۴%) رای ورکوونکي اوعام خلک په نښه شوو، په ۱۱ موردونوکې(۶%) دټاکنوکارکوونکي اودولت کارکوونکي په نښه شوو اوپه ۱۰ موردونوکې(۵%) کتونکي په نښه شوو.

دډاراچونی تاکتیکونودموخوله پلوه توپیردرلود. نوماندان په ځانګړی توګه ښځینه نوماندانی دتلیفوني اړیکوله لاری وګواښل شوی، په داسی حال کې چې دعاموخلکواودټاکنود کارکوونکو دډارونی لپاره شبنامی غوره شوی وي.

طالبان اونوری یاغی ډلی دډارونی اوتاوتریخوالی فعاله ترسره کوونکي وو. هغه ولایتونه چې دورځ تربلی زیاتیدونکي ناامنۍ شاهدان وو، هغوی دټاکنوپه بهیرکې دعمومی ګډون دځپلو اودټاکنوپه بهیرکې ددخیلوملکي کسانودګواښلولپاره په نه ستړی کېدونکي توګه کاروکړ. دلوګرخوولسوالۍ دطالبانوله شبناموڅخه ډکې شوی چې په هغوکې دولسوالۍ اوسیدونکوته په ټاکنوکې دنه ګډون ګواښونه شوی وو. دغه شبنامی به معمولا دکمپاین کوونکواودټاکنیزوسیالیودملاتړود وژنوڅخه وروسته دعاموخلکوپه منځ کې خپریدی.

په غزنی کې، رپوټ ورکړشوچې دطالبانوپه لاسلیک هغه شبنامی چې په هغوکې رای ورکوونکوته درنګ شویو ګوتودغوڅولو ګواښ شوی وو ، په څه ناڅه ۷ ولسوالیوکې خپری شوی دی. یوائې د جولای (سرطان/اسد ۱۳۸۹) دمیاشتی په دری لمړیواونیوکې، دغزنی په ۵ ولسوالیوکې شبنامی خپری شوی.

ننکرهارچې یووخت دافغانستان دامن لرونکوولایتونوڅخه شمیرل کېده، دټاکنیزوسیالیودمنځنیو اونیوپه بهیرکې دطالبانودفعالیتونودزیاتوالی شاهدوو. دجلال اباددښاردناحیوپه ګډون په څوکلیوالواوښاری ولسوالیوکې دشبناموخپریدورپوټونه ورکړل شووچې په هغوکې نوماندان اوکمپان کوونکي په وژنه ګواښل شوی وو، دوکاندرانوته ویل شوی ووچې ټاکنیزتوکي په خپلودوکانونوکې ننداری ته وړاندی نکړي اوعاموخلکوته خبرداری ورکړشوی وو چې په ټاکنوکې ګډون ونکړي. ټاکنیزی سیالۍ په کلیوالوسیموکې پرټاکنیزوکاروانونودطالبانودبریدونودګواښونوله امله دلازیاتوننګونوسره مخ شوي وي.

دواک دلالانوچې ځانونه دولسي جرګي څوکېوته نوماندکړی وو اویایې له خاصونوماندانوڅخه ملاتړکاوه، هم په ډاراچوونکوعملونولاس پوری کړ. هغوی په خپلوولسوالیوکې دنورو نوماندانودټاکنیزوسیالیودمخنیوۍ لپاره

---

[18] «انتخابات افغانستان تحت شعاع تهدیدات طالبان»، لین اودانل (Lynne O'Donnell)، خبرګزاری فرانسه، ۴ سپتمبر ۲۰۱۰ (۱۳ سنبله ۱۳۸۹):http://www.google.com/hostednews/afp/article/ALeqM5hCTk4qFHvpaqNQksGrdE6tY92y4w.

خپلوملاتړواوساتونکوته امروکړترڅوددوی دسیالونوماندانوکمپاین کوونکي وډاروی، ویې وهی اوویې ټکوی، له ګواښونوډک لیکونه هغوی ته ولیږی اوشخصا سیالو نوماندانوته لفظی ګواښونه وکړي.

په غورکې دوه بدنامه دواک دلالان چې دواړه دناقانونه ډلوقوماندانۍ کوی، له خاصونوماندانوڅخه ملاتړوکړ، نورنوماندان یې په فزیکي توګه وګواښل اورای ورکوونکوته یې دسیالو نوماندانولاسرسی محدودکړ. په فراه کې، دواک یودلال دیوی ولسوالۍ اوسیدونکوته چې دده په کنترول کې وه خبرداری ورکړچې وسله وال کسان به ددغی ولسوالۍ اودولایت دمرکزترمنځ لاره کې په هغوموټروبرید وکړي کوم چې ددی موټروخاوندان دده دخوښی وړنوماندته رایه ورنکړي.

حتی دکابل په ولایت کې، دواک دلالان چې په پارلمان کې دڅوکېودترلاسه کولویادهغودساتلوپه په لټه کې وو، سیال نوماندان وډارول. یوپخوانۍ پیژندل شوی قوماندان چې دولسي جرګي برحاله غړی دی، دپغمان په ولسوالۍ کې یې د تلیفوني اړیکوله لاری په ګواښونوسره دخپلوسیالو نوماندانودټاکنیزوسیالیوڅخه مخنیوی وکړ. په یوځانګړی موردکې چې دفیفا کتونکوته خبرورکړشو، په پغمان کې دواک ددغه دلال وسله والوکسانو دګواښ دنښی په توګه مرمۍ فیرکړي ترڅودسیالونوماندانورضاکاران په وحشت کې واچوی. یوبل پخوانۍ قوماندان دټاکنیزی سیالۍ پرمهال دخپلووسله والوپلویانوله لاري هغه نورسیال نوماندان چې په دی هڅه کې وو ترڅودخپلورای ورکوونکوسره دکابل په دی ولسوالۍ کې لیدني کتني وکړي، وډارول.

دټاکنیزوسیالیودمنځنی پړاوپه بهیرکې دټاکنودبهیرداخلال اوپه ټپه د دریدنی لپاره په ټول هیوادکې له تاوتریخوالی اوډاراچوني څخه کاراخیستل شو. دفیفاکتونکودټاکنوپه اړه دتاوتریخوالی د ۴۹ پېښوپه باب رپوټونه ورکړل چې په هغی کې نوماندان یاکمپاین کوونکي په نښه شوی وو اوپه ۱۲ تاوتریخجنوپېښوکې رای ورکوونکې اوعام خلک په نښه شوی وو. دټاکنوپه اړه دتاوتریخوالی دزیاتو پېښومسوول یاغیان دی اوله هغوی وروسته دواک دلالان په دی لیکه کې راځی.

هغه ولایتونه چې دسختی اودوامداره ډاراچونی شاهدان وو، په دغه شان په ټاکنوکې ددخیلوملکي کسانوپه خلاف دسخت تاوتریخوالی شاهدان هم وو. دلوګرولایت ډېره یوه وېرونکي بیلګه ده. په دی ولایت کې، طالبانو ۶ تنه دټاکنیزوسیالیودپړاوپه بهیرکې ووژل چې څلورتنه یې کمپاین کوونکي وو. دغه رازیاغیانودیو نوماندکورته اور واچاوه، دټاکنیزوسیالیودوه تنکی ځوانان یې چې رضاکاران وو وتښتول اوتروهلوټکولولاندی یې راوستل اودیو نوماند کاکا/ماما یې اختطاف کړ.

د اګست (اسد/سنبله)دمیاشتی په لمړیوکې په لوګرکې دیوی ښځینه نوماندی اړونددیوکمپاین کوونکي دوژني څخه وروسته، طالبانودشبنامو په ویشلولاس پوری کړچې په هغوکې دسیمی اوسیدونکوته په ټاکنیزوسیالیوکې ددخیلوکسانودوژنی په باب خبرداری ورکړشوی وو. نجیب الله ګلستانی له غزنی څخه یونوماند، په اونیواونیودطالبانودګواښ لاندی راغی ترهغی چې وتښتول شواود اګست (اسد/سنبله)دمیاشتی په لمړیوکې تری سرپری شو اودعاموخلکوپه خلاف دګلستانی تروژنی وروسته ګواښونو دوام وکړ.

کمپاین کوونکوداوړی(دوبی)دمیاشتوپه بهیرکې دټاکنوپه اړه تاوتریخوالي وزغمل. یاغیانوپه زیاتو پېښوکې هغوی په مستقیمه توګه په نښه کړل اودنوماندانوپه خلاف بریدونه دکمپاین کوونکودټپی کېدوسبب شوو اودغه ډول پیښه په خوست کې هغه وخت وشوه کله چې دیونوماند سیدالله سید په ټاکنیزه غونډه کې چاودنه وشوه اوسیدالله سید ووژل شواودهغه دکمپاین کوونکوپه ګډون کم ترکمه ۲۰تنه ملکي وګړی پکې ټپیان شوو.

دټاکنیزی سیالۍ دپړاوپه بهیرکې دتاوتریخوالی ترټولومرګونی پېښه، هغه بریدووچې دهرات له ولایت څخه دیوی نوماندی فوزیه ګیلانی دټاکنیزی سیالۍ د ټیم په وړاندی وشوچې په هغی کې پنځه تنه ځوان رضاکارکمپاین کوونکې ووژل شوو. دغه راز دنوماندانوکمپاین کوونکي په فاریاب، تخار او لوګرکې هم ووژل شوو.

دځمکي دلاری مسافرت دنوماندانواوکمپاین کوونکولپاره له خطرونوډک وو. دفیفاکتونکودهغو پېښوپه باب رپوټونه ورکړل چې په هغې کې درای ورکوونکودلیدني لپاره دځمکي دلاری په مسافرت کې، دټاکنیزوسیالیودټیمونولورته مرمۍ فیر شوی ، هغوی وتښتول شوو، په ناقانونه توګه ونیول شوو اوتر وهلوټکولولاندی راغلل. دهیوادپه شمال اولویدیزکې، دواک دلالانو اویاغیانو ناقانونه امنیتی پوستی رامنځته کړلی اوپلویانوته دسیالونوماندانودنه رسیدوپه مقصدیې پرټاکنیزولیږدیدونکوواسطوبریدونه وکړل.

هغه تاوتریخجن بریدونه چې یاغیانویې مسوولیت په غاړه وانه خیست، په اغلب ګمان دنوماندانوترمنځ په سیالیوپوری په خاصه توګه دواک دلالو نوماندانوپوری وتړل شوو. په یوه پیښه کې چې کتونکوهغه دلغمان په ولایت کې رپوټ کړه، ددوه سیالونوماندانودوسله والوملاتړوترمنځ نښتی دپولیسومداخله اړینه اولازمه کړه.

که څه هم دفیفاکتونکود(جولای ۱۵ - اګست ۲۵ (۱۳۸۹سرطان ۲۴ - سنبله ۳))نیټی دټاکنیزوسیالیودپړاوپه منځنی بهیرکې دټاکنودکارکوونکوپه خلاف دتاوتریخوالی په باب رپوټونه ورنه کړل، خودټاکنودخپلواک کمیسیون دکارکوونکوپه خلاف ۴ سخت بریدونه دسپتمبردمیاشتی(سنبله/میزان)په لمړیودری اونیوکې ترسره شوو. په یوه پیښه کې چې په پراخه توګه دسپتمبردمیاشتی(سنبله/میزان)په لمړیودری اونیوکې په رسنیوکې نشرشوه،طالبانو دټاکنودخپلواک کمیسیون ۲۸ کارکوونکې په بغلان کې اختطاف کړل. دټاکنوکارکوونکې وروسته له ډېروشکنجو اوله دولت سره دنه کارکولودضمانت لیکونوپه لاسلیکولوسره له بنده خوشی شوو. دوه اونۍ وروسته، طالبانوپه بلخ کې دټاکنودخپلواک کمیسیون دوه کارکوونکې وتښتول اوویې وژل.

**دټاکنیزوسیالیودپړاوپه منځنی بهیرکې دښځودټاکنیزی سیالۍ ننګونی**

دټاکنیزوسیالیوپاتی پړاو دښځینه نوماندانولپاره ددی پړاودپیل په څېرله ننګونوډک وو، ځکه په هیوادکې دهغې ښځولپاره چې ځانونه سیاسی مقامونوته نوماندوی دټولنیزو، اقتصادی اوسیاسی ستونزوبرسیره ناامنی یوه بله ستونزه ده،چې ددوی دلاری خنډوګرځیده. که څه هم په کابل اودګوتوپه شمیرنوروښارونوکې دښځوټاکنیزی سیالۍ د اوړی(دوبی)په وروستیوکې بیداره، بی شمیره اوځلانده وې، خوښځی دهیوادپه جنوب اوجنوب شرق په جګړه ځپلو اودشمال په ناامنوسیموکې په سختې وتوانیدی چې خپلی ټاکنیزی سیالی پرمخ بوزي. هغه محدودی ټاکنیزی سیالی چې ښځوپه دی سیموکې په لار واچولی، اکثراخصوصی وی اودسیمی دمشرانو، دقوم دمشرانو، اودرای ورکوونکودکوچنیوډلوسره په کورونوکې دمجلسونوپه بڼه وې.

په عمومی ژوندکې دښځودګډون مخالفینودټاکنیزوسیالیودپړاوپه بهیرکې دښځوځورونو اوګواښلوته په ټول هیوادکې دوام ورکړ. ښځینه نوماندانواودټاکنیزوسیالیوښځینه کارکوونکوپه پراخه توګه څرګندونی وکړی چې هغوی بی نومه اودګواښونوڅخه ډکې تلیفونی اړیکې اوپیغامونه غالبا دشپی په ناوخته کې ترلاسه کړل. دښځینه نوماندانونارینه ملاتړی هم وګواښل شوو اوطالبانودیوی نوماندی مېړه په هلمندکې ووژه. په کونړکې، دطالبانوراډیویې خپرونوپه ټاکنوکې دښځودبرخی اخیستنی سره ددی یاغی ډلی په مخالفت ټینګاروکړاوپه غورکې یونوماندددطالبانود ګواښ څخه وروسته دی ته مجبورشوچې په سیمه کې خپله ټاکنیزه مبارزه په ټپه ودروی اوکابل ته راکډه شي.

که څه هم ښځی دټولونوماندانودیوپرڅلورمی برخی څخه هم کمی وی اودخپلونارینه سیالانوپه پرتله دټاکنیزوسیالیوامنیت ته اندیښمنی وی، خودهغو ۱۱کمپاین کوونکوڅخه چې ددی پړاوپه ترڅ کې ووژل شوو، ۶ تنویې دښځینه نوماندانوپه ټاکنیزوسیالیوکې کار کاوه. ددی وژل شویوکسانوپنځوتنوفوزیه ګیلانی ته اویوتن یې دهرات یونوماندته کارکاوه. دګیلانی لس تنه کارکوونکې دطالبانوترکنترول لاندی یوی لیری پرتی ولسوالۍ ته دسفرپه مهال وتښتول شوو. کوم وخت چې ګیلانی دسړی تښتوونکوغوښتنوته اودټاکنیزوسیالیودرولوته غاړه کېـــنښوده، ۵ تنه کارکوونکې خوشی شوو او۵ تنه نورپه ډزوسره ووژل شوو. طالبانوپه لمړي سرکې په دی

پینه کې دلاس لرلوځخه انکاروکړ، خوبیاوروسته یې ددی وژنومسوولیت په غاړه واخیست. دهرات امنیتي چارواکې په دی باوردی چې دغه وژنې دګیلانې دیوتن سیالانوله خوا شوی دي.

کرکي اچونې اوافترا، دښځینه نوماندانولپاره زیاتی ستونزی رامنځته کړی. دینې اوسیمه ییزومشرانواوناړینه نوماندانوپه ښکاره توګه ښځینه نوماندانې ترنیوکولاندی راوستی ترڅو دښځینه نوماندانوټاکنیزی سیالی محدودی کړی اوپه ټاکنوکې دهغوی دبریالیتوب موکې راټیټی کړي. دفیفاکتونکویواځی دبدخشان په ولایت کې دروحانیونوله خوادښځوپه خلاف د ۹ موردو ښکاره تورونوپه باب رپوټونه ورکړل چې په هغوکې ښځی په فحشا اوارتداد باندی تورنی شوی وی هغه تورونه چې کېدای شی په افغانستان کې دښځوپه خلاف دسختوفزیکي خطرونوسبب شي اودغه روحانیونوله خپلوتولنوځخه وغوښتل ترڅویواځی نارینه ووته رایي ورکړي. نوماندانوددارنګه پېښوپه باب په بادغیس، کونړ اوتخارکې هم خبرورکړ. هغه نوماندان چې په نښه شوی وو، کتونکوته وویل چې هغوی په دی باوردی چې ملایانوددوی په سیموکې دنارینه نوماندانوځخه پیسی اخیستی وی ترڅو رای ورکوونکي دښځینه سیاستوالوپه ضد راوپاروی. دښځینه نوماندانوپه خلاف دتهمتونودډک لیکونه د فاریاب، تخار او سرپل په ولایتونوکي وویشل شوو اوباورپه دې دی چې دغه کاربه دهغوسیالونوماندانووی چې غوښتل یې ترڅودښځوپه وړاندی دتوپیریزچال چلندځخه دخپلوسیاسی موخو دترسره کولولپاره کاراخلی.

دټاکنیزوسیالیوپه پړاوکي دښځینه نوماندانوپه خلاف دکرکي اچونې په مقابل کې کمزوری رسمی غبرګونونو، دتیری مودی خطرونه بیارامنځته کړل. دګوتوپه شمیرهغه نارینه نوماندان چې ښځینه نوماندانې یې په دینې سرغړونوتورنی کړی وی، دټاکنیزوشکایتونودکمیسیون له خوادکوچنیوجریموپه ورکولوسره مجازات شوواودټاکنودرسنیوکمیسیون چې د ټاکنوپه پوښښ کې یې د انصاف دتامینولواودمقرراتودرعایتولواوپه هغې یې دڅارنی مسوولیت په غاړه درلوده، دښځینه نوماندانوپه خلاف دخطرناکوتبلیغاتوپه مقابله کې پاتی راغی.

په ټاکنوکې دښځوپه خلاف دداراچونې مواردوته دپولیسوځواب په ټولیزه توګه په برابرډول کمزوری وو. زیاتي ښځینه نوماندانې په دی باوروی چې امنیتي ځواکونه ددوی ترمنځ توپیرکوی اوله دی کبله، دوی چې کله له پولیسوځخه دامنیت دساتلو غوښتنه کوله، ځانونه به یې په ډاډمنه توګه هوسا نه بلل اوهغه نوماندانوچې له پولیسوځخه ددوی اوددوی دتیمونودامنیت دساتنی لپاره غوښتنه وکړه، امنیتي ځواکونوپه ډېره بې علاقه ګۍ له دوی ځخه ساتنه وکړه. یوشمېرښځینه نوماندانودبشری حقونوکتونکواوڅارونکوته وویل چې دامنیت دساتنی په برخه کې دهغوی غوښتنې دګواښونوسره سره دپولیسوله خوا په پرله پسې ډول رد شوی.[19]

**دټاکنیزوسیالیودپړاوپه منځنی بهیرکي ټاکنیزی سرغړونی**

دفیفا کتونکودټاکنیزوسیالیودپړاوپه بهیرکي دټاکنیزوسرغړونوړپوټونه ورکړل. دجولای دمیاشتي دنیمایي(سرطان/اسد)ځخه داګست(اسد/سنبلی) دمیاشتي ترپایه پوری، کتونکود۵۸۳ ټاکنیزوسرغړونوپه باب رپوټونه ورکړل: ۳۱۰ رپوټونه له نوماندانوځخه ددولتي لوړپوړو چارواکوناقونه ملاتړ، ۱۸۲ رپوټونه په ټاکنیزوسیالیوکي دعاموزیرموځخه دنوماندانوناقانونه ګټه اخیستنه او۹۱ رپوټونه په ټاکنیزوسیالیوکي له یونیفورم سره دامنیتي ځواکونوبرخه اخیستنه.

هغه ولایتونه چې له نوماندانوځخه په ناقانونه توګه دلوړپوړچارواکودملاتړله پلوه یې دټولوپه سرکې ځای درلود عبارت وو له: بغلان (۳۳ رپوټونه)، هلمند (۲۷ رپوټونه)، بدخشان (۲۴ رپوټونه)، غزنی (۲۳ رپوټونه) او تخار (۲۰ رپوټونه). له عاموزیرموځخه دناوړه ګټې اخیستنې په اړه په لوړه کچه تراغیزی لاندی ولایتونه عبارت وو له: هلمند (۲۴ رپوټونه)، ننګرهار (۲۰ رپوټونه)، غزنی (۱۴ رپوټونه)، کابل (۱۱ رپوټونه) او لغمان (۱۰رپوټونه).

---

[19] همچنین نگاه کنید به اعلامیه مطبوعاتی سازمان دیدبان حقوق بشر مورخ ۸ سپتمبر ۲۰۱۰ (۱۷ سنبله ۱۳۸۹)، «افغانستان: خشونت کنترول نشده انتخابات را تهدید می کند»، http://www.hrw.org/en/news/۲۰۱۰/09/09/Afghanistan-unchecked-violence-threatens-election.

ددغی سرغړونولمړني باب دسرغړونوکولو دوهم باب ته لاره پرانیستله، څکه چارواکودسیمودمکتبونو له مدیرانونیولی بیاترولسوالانواووالیانوپوری د څانګړونوماندانوپه ګټه ټاکنیزی سیالی کولی اوعامه زیرموته ددغه نوماندانودلاسرسی او په دی کارکي دلاس لاندی کارکوونکو په اړایستلوکي دخپلومقامونوڅخه ناوړه ګټه اخیسته. دفیفاکتونکوپه ټاکنیزوسفرونوکي له دولتی موټرونوڅخه دنوماندانودګټی اخیستنی اودټاکنیزوسیالیودمحفلونودجوړولولپاره له دولتی جایدادونوڅخه دنوماندانودګټی اخیستنی په باب خبرورکړ.

دکتونکودرپوټونوپه بنا، په ټاکنیزوسیالیوکي دامنیتی څواکونودناقانونه لاسوهنی له پلوه ترټولوبد ولایتونه عبارت ووله: هلمند (۱۴ رپوټونه)، بغلان او کابل (هر یو ۸ رپوټونه)، غزنی (۷ رپوټونه)، زابل (۶ رپوټونه) او بدخشان، لغمان او تخار (هر یو ۵ رپوټونه). په دی ولایتونوکي، دفیفا کتونکورپوټونه ورکړل چې دپولیسوقوماندانان په ښکاره ډول له څانګړو نوماندانوڅخه ملاتړکوی اومامورینوته دنده سپاری ترڅوددغه نوماندانوڅخه ساتنه وکړي، حال داچې دنورونوماندانولپاره دساتنی دارنګه خدمتونه نه ترسره کېدل. یوشمیرنوماندانوته دداډول امنیتی خدمتونوترسره کول پرنورونوماندانوپه خاصه توګه په ناامنه ولایتونوکي یورازنامنصفانه غوره والی دی.

**پنځمه برخــــــه: دټاکنوورځ اودرايو ډلبندی**

***ځــــــارنــــه***

دټاکنوپه ورځ د۲۰۱۰کال دسپتمبردمياشتی په ۱۸ (۲۷سنبله ۱۳۸۹) نيټه، دفيفا نږدی ۷۰۰۰ کتونکي(څارونکي) (۶۶۰۰ لنډمهاله کتونکي او۴۰۰ اوږدمهاله کتونکي) دهېواد د۳۴ ولايتونودرای ورکونی په۳۵۳۸ مرکزونوکي حاضروو. کتونکي درای ورکونی دمرکزونودپرانيستنی څخه لږوخت مخکي دغی مرکزونوته ورسيدل ترڅوددغی مرکزونولمړنی حالات وارزوی اودرای ورکونی اودرايودشميرنی د پړاوپه بهيرکي يي خپلوکتنوته دوام ورکړاودورځی په بهيرکي يي مفصل معلوماتی نوملړونه بشپړاوهغه يي دفيفادرپوټ ورکونی دزنځيری سيستم په اساس خپلولوړپوړوچاروکوته ورکړل.

دټاکنوله ورځی څخه په وروسته اونۍ کي، معلوماتی نوملړونه په کابل کي دفيفامرکزی دفترته ولېږدول شوو. وروسته دغه نوملړونه ديجيټال شوو او دغه راوړني اومعلومات دکاليفورنيا دسان ديه ګو پوهنتون په مرسته تجزيه او تحليل شوو. ددغومعلوماتوپه باب ګرافونه ددی رپوټ په ضمايموکي وړاندی شوی دی. درای ورکونی دمرکزونودحالاتوپه اړه نورلازيات معلومات دتليفونی اړيکوله لاری دولسواليواو ولايتونوپه کچه له همغږيکوونکوڅخه واخيستل شوو اودفيفاپه مرکزی دفترکي کارکوونکودغه معلومات په فورمونو اوکتابچوکي ثبت کړل.

***مـــوندنی***

**درای ورکونی دمرکزونوپرانیستل اوتړل کېدل**

دکتونکودرپوټونوپه بنا، دفیفا ترڅارنی لاندی ۸۵%سلنه درای ورکونی مرکزونه په خپل وخت پرانیستل شوو. یواځی په دری ولایتونو نورستان، پکتیکا او ارزګان کي دټولومرکزونو دنیمايي څخه زیات درای ورکونی مرکزونه ناوخته پرانیستل شوو. دنورستان اوپکتیکا څخه رپوټونه ورکړل شوو چي د۸۰%سلنی څخه زیات مرکزونه ناوخته پرانیستل شوو.

نږدی نیمايي(% ۴۷)سلنه رای ورکوونکي په ټول هېوادکي دمازدیګرپه ۴ بجو په لیکوکي په تمه ولاړووترڅودټاکنودخپلواک کمېسیون کارکوونکي هغوی ته اجازه ورکړی چي درای ورکونی دمرکزونودتړل کېدوڅخه وړاندی خپلی رایي وکاروي. درایوصندوقونه په ټول هیوادکي دفیفاترڅارنی لاندی درای ورکونی نږدی په ټولومرکزونو(%۹۷سلنه)کي دټاکنودخپلواک کمېسیون دکارکوونکوله خوادمرکزونوپه تړل کېدوسره قلف شوو.

**په ټاکنوکي دخلکودګډون کچه**

دافغانستان په ۳۴ ولایتونواو۳۹۸ ولسوالیوکي دامنیتی پلوه دپراخوتوپیرونوله مخی اودکتونکودتلیفونی رپوټونوپه بنا، په ټول هیوادکي دسیموله پلوه په ټاکنوکي دخلکودګډون کچي توپیردرلود. کومی سیمی چي په ټاکنوکي یي دخلکودګډون ترټولوټیټه کچه درلوده، هغه سیمی وی چي سختی اوزوروری نښتی پکي روانی وی.جنوبی اوجنوبشرقی سیمی.

دکتونکودرپوټونوپه اساس، په ټاکنوکي دخلکودګډون کچه په اداری مرکزونوکي چي په هغوکي امنیتی ځواکونه زیات وو، دکلیوپه پرتله لوړه وه چي په هغوکي یاغیانووکولای شووچي دبی دفاع خلکوپه ضد زیات بریدونه ترسره کړي اودواک دلالانووکولای شوو بی له دی چي څوک له هغوڅخه پوښتنه وکړي، رای ورکوونکي وډاروي.

پدی حال کي، دغه ګرایشونه عمومی نه وو. څوډېرناامنه ولایتونه په ټاکنوکي دخلکودګډون دلوړی کچي شاهدان وو. کتونکودغزنی ولایت دنوروناامنه ولسوالیوپه پرتله چي په ټاکنوکي دخلکودګډون کچه پکي ډېره ټیټه وه دجاغوری په ولسوالی کي په ټاکنوکي دخلکودګډون دلوړی کچي څخه رپوټ ورکړ. کتونکوپه هلمندکي هم خبرورکړچي په ټاکنوکي دخلکودګډون کچه ددی ولایت په مرکزکي له انتظارڅخه لوړه وه.

